مینه سیاست ندی، په دروغو چلېدلی نشي
دا بلـهـاري ده، بی بلهاره هیڅ کـېدلی نشي

مینه عبادت دی

(څلورمه شعري ټولګه)

محمدصفر خواریکښ

ډیجیتال جوړښت: محمد قاسم آسمایی
نشر: د راه پرچم انتشارات

د کتاب پېژندنه:

سرلیک: **مینه عبادت دی**
(څلورمه شعري ټولګه)
شاعر: **محمدصفر خواریکښ**
د نشرنېټه : ۱۴۰۵ل/۲۰۲۶ز
ډیجیټال جوړښت: **محمد قاسم آسمایی**
ډیجیټال نشر: **د راه پرچم انتشارات نومبر ۲۰۲۶ کال**

https://rahparcham۱.org/

نیولیک

د سریزې پرځای..... أ

دُعا..... ۱

د هیلو غوټۍ..... ۲

ریا..... ۳

سپین سترګې بېټونه..... ٤

باور..... ٥

نور..... ٦

تور پوښه..... ۷

جرأت جامونه..... ۸

د عقل چوټي..... ۹

اسیر..... ۱۰

عشق..... ۱۱

زړګی..... ۱۲

ډالۍ..... ۱۳

آیینه..... ۱٤

بند دیدار..... ۱٥

د عشق نور..... ۱٦

سترګې لوستل..... ۱۷

د ساقي برکت..... ۱۸

د مینې راز..... ۱۹

د زلفو تار ۲۰
توبه ماتومه خو..... ۲۱
اغیار نه پریږدم..... ۲۲
څنګ دې ووتم له یاده؟..... ۲۳
د تهمت کانې..... ۲٤
زه په تمه ته بې غمه ۲۵
خدایه! خوب مې رښتیا مه کړې..... ۲٦
زغم ۲۷
کرکه..... ۲۸
ما هم مینه کوله..... ۲۹
ته مې مینه ته مې ژوند...!..... ۳۰
پردي ملهم..... ۳۱
ویرژلې کړنګا..... ۳۲
ښکلا..... ۳۳
د اوښکو منګی..... ۳٤
سترګې..... ۳۵
آزاد باور..... ۳٦
نامرد ۳۷
سپین ویښته..... ۳۸
د انتظار لمحه ۳۹
رامېدل..... ٤۰

ځان‌خوښي ٤١
د ځان قدر ٤٢
د يار غم ٤٣
همدم ٤٤
رسوا راز ٤٥
باج ٤٦
تک راتک ٤٧
انځور ٤٨
د عشق راز ٤٩
نورپرست زړه ٥٠
ګوزاره ٥١
غزل توري ٥٢
د مينې بدل ٥٣
لکه ايمان مې يې! ٥٤
بې وفا ٥٥
ګونګې مېخانې ٥٦
اسير صنم ٥٧
د محبت پېټی ٥٨
د کونړ سيند ٥٩
څپه ٦٠
څه يمه؟ ٦١

کاني ٦٢
پټ احساس..... ٦٣
وفا ٦٤
ځان پېژندنه ٦٥
اقتدا ٦٦
انکار..... ٦٧
زما..... ٦٨
درده!..... ٦٩
پېژندل..... ٧٠
د هنداړې زړه سوی..... ٧١
درد و درمان ٧٢
د مینې کر ٧٣
تسل ٧٤
میکده..... ٧٥
لکه خالونه توري..... ٧٦
پرکال ٧٧
د وفا تله..... ٧٨
بندي هوسی..... ٧٩
نیمه خوښي ٨٠
وصال..... ٨١
یاد..... ٨٢

زلفې ۸۳
پام! ۸٤
رابطه ۸۵
پېرزو را وکړه ۸٦
سراب ۸۷
مینه ۸۸
لمدې سکروټې ۸۹
د خرابات راز ۹۰
توري شپې ۹۱
حُب الوطن ۹۲
ځان بسیا ۹۳
خورِ نظر ۹٤
د عشق ټوکر ۹۵
د عشق ژبه ۹٦
خبره داسې نه وه ۹۷
راسره پې ۹۸
مُلا او ټپه ۹۹
تنده ۱۰۰
نڅا ۱۰۱
سپرلی ۱۰۲
ازموینه ۱۰۳

له توبو، توبه ١٠٤
د جانان وایه!..... ١٠٥
بې یاره ژوند..... ١٠٦
د کعبې اجر..... ١٠٧
ماته توبه ١٠٨
د خواږه انتظار..... ١٠٩
د رواج تیارې ١١٠
د عشق کرامات..... ١١١
خواږه کتل ١١٢
خواږه ١١٣
غنم رنګ..... ١١٤
د مینې کر ١١٥
که ژوند تللی په شا...! ١١٦
د مینې څپې..... ١١٧
مچکه..... ١١٨
د یار څنګ..... ١١٩
د صنم سترګې ١٢٠
روږدی ١٢١
جانان ته ١٢٢
عشق ١٢٣
ښکلي وختونه ١٢٤

مئين ١٢٥
خوښه ١٢٦
زړه ١٢٧
پيکه مينې ١٢٨
د وصال ياد ١٢٩
ګودرونه او چينارونه ١٣٠
زما دلبر ١٣١
بند وَر ١٣٢
تيګې نه ګبين راته ١٣٣
نظر ١٣٤
کاڼو کې اوبه ١٣٥
نابلدي ١٣٦
سخته توبه ١٣٧
لمحې ١٣٨
د شاعر بوختيا ١٤١
نيمګړې ١٤٢
عبادت ١٤٣
انتخاب ١٤٤
بندښ ١٤٥
د مينې جنازه ١٤٦
ساه اخلمه ١٤٨

ماته اسره ١٤٩
مينه او وفا ١٥٠
د نظر غشي ١٥١
جګړه او مينه ١٥٢
نادان زړګی ١٥٣
توبه توبه ١٥٤
دنيا ١٥٥
د مينې کر ١٥٦
اوښار ګل ١٥٧
راټپه شه ١٥٨
ماټې به توپې کړم ١٥٩
ځواني‌مرګې هيلې ١٦٠
عبادات ١٦١
پراوونه ١٦٢
ټپو لېونې کړې يم ١٦٣
ميخانه ١٦٤
ژوند بې جامه نه ټېرېږي ١٦٥
د سمندر پري ١٦٦
د زړه آرام ١٦٧
ځواني دې رنګه مه شه! ١٦٨
د عشق درمل ١٦٩

انستيزي ۱۷۰
د عشق رانجه ۱۷۱
د زړه ښکلا ۱۷۲
خپل نه شو ۱۷۳
ټپونه ۱۷٤
انسانیت ۱۷٥
مینه مې کړې ۱۷٦
نه راځي ۱۷۷
پوښتنه ۱۷۸
مئین یم ۱۸۰
ژوند ۱۸۱
فنکاره ۱۸۲
ماته توبه ۱۸۳
کتاب خبرې ۱۸٤
د محبت نشتون ۱۸٥
که مینه نه وي ۱۸٦
دُعا ۱۸۷
مینه عبادت دی ۱۸۸
د افغان زېب ۱۸۹
دم اوبه ۱۹۰
حد ۱۹۱

د شوندو څکه..... ۱۹۲
که مینه بغاوت وي..... ۱۹۳
توپير؟..... ۱۹٤
سليقه ۱۹٥
د ژوند تصور..... ۱۹٦
ګوزاره..... ۱۹۷
خُمار..... ۱۹۸
غزلګي..... ۱۹۹
څلوريزې..... ۲۰۰
فردونه..... ۲۰۷

د سریزې پرځای

درنو لوستونکو!

مخکې تر دې چې د «مینه عبادت دی» شعري ټولګې په هکله څه ولیکم، غوره مې وګڼله چې د ټولګې د پنځوال او لیکوال ښاغلي محمدصفر خواریکښ په پته خپل نظر درسره شریک کړم.

په ۱۳۵۲ لمریز کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي د ژورنالېزم له څانګې نه فراغت حاصلوي، یو کال د خپل هېواد له سپېځلي بیرغ لاندې د احتیاط دورې په نوم د سرتېرۍ خدمت تر سره کوي.

ځوان خواریکښ په ۱۳۵۴لمریز کال کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت اړوند د خپرونو ریاست د مرکزي خپرونو څانګه کې خپله رسمي دنده پیلوي. همدا مهال پې د هېواد له ځینو مجلو سره د قلمي همکارۍ په لړ کې لیکنې خپرېږي. بیا وروسته پې د مسلکي کار په لړ کې د هېواد په بېلابېلو غږیزو او چاپې رسنیو کې لیکنې، سیاسي تبصرې او سرمقالې خپرې شوې دي.

ځینې کرکټرونه په فطري لحاظ کارزماتیک، اکتیف، نوښتګر او فعال وي او که څوک له دې ممیزاتو سره کسبي پوهه، علمي تجربې او لاس ته راوړنې، مستمر کار او زیار مل کړي بیا نو د ژوند، علم، فرهنګ او ټولنیزو چارو په ډېرو برخو کې تلپاتې اثار پنځولای شي.

زه دا ټول صفات او حسنات د لیکوال په وجود کې په روښانه ډول وینم.

«خواریکښ» هوډمن لیکوال دی په سلګونو شپې پې سپینې کړي او په زرګونو پاڼې پې کښلي او تورې کړې دي او خپل تخلص پې د بامسمی تر پورې رسولی دی. لاندې اثار پې د چاپ په ګاڼه پسولل شوي دي:

١. د رونړاند نقش (د فلسطيني مفکر فقيد ادوارد سعيد اثر) - ژباړه
٢. دنمارکي - پښتو سمندرګی
٣. د ټولې نړۍ متلونه او ګړنې - ٩٠٠٠ متلونه او ګړنې له ٢٠٠ژبو او پنځه زره کلونو راهيسې - ژباړه
٤. پردښې څړيکې - لومړۍ شعري ټولګه
٥. د هيلو کر - دويمه شعري ټولګه
٦. افغانستان له «هورا» تر «تکبيره» ليکنه او څېړنه

په ديجيتال بڼه خپاره شوي اثار:

١. د مور ناپايه مينه (د لنډو کيسو او کيسه ګېو ټولګه)
٢. د معاشرت اداب (نالیکلي ټولنيز قوانين)

چاپ ته چمتو آثار:

١. سور څخوبی - دربمه شعري ټولګه
٢. مينه عبادت دی - همدا څلورمه شعري ټولګه

ليکوال د نثر په برخه کې ډېر د قدر وړ کار چې هم ارتيا ورته ډېره محسوسېږي او هم يې رسول ولس ته ضروري بربښي سرته رسولي دی. ليکنې يې د ژورې علمي - تاريخي، ټولنيزې او سياسي منځپانګې مالامال ښکاري.

زما به اند د نثر برخه يې ډېره غوښنه، ځواکمنه، ارزښتناکه او په زړه پورې ده. په نظم برخه به يې وروسته خبرې وکړم.

د مينې درد سره شـــوم داسې روږدی
چې اوس يې درده راته خوب نه راځي
خواريکښ

«مينه عبادت دی» د ښاغلي محمدصفر خواريکښ څلورمه شعري ټولګه ده. کور يې آباد چې د ټولګې يوه پرنټ شوې نسخه يې زما په اختيار کې راکړه، زما کار يې اسان کړ او ما هم په پوره مينه او غور ولوسته.

همدا راز له شاعر سره په ځاني خبرو په دې پوه شوم چې زمور شاعر له کوچنيوالي

له شعر سره ډېره مينه درلوده او د ښوونځي په پنځم ټولګي کې يې د ځينو معاصرو شاعرانو ځينې شعرونه حفظ کړي هم وو، تر دې بيا راته غوره نادره او په زړه پورې خبره داوه چې: خواريکښ په ۶۳ کلنۍ کې د شعر ليکلو او ويلو ته مخه کړې ده. ښايي دا خبره درنو لوستونکو ته هم په زړه پورې وي.

د «مينه عبادت دی» له نامه څرګنده ده، چې په دې ټولګه کې په زيات شمېر بزمي شعرونه ځای پر ځای شوي دي. د ځينو عرفاني اشعارو ترڅنګ شوخ شعرونه هم د غزل په قالب کې ويل شوي دي، پاتې نور يې د آزاد شعر او نظم په قالبونو کې، ۲۲ټوټې څلوريزې دي او د فرد په قالب کې هم ښکلي فردونه کښلي دي.

ما له لمدو سکروتو اور واخيسته جام راوړه
بيا د ځوانۍ ولولو زور واخيســته جام راوړه

«مينه عبادت دی» ددې نوې شعري ټولګې لپاره يو ښکلی، شاعرانه، عاطفي او له مانا ډک سرليک دی. زه يې مناسب بولم، په تېره بيا چې د ټولګې ډېرې غزلې او نظمونه د مينې، عاطفې، وفا، ښکلا، انساني احساساتو، بېلتون، وصال او د ژوند د معنوي اړخونو په اړه دي. خو په حقيقت کې، د خواريکښ د شعرونو د مينې مفهوم يوازې عشقي او ځاني مينه نه ده؛ بلکې د انسان، انسانيت، وطن، صداقت، وفاداری او د زړونو د پيوند فلسفه ده. دا مينه له ځانغوښتنې، ريا، سياسي معاملې او مصلحتپالنې سره توپير د لري. د شاعر دا ټاکلی بيت مې خوښ شو:

مينه سياست ندی، په دروغو چلېدلی نشي
دا بلهاري ده، بې بلهاره هېڅ کېــدلی نــشي

دا بيت د ټولګې له سرليک سره يو ښکلی فکري تړاو لري. شاعر په لومړی مصرع کې مينه له سياست، دروغو او معاملې بېلوي؛ په دويمه مصرع کې يې د قربانی، صداقت او بېغرضۍ په مقام کې دروي. په ځانګړې ډول، د «بلهاری» مفهوم دلته د مينې د فلسفې اساسي ستنه جوړوي.
غواړم د سرليک د ادبي ښکلا په باب هم څو ځانګړنې څرګندې کړم.
۱. فلسفي مفهوم لري:
کله چې وايو «مينه عبادت دی»، مينې ته يوازې د دوو انسانانو ترمنځ د عاطفي اړيکې

په سترګه نه ګورو، بلکې هغه د انسان د روح
د پاکوالي، صداقت، وفاداري او معنوي لوړتيا په توګه هم مطرح کوو.
۲. دلوستونکي ذهن راپاروي:
دا سرليک لوستونکی دې پوښتنې ته رابولي چې ولې مينه عبادت دی؟ ايا مينه يوازې احساس دی، که د انسان د ژوند يوه سپېڅلې فلسفه هم ده؟
۳. شاعرانه او آهنګين دی:
درې لنډې کلمې لري، خو د فکر او احساس پراخه نړۍ پکې نغښتې ده.
دا چې ددې ټولګې شعرونه يوازې ځاني مينه نه، بلکې انساني مينه، د وطن مينه، د طبيعت مينه او د انسانانو ترمنځ خواخوږي هم رانغاړي، نو دا سرليک لا ډېر ژور او پراخ مفهوم پيدا کوي. زما په نظر، همدا سرليک «مينه عبادت دی» د ټولګې د روح او پيغام بشپړ استازيتوب کوي. زمور د شاعر په شعرونو کې مينه يوازې د محبوب او معشوق تر منځ عاطفي اړيکه نه ده؛ بلکې له عشقي احساسه پيلېږي، د انسان د روح تر پاکوالي رسېږي او له هغه ځايه د انسانيت، وطن‌پالنې، صداقت او ټولنيز شعور تر کچې پراخېږي. راځئ د بېلګې په توګه د شعرونو څو ادبي اړخونه سره وګورو.
۱. د عشقي احساس او خيال نړۍ
په لاندې بېت کې د محبوب د ليدلو خيال د رڼا او تيارو له تضاد سره انځور شوی:
کله په خيال کې چې اشنا ووينم
لکـه تيـارو کې چې رڼـا ووينم
دا يو ساده، خو اغېزناک تصويري ترکيب دی. د محبوب خيال د شاعر د روحي نړۍ تياره روښانوي. په همدې غزل کې د لونګلړ کونړ يادونه هم په زړه پورې ده؛ ځکه عشقي احساس ناڅاپه له وطن او ټاټوبي سره پيوند مومي. دا ځانګړنه د خواريکښ د شعرونو د هويت يوه مهمه برخه جوړوي.
۲. مينه د روحي پاکوالي د سرچينې په توګه
په «نور» غزل کې يې د مينې لپاره د رڼا استعاره کارولې ده:
نور د عشق چې مې په زړه باندې ورېږي
د کينې او هوس خيري ترې پـاکېږي

زما په اند، دا بیت دټولګې له سرلیک سره نږدې فکري تړاو لري. دلته مینه یوازې د محبوب د ښکلا ستاینه نه ده؛ بلکې د کینې، هوس او روحي ککړتیا پر وړاندې د پاکوالي ځواک دی. دا هماغه مفهوم دی چې د «مینه عبادت دی» په عنوان کې نغښتی دی.

۳. د عشقي جرئت او عاطفي تجربې بیان

په «جرأت جامونه» کې د شاعر د بیان فضا بدلېږي. دلته د وصال، مستۍ، شونډو، جامونو او پټو عاطفي هیلو انځورونه وینو. دا غزل د عشقي شاعرۍ هغه اړخ څرګندوي چې د انسان د احساساتو طبیعي خوځښت، جرئت او د وصال خوښي بیانوي. د دې غزل شتون د ټولګې د موضوعاتو رنګارنګي زیاتوي.

۴.له عشقه تر ټولنیز شعوره

د «باور» غزل زما پاملرنه ځانته واړوله. په دې غزل کې د محبوب د مینې ترڅنګ د دوستۍ، رښتینولۍ، اړخ کې د ریاکارۍ او سیاسي سوداګرۍ موضوعات په ځانګړي ډول مطرح شوي دي.

په سیاسي سوداګرانو باور مه کړه!
دوی د ځان په ګټه ووځي له مسیره

دا بیت ښیي چې د شاعر فکر یوازې په عشقي احساساتو کې نه ایسارېږي؛ بلکې د ټولنې سیاسي او اخلاقي واقعیتونو ته هم متوجه دی.

زه ددې شعري ټولګې لپاره څلور فکري او عاطفي محورونه وینم:

۱. ځانې مینه: د محبوب او معشوق مینه، وصال، ښېلتون، انتظار او د زړه غوښتنې.
۲. انساني مینه: د انسان درناوی، خواخوږي، صداقت، وفاداري او د زړونو پیوند.
۳. وطن‌پالنه: له وطن کلي سیمې او خپلې خاورې سره عاطفي تړاو. ۴
٤. فلسفي او ټولنیزه مینه: د کینې، ریا، هوس، دروغو او سیاسي معاملې پر وړاندې د رښتینې مینې دریځ.

دا څلور واړه محورونه د «مینه عبادت دی» تر سرلیک لاندې په طبیعي ډول ځایېدای شي.

د شاعر د فکري نړۍ سره د لا زیاتې اشنایي لپاره پر **«ما هم مینه کوله »** غزل لږه رڼا اچوم. دا غزل د شخصي مینې له یاد او حسرت پیلېږي، خو ورو ورو د یوه پخواني ټولنیز ژوند، د وطن د عزت، د کورنۍ د درناوي او د ګډو انساني ارزښتونو انځور وړاندې کوي.

زما په اند، د دې غزل تر ټولو مهمه ځانګړنه دا ده چې مینه یوازې د یوه محبوب او عاشق ترمنځ اړیکه نه ګڼي؛ بلکې د یوه داسې ژوند نښه یې بولي چې پکې د خلکو ترمنځ توپیر، ځانغوښتنه او مادي سوداګري کمه وي.

د غزل فکري او عاطفي اړخونه:

۱ ۰ د تېر ژوند یاد او د پردېسۍ درد

ماهم مینه کړه یو وخت مې ښــکلی یار و
پردېس نه وم خپل مې کور او خپل مې ښار و

دا غزل له یوه ساده، خو ژور اعتراف څخه پیلېږي. شاعر یوازې د محبوب د نشتون غم نه کوي؛ د خپل کور، ښار او وطن د هغه پخواني احساس یاد هم ورسره راژوندی کوي. دلته «پردېسي» یوازې جغرافیایي واټن نه، بلکې له لاسه تللي ژوند او عاطفي چاپېریال نوم هم دی.

۲ ۰ مینه د ګډ ژوند د ښکلا په توګه

خپلو ښــکلیو ډېره مینــه را کولــه
زما ژوند هم د هغوی له مینې ځار و

په دې بیت کې د مینې دایره له یوه محبوب څخه پراخېږي. د «خپلو ښکلیو» تعبیر د کورنۍ، خپلوانو او د خپل چاپېریال د مینهناک تړاو احساس راپاروي. شاعر خپل ژوند د همدې مینې په برکت ښکلی ګڼي.

۰۳ د برابرۍ او بېریا مینې ارزښت

د توپــیــر او ځان خوښۍ رنګونه نه وو
زمور عشق د هر رقیب د سترګو خار و

دا بیت د غزل له ټولنیز پیغام سره مستقیم تړاو لري. شاعر د داسې عشق یاد کوي چې د توپیر او ځانغوښتنې تر سیوري لاندې نه و. د «رقیب د سترګو خار» دودیز عاشقانه تعبیر دلته د مینې د خپلواکۍ او د هغو خلکو پر وړاندې د مقاومت مانا هم خپلوي چې د مینې او یووالي زغم نه لري.

۰۴ د ارزښتونو د سوداګرۍ پر وړاندې دریځ

نه چا مینه خرڅوله او نه پت خپل
نـه د ځـان د خرڅولو کوم بـازار و

دا بیت د غزل له مهمو ټولنیزو او انتقادي برخو څخه دی. دلته مینه او پت دواړه د انساني کرامت ارزښتونه دي، چې د سوداګرۍ وړ نه دي. د «بازار» استعاره د هغو اړیکو او معاملو پر وړاندې نیوکه ده چې انسان پکې خپل وجدان، مینه او عزت د ګټې په بدل کې پلوري.

۰۵ د وطن د عزت سمبولونه

د وطن د مور پړونی په عزت و
هم ویاړلی د بابا د سر دستار و

دا بیت د وطن له مفهوم سره د مور او پلار د درناوي سمبولونه تړي. د مور پړونی او د بابا دستار یوازې جامې نه دي؛ د کورنۍ، ټولنې، عزت او تاریخي هویت نښې دي. په دې بیت کې د وطن مینه د انسان له کورنۍ او فرهنګي احساس سره پیوند مومي.

۰۶ د غزل پای او د شاعر اعتقادي دریځ

خواریکښ سره تل مینه د وطـــن وه
له دې عشق پرته له هر څه نه بېزار و

وروستۍ بیت د غزل د ټولو احساساتو یوه پایله وړاندې کوي. شاعر د خپل ژوند د مینې، وفاداریو او ارزښتونو ترمنځ وطن ته ځانګړی ځای ورکوي. دا د ټولنې له عمومي فلسفې سره همغږی دی: مینه باید له انسان، کور، وطن او انساني کرامت سره تړلې وي.

غوښتل مې د ټولنې شعرونو پر غزلو ، نظمونو او ازادو شعرونو ډېر څه ولیکم خو نه غواړم ستاسو او د مینه د عبادت تر منځ نور زماني واټن زیات کړم.

شاعري او د شعر انتخاب او خوښونه دواړه د ذوق خبرې دي، څوک لفظي صنایع خوښوي او څوک معنوي، د چا رزمي او حماسي ترانې خوښې دي او د چا بیا رومانې او بزمي سندرې، یو کلاسیک غزل غواړي او بل نوي او آزاد شعرونه. د شعر د هر صنف مینان د عالي ذوق خاوندان دي او هر یو یې پر خپل مقام د باور او درناوي وړ. د «مینه عبادت دی»په ټولګه کې د هر ذوق د خوښې شعرونه شتون لري.

دا هم یوه منل شوې اصطلاح ده چې وایي: د ټولو شاعرانو په ټولګو او دېوانونو کې د (اعلی، اوسط او ادنی) پورې شعرونه موندل کېږي نو ستاسې مخ ته پرته ټولګه هم همداسې درسره واخلئ.

هسې خو په دې ټولګه کې ډېر نور ښکلي اشعار شته خو زما له نظره لاندې غزلونه او ازاد نظمونه یې ډېر ښکلي او په بیا، بیا لوستلو ارزي:

- سترګې د عشق له نوره ډکې ښې دي ...
- د جانان کلي کې اغیار نه پرېږدم ...
- خوب کې راځي خو په ویښتوب نه راځي ...
- زنه مې ګردې خوښه ...
- د بندېز تر سرلیک لاندې غزل.
- د مینې جنازه آزاد نظم.
- او په ترخو شپو کې انتظار د یو خواږه وباسم.

زمور د شاعر په کلام کې ځینې محلي وېې راغلي دي، ښه خبره خو داده چې د هغو معادل یې ځای پر ځای په لمن کې ورسره لیکلي او توضیح کړي دي. خو ځینې لغات په معیاري او محلي دواړو برخو کې په یوه بڼه او مانا لیکل کېږي. یوازې په تلفظ او ادا کې سره لږ توپیر لري د ساري په ډول(سَرَه) او (سره) د کونړ ولایت د مرکز اسدآباد اړوندو سیمو کې (سره) د (س) او (ر) په سکون لنډه تلفظ کېږي او (سَرَه) په معیاري ډول د (س) او (ر) د دوو زورونو په تحرک اوږده تلفظ او ادا کېږي. او همدا لهجوي توپیر ستونزه ایجادوي چې قریب د یو سېلاب قدرې کم و زیات پکې راځي او ان د شعر په وزن، ټال او اهنګ منفي اغېز ښندي چې دا ستونزه ځای ځای تر سترګو کېده، خو په دې ټولګه کې بیخي کمه راپېښه شوې وه چې د شاعر پام ورواوښت او بیخي له منځه تللې ده.

د شاعر (سور څخوبی) ټولګه او ځینې نور خواره واره اشعار ما لوستي دي او دې پایلې ته رسېدلی یم چې: د خواریکښ شاعري په ټوله کې د ژوند، فکر، خیال، مینې ښکلا، عاطفې او سړیتوب سنګینه او رنګینه تابلو او یوه رڼه او بې غباره هنداره ده. خپل قلم او کلام یې د خپل هېواد، خلکو، ژبې او د فرهنګ خدمت ته وقف کړی دی یوه شېبه یې خپل وطن او ولس نه دی هېر کړی او په هر کلام کې یې مستقیماً

یا تلویحاً نوم او یاد تازه شوی دی. د شعر منځپانګه یې د هېواد پرمختګ، آزادۍ او سولې د تامین په پار د یو هوډمن لیکوال په حیث قلم چلولی او پوره شهرت ته هم رسېدلی دی. مګر حساس ذهن او رونړ ضمیر یې دې ته مجبور کړی دی چې ناهیلی نه شي او افغاني اصیل فرهنګ ته د چوپړ په پار پردېسۍ او پاخه عمر(۶۳) کلنۍ کې د شعر مقدس حریم ته ځان ورسوي د نوموړي دا اقدام د هېواد، ولس پښتو ژبې او ادب سره د هغه د بې کچې مینې عملي زیاد دی. زه نور درنه رخصتېږم او تاسې درانه لوستونکي د ټولګې لوستلو ته رابولم. خدای پامان!

د خواریکښ صاحب د لا بریو او بریاوو په هیله.

په ټوله مینه

محمدصدیق ننګ

دنمارک د سپتمبر ۲۴مه ۲۰۲۶ز کال

دُعا

په در کې دې ولاړ یمه کچکول مې دی په غاړه
لاســـــونـــه مې دُعـا ته لـپـه کـړي درتـه دواړه
د اوښـــکو مې باران وي خدایه! ته راته چې وایې
قدرت غواړې که شته غواړې اوس هغه رانه غواړه
تنـــده د قـــدرت نـــلرم، وړی د شتـــو نه یم خـــو
پـوهـــه د ولـــس ســولـه او امـــن غـــواړم واړه
زه داسې نړۍ غواړم چې کینـه او کرکـه نـه وي
زړونه ډک له محبت وي مینان غاړه په غاړه.

۱۵/۱۲/۲۰۱۶- اسدآباد - کونړ

د هیلو غوټی

کلـــــه په خیال کې چې اشـــنا ووینم
لـــکـــه تیارو کې چې رڼـــا ووی ـــنـــم
زما د هیلـــــو غوټی بیـــا تـــازه شي
چې د صـــنم په خوله خندا ووی ـــــنم
په یارانـــه کې خو بنګـــړي مـــاتېږي
خیال یې ســـاتمه، چې شرنګا ووینم
چې یې په میـــنـــه تومـــتي ومـــه تل
هغـــه دلبـــر بـــه خـــامخـــا ووی ـــنـــم
را تـــه لـــه ورایـــه داسې وځلېـــږي
لکه سراب چې په ښدیـــــا ووی ـــــنم
که خواریکښ سره ژوند وفـــــا وکړه
خپل لونګلـــړ کونړ بـــه بیـــا ووینم.

۱۸ /۱۱/۲۰۱۵ - کوپنهاګن

ریا

چې ملا په چارچـــوبې کې پـــې ګـــرځي
ما پېدا کړه هغـه مینـــه په خلـوت کې
له ریا دې د تـــسبو زړګی سوری کـــړ
لږ رښتیـــن شـــه ملا کار د محبت کې
لمونـــځ غـــالی دې هم شاهده د ریا ده
سرپه ځمکه زړه دې نښـتی په دولت کې
مینـــه کلـــه په ټکې کېـږي زاهـــده!
د مئینو ژوند وي ښـــکلی صـــداقت کې
دا وصـیت د خواریکـــښ درسره واوره
که وصال غواړي نو ژوند کوه الفت کې.

کوپنهاګن - ۲۰/۰۸/۲۰۱۱

سپين سترګي ښېتونه

اوس مې هم زړه د پېکې جنۍ تـه کېږي
غـــنم‌رنګې نمکي جـــنۍ تـــه کښـــږي
چې روژه يې په سرو شـــوندو کړمه ماته
له افـــطـــار تر پښلمي جنۍ ته کېږي
د يوروپ لـــه لوڅ لـــغـــړو نه ښزار يم
حيـــانـــاکې د ټيکـــري جـــنۍ ته کېږي
د پنجـاب پـه تورلښګيو يې بلا پرښوزه
کابـــلۍ خورې قښـــسي- جنۍ ته کېږي
چې مې مينـــــه کې بـــــلهار ته وي تياره
وفـــاداړې غښـــرتي جـــنۍ تـــه کېږي
د بـــــازار لـــــه سـينګار توکو بې نيازې
ښـايسـتـــــه لکـــــه پري جنۍ ته کېږي
خواريکښ لـــــه لباسي مينو ښزار دی
چې لـه زړه مينـه کوي جنۍ تـه کېږي.

۰۶/۰۷/۲۰۱۵ - کوپنهاګن

باور

اوس چـــتـــونه ودرېـــدلی شي ېې تيـــره
مريدان هم لار مونـــــدلی شي ېې پيـــــره
په تنګســه کې د دوســتۍ کېفيت مالوم شي
رښــتيانۍ وي، ريـــــايي وي کـه سرګيره
چې دې خپل سيوری تياره کې ځانله پرېږدي
نـــو په چـــا بـــه بـــاور وکړې تـــر اخيره
خو دلـــبـــر بـــانـــدې د ميـــنې باور ســـاتـــه
هـــسې نـــه چې ېې پـــه کور کې کړې اسيره
په سياسي سوداګـــرانـــو بـــاور مـــه کړه!
دوی د ځان په ګټه ووځي لـــــه مســـيره
خواريکښ له باور ځکه لاس په سر شـــو
د شېـــطـــان په مـــخ ېې وليدلـــه ږيـــره.

۱۱/۰۷/۲۰۱۵- کوپنهاګن

نور

نور د عشق چې مې په زړه باندې وریږي
د کینې او هوس خیري تریې پاکېـــږي
د الـفت وړانګـو یې زړه زمـا روښان کړ
چې تیـارې مې د پردېـس رڼې تېـرېـږي
د تن عطر یې محسوس کړم پخپل ځان
د وصال خوږې لمحې چې را لـــنډېـږي
هغه نور چې به مــالت یې را روښان کړ
مــوده وشوه چې رڼـا یې نــه لــورېـږي
خواریکښې چې ثنـــا وایمه نـــور غواړم
بې له نـــوره شپې خورا تیارې تېرېـــږي.

۱۱/۰۷/۲۰۱۵- کوپنهاګن

تور پوښه

توريې زلفې تور وريښمين کميس په تن کې
ده سپورمۍ د څوارلسمې ماخوستن کې
په شهلا سترګو يې تور رانجه وهلي
ټومبي غشي د عاشق په خوار بدن کې
له سپين پوښو تورو زړونو ده بيزاره
خوښوي تل سره ګلونه په ګلشن کې
سرکښۍ کې له باغيانو کمه نه ده
خو وفايې اخښل شوې ګل بدن کې
د مرمرو صراحي يې سپينه غاړه
سيال يې نشته په شيراز او په خُتن کې
خواريکښ ته يې سينګاره ښکلې ښکاري
کله را شي چې پالنګ ته ماخوستن کې.

۱۴ /۰۶/ ۲۰۱۵ - کوپنهاګن

جرأت جامونه

چې کـتـنـه مـو سره نن محـرمانـه شوه
په جـامـونـو بـدرګـه مـو يـارانـه شوه
سره ګلاب يې نرګسـونو کې ښـکاره شـول
له دوه درې جامونو وروسته مستانه شوه
د هـــوس نيـــلی يې ووت لـــه مهـــاره
زړوره شوه لـــه جوشـــه دېـــوانـــه شوه
دواړه لاس يې کړل امېـل زمـا د غـاړې
د مـــودو آرزو تـــه جوړه بـــهـــانه شوه
د مېګـــونـــو انـــارونو خوند مې حس کړ
چې مې ژبـــه په تالـــو کې ښکانـــه شـوه
چې مې خښـــلې د انـــارو پېمـــانې وې
تر سـهـار بيـا پېمـانـه په پېمـانـه شوه
صـــبوحي کې يې بل جام د شـــوندو راکړ
خواريکښ ته خاطـره جاوېـدانـه شوه.

۱۵/۰۷/۲۰۱۵- کوپنهاګن

د عقل چوتي

چې مې عقل چوتي کړی دی تنها یم
ځکه نن لږ څه هوسا او په خندا یم
چې راسره و نو غمونه به راسره وو
چې تعطیل مې کړ له هرڅه بې پروا یم
ریاکار لکه مُلا پټ وي قبا کې
ما قبا ده غورځولې بې ریا یم
له جانان سره مې مینه پخه شوې
د خولګې انګار پې سوی لا پخوا یم
څو چې غشي له لیندیو را ګوزاري
خواریکښ ټپي د زړه په سر رسا یم.

۱۵/۰۸/۲۰۱۵ - کوپنهاګن

اسیر

څو په دام د محبت کې لا اسیر یم
نو د کفر او ایمان څه پرواګیر یم
پاکه مینه مې پېلوزه ده د لارې
دې رنا کې رسېدلی تر ضمیر یم
زنده ګي مې نذرانه ده عشق د یار ته
کار د مینې کې بې نیازه لـه تقدیر یم
ستا وصال لکه د قدر شپه لیدل دي
تر شبقدره ځکه هره شپه شوګیر یم
کله کله د انارو زوښا راکړه
جل وهلی یم له تندې ډېر زهیر یم
د دیدن په سرابونو پسې ځغلم
خواریکښې پردېسه دښته کې راګیر یم.

۲۵/۰۸/۲۰۱۵- کوپنهاګن

عشق

چې مین شوم له عالمه بې پروا شوم
ایله اوس د ژوند په راز باندې اګاه شوم
چې دې مینه نه وه ړوند له ما بهتر و
ستا په مینه اوس په زړه باندې بینا شوم
خدای دانا دی چې له عشق پې دنیا هست کړه
زه له عشقه پوه په خوند د دې دنیا شوم
غمازانو سترګې ټیټې وې نیولې
هغه وخت چې ته زما شوې او زه ستا شوم
خواریکښ دې هرې ساه سره نوم اخلم
که دې نوم وانخلم پوه شه چې پې سا شوم.

۳۰/۰۸/۲۰۱۵ - کوپنهاګن

زړګی

یاره څومره مینه ناک زړګی مې درکـــړ
له ریا او شـکـــه پاک زړګی مې درکـــړ
مـا ګنډل دردمن زړګی بـه مې درمـان کړې
پـه دې تمـه کې دردنـاک زړګی مې درکړ
مـا پـه مینـنـه کې مـقـام د لېـلا درکـړ
لېـــونی شـومـــه بې باک زړګی مې درکړ
چې ارزښت دې راته زیات و لــه هرچـانه
ګرانه ځکـــه ارزښـتناک زړګی مې درکړ
نــن مې تـنـده په انـارو کـړه را مـاتـه
جـل وهلی او چـاک چـاک زړګی مې درکړ
خواریکښ له مهـرویـانـو پټ ساتـه بـه
هغه غلی حیـــانـــاک زړګی مې درکړ.

۲۰/۰۹/۲۰۱۵ - کوپنهاګن

ډالۍ

زړه له سره ګـــل مې ډالۍ ورکړ دلـــبـــر ته
دواړه ناست وو غم مـــو وارتو ســمـــندر ته
مـــا بـــه مینـــه ورکولـــه دې کوګۍ بـــه
راکړه ورکړه مو اوږده شـــولـــــه ســحر ته
یـــخ شمـــال بـــه نـــازولې د یـــار زلـــفې
کلـــه جوختـــه رانـــږدې به شـــوه تـــټر ته
د شیـــرینې وصال هم بې شرطـــه نـــه شو
فرهـاد واخیستـه کولنګ روان شو غـر ته
مینـــه نـــوم د بـــلهارۍ دی وفـا غـــواړي
خو نـــــادان مئین روان دی ځي کودګر ته.

کوپنهاګن

آيينه

زمـا زړه خـو بې غـبـاره آيـيـنـه ده
څوک چې څنګه ور ته ګوري هسې ښکاري
دوستان مخ په کې صفا ګوري بې عبـبـه
د رقيب نيت چې خبرن دی خوشې ښکاري
د تسـخير هڅې يې اوس هم ښـکلې کاندي
چې رښـتينې نه وي تل بېـوسې ښـکاري
که هرڅو په خولـه خوږه زړه يې پيکه وي
د طـاوس بـڼـه کې هم ټـپـسې ښکاري
چې زمـا جـانـان وطـن تـه کـاږه ګـوري
د دوښمن سترګې همېش نجـسې ښـکاري
خواريکښ ته هر رښـتين يار د سرتاج دی
جفـاکار ورته ټـول دوه وربـشې ښکاري.

۰۱/۱۱/۲۰۱۵ - کوپنهاګن

بند دیدار

د چـا د زلـفـو په يـو تـار بـنـد دی
زړه مې د ميـنې پـه اوزار بـنـد دی
په هغـه تال چې هر اختر زنګېـدو
اوس هغـه هم پـه سر د دار بنـد دی
د زړه تاخچـه کې يې انـځـور ساتم
چـا سره زړه مې دوامـدار بنـد دی
چې پرې دلبـر بـه مې تر څنګ راته
لا مې نـظـر پـه هـغـه لار بـنـد دی
وختونه تېر شول مـا صنـم و نه ليـد
چېـرته د ښکلیو کلانـکار بند دی؟
خپلې جـفا تـه چې پلمې ګـوري
وايي خواريکښـه! چې ديدار بند دی.

۰۴/۱۲/ ۲۰۱۵ - کوپنهاګن

د عشق نور

ســترګې د عشــق لـــــه نوره ډکې ښې دي
چې حـقـيـقـت لـيـدی شي غـټې ښې دي
چې غـــړوم يې او تـــا نـــشـم ليـــدی
لـه دې عـــــذابـه ســترګې پټې ښې دي
د چـــا پـــه درد چې دردېـــــدلی نـــــشي
له هـــسې. زړه نـــه توريږ ګـــټې ښې دي
ســاقي په ميـــو مې خمار مات نـــشـــو
ســتا لـــه شرابـــو سرې سکروټې ښې دي
خـبر دې يـو ځـل دې مـړونـد وغـځـوه!
ماته ورېښـــمين بالښـــت نه مټې ښې دي
خـواريکښ تـل پکې پـردی ښـــکـارېږي
پـــردی مـــانی نـــه خپـــلې خټې ښې دي.

۲۰۱۶/۰۳/۳۱ - کوپنهاګن

سترګې لوستل

زه يې لـولـم چې يې زړه کې څـه تـږيـږي
راز د ميـــنې يې لـــه سترګـــو لوستل کېږي
که هر څو يې مالیار شـــنو پاڼوکې پټ کړي
خوشبـــويي د ګل هېڅکلـــه نه پـــټېـــږي
دا يې مخ لـــه مشکي زلـــفو را څرګند شـو
که ســپوږمۍ له تورو وريځو را ښـــکارېږي
که شـــاعر يې هر څو ونـــــغاړي غزل کې
له يوه بېت نه يې هم درد څرګنـــــدېږي
چا چې ميـــــنـــــه د هوس لپاره دام کړه
په انجام د هغـــه ميـــنې بـــه شرمېـــږي
که زاهد په تســبو خپل عبادت شـــمېري
خواريکښ لـــه صنم يې حساب ځاريږي.

۲۰۱۵/۰۱/۲۰ - کوپنهاګن

د ساقي برکت

صنم ګرځي خرامان په آلاله کې
که ښکارېږي ما ته لمر په سره هاله کې
ورته ګوره د ساقي له برکته
دلبر وینم د شرابو په پیاله کې
په حرم او بتخانه کې ساړې نشته
ما وفا او ښایست ولید کنډواله کې
د دلبر انځور زما سترګو کې ښوري
که سپورمۍ غوټې وهي رڼه ویاله کې
خواریکښ به د صنم مخ کې ګونګې ؤ
خو بېګاه یې د زړه حال ووی خواله کې.

۲۳ /۱۱/۲۰۱۵ - کوپنهاګن

د مینې راز

د میـــنې راز یې په خـــــنـــــدا کې ناڅي
هـوس یې جـام سره کـړنـګا کې نـاڅي
د چا له لاســـه چې مې څښـــل جامونه
نـــن یې یـــادونـــه په میـــنـــا کې ناڅي
خـمـارو ســـــترګـو کې یې اور بـلـېږي
که نـــرګـــســونه سره رنـــا کې ناڅي؟
دا جل وهـــلې تـــنـــده ماتـــه نـــشـــوه
ســـتا د وصـــال سراب ســـارا کې ناڅي
د خواریکښ جـانـان جـانـان وطـــــنـه!
میـــنـــه دې تل زمـــا په سـا کې ناڅي.

۲۷/۰۴/۲۰۱۶ - کوپنهاګن

د زلفو تار

د زلفو تـار يې پـه بـــــانو کې بنـد شـــو
د مين زړه پـه انـدښښـنو کې بنـد شـــو
چې پـه پـــــوکي يې نخـــــولـــــو پښکی
لـــــه ټندې ولوښده بنـــــو کې بند شـــو
خپلو همزولـــــو سره تلـــــه زيارت تـه
نـادان زړګی يې پـه راتـلـو کې بـنـد شـــو
ښکاه چې بيا مســـتـه پـالنګ تـه راغلـه
پښـــــزوان يې بيا زما برښتو کې بند شـــو
د خواريکـــــښ زړه پردښـــــسی نـــری کړ
هـــــسې ـ په يوه خوله خندښدو کې بند شـو
چې شهيـــدانـــو پـــه ســـرونـــو ســـاتـــه
جانان وطن د دښـــــو پنجو کې بند شـــو
د خـــواريکـــښ زړه پټردښـــسی نـــری کـــړ
هـــسې په يوه خوله خندښدو کـــې بند شو.

۱۳ /۱۲/۲۰۱۵ - سوښدن - مالمو

توبه ماتومه خو...

تـــوبـــه ماتومـــه خو خمار نـــه پرېږدم
هيڅکلـه نيمـه لار کې يـار نـه پرېږدم
چې د ارمان کلي ته تلـــــلم بـــــه پرې
په اغـــــزو ځم خو هغه لار نه پرېږدم
چـا چې بـاران کې مخـه ښـــه را کړلـه
هغـــه د کنګل انتـــظـــار نـــه پرېږدم
چې يې په مينـــــه رانـه زړه وړی دی
دلبر د خپـل سر پـه بلهـار نـه پرېږدم
لـه خـواريکښ سره هـمـبش مـل دی
عشـــق د وطن په هيڅ ديار نه پرېږدم.

۱۳ /۱۲/۲۰۱۵ - سوېډن - مالمو

اغیار نه پریږدم

د جانـــان کلي کې اغیـــار نـــه پریږدم
د پښـو ګرد پې هم پـــه لار نـــه پریږدم
ځم د آسـیـــا زړګي کې میـــنـــه کړم
کرکه او جنګ پخپل دیار نـــه پریږدم
چې د پېمـــخـــو ښـــار بدرنګ نـــشي.
ځکـــه کارغه په ننګرهار نه پرېـــږدم
چې لـــوپـــټـــه د خـــور لـــه سره اخـــلي
دغه بې پتـــه په ټول ښـــار نه پریږدم
مُـــلا بـــه هم د خـــدای په لاره سم کړم
لاس کې پې کانی د ســـنګســـار نه پریږدم
زه خـــواریکـــښ بـــه نـــقـــابـــونـــه ځیـــرم
غـــل په قـــبـــا کې د دیـــنـــدار نـــه پریږدم.

۱۳/۱۲/۲۰۱۵ - سوېډن - مالمو

څنګ دې ووتم له یاده؟

سر دې غـېږ کې راتـه کـېـده، چې وربـل دې نـازومـه
ټـپـــه غـــور کې درتـــه وایم، پـــه غـــزل دې نـــازومه
زه بـه غـاړه جوختـه درکړم، تـه زوښـــه د انـار راکړه
د زړه میـــنـــه درکـــومـــه، د زړه تـــل دې نـــازومـــه
زه پـردېس یم جـل وهلی، تـه اوبـه مې د حـیـات یې
په وصـــال مې ښـــه خړوب کړه، چې هر ځل دې نازومه
څنګ دې هېر کړل تېر وختونه، څنګ دې ووتم له یاده؟
زه عشق ګـــوتو کې احساس کړم، چې کاکل دې نـــازومه
له رقیـــبـــه مـــه ډاریـــږه، د وفـــا ژمـــنـــه تـــازه کـــړه
خواریکښ دې لاره څاري، پل په پل دې نازومـــــه.

۱۵/۱۲/۲۰۱۵ - سوېډن - مالمو

د تهمت کانې

د تهمت کانـو تـه جـدا او زه جـدا ویشتمه
د چم غماز دې زه لـه تا نه هم سـوا ویشتمه
د چا په سترګو چې پردې د حسادت پرتې وې
هغـو حسـودو بـه په کانـو تل لـه شا ویشتمه
د محـبـت لارې پوښـلې د مذهب لوګو وې
چې بـه درتلـمه نـو مُـلا بـه خـامخـا ویشتمه
زمان په هرځه کې بدلون راولي رنګ واړوي
زه د جفا په غشو یار له وخت پخوا ویشتمه
دمینې رازمې د دودونـــــو جبلخانه کې بند کړ
که مې لـه جبـل آزادولـو نـو مُـلا ویشـتمه
خواریکښ زړه هـغـه نـګار ته نـذرانه ورکړی
چې یې دشک په ګولۍ اوس هم برالا ویشتمه.

۲۰۱۵ /۲۶/۱۲ - کوپنهاګن

زه په تمه ته پې غمه

په بېلتون کې دې صنمه
نه ژوندی یمه نه مرمه
لکه تېری بیابان کې
هر خوا ځغلمه پې دمه
ځلوبی شی مخ ته را شې
د خولګۍ غوښتنه کړمه
ماوی ستا خولګۍ څکمه
تاویل دا سوال دې منمه
له هغې لمحې راهیسې
«زه په تمه ته پې غمه»
کوم سهار چې کوګۍ راکړې
ټوله ورځ شونډې څټمه.

۱۸/۱۲/ ۲۰۱۵ سوېډن - مالمو

خدایه! خوب مې رښتیا مه کړې

خوب مې ولید چېرته لرې درنه لاړ شـــم
زمـــا مـــاتې وي وزرې درنـــه لاړ شـم
نـــورې ستـــا د ګـــودر لارې نـــه ځـــارمـــه
شي ګـــودر کـــنډ و کېږي در نـــه لاړ شم
چې په کـــومـــو لارو تـــلم د آرمان ښـــار ته
هغـــه لارې شي بې ســـرې در نـــه لاړ شم
ستـــا پـــه ستـــرګو کې بـــه مينـــه او وفـــا وه
بې وفـــا شوې بـــد نـــظرې درنـــه لاړ شم
هر سهـــار دې د مـــاښـــام په وعـــدو پـــايم
ستا وعدې تـــشې خبـــرې درنـــه لاړ شم
اوس مـــو ښار او کلي شـــړ شول لـــه يارانـــو
نه رباب شـــتـــه نـــه سنـــدرې درنـــه لاړ شم
صنم وخت د ځنکـــدن کې کـــوګې راکـــړه
خوله کې وړم شات او شکرې درنه لاړ شم
خدایه ! خوب د خواریکښ چې رښتیا نکړې
هسې نـــه شـــم، بې دلـــبـــرې درنـــه لاړ شـــم.

۱۸ /۰۱/۲۰۱۶ - کوپنهاګن

زغم

زه د خپل سر د بـــــلهـــــار زغم لرم
خود بـــــه صـــنم ته د لار زغم لرم
د دلـــبر څـــه چې د دلـــبـــر پـــه پـــار
خـــــو د رقيـــب د ګـــوزار زغم لـــرم
چا ته چې لاره کې بـــــانې فرش کړم
بيـــا يې د پـــښـــو د فـــشار زغم لـــرم
پـــه کليـــوال جـــانـــان بـــاور لـــرم
هم د ښـــــــاري د کـــــردار زغم لرم
په خواريکښ هيڅکلـــــه پښې نه شـــو
زه خـو د عشـــق د خـروار زغـم لـرم.

کوپنهاګن - ۳۱ /۰۳/۲۰۱۶

کرکه

له چا نه کرکـــه نکړم کړې نه مې کرکـــه راځي
خبره سپکـــه نکـــړم سپکې نه مې کرکـــه راځي
چې ګلان وچ کړي زهـربوتي پـه کې وده وکړي
داسې مـالیـار او داسې ځمکې نـه مې کرکـه راځي
د زړه لـــه تـــل مې انـــګـــازې د محـــبـــت راوزي
عـادت لـــــرم بې مینې کوکې نـه مې کرکـه راځي
چې لـــه زړه نـــه وي د فرېب لپاره وموسکېږي
موســـکـا لا څـه ټکې مچکې نـه مې کرکـه راځي
دخپل کهول په سپېره کټ مې شاهانه خوب کاوه
خـــو د پـــردېـــس زري تلتکې نه مې کرکه راځي
له وړکـتـوب مې دنـانـځـکو لوبول نه وو خوښ
اوس خو د هر پردي نانځکې نـــه مې کرکه راځي.

۱۹/۰۲/۲۰۱۶ - کوپنهاګن

ما هم مینه کوله

ماهم مینه کړه یو وخت مې ښکلی یار و
پردښ نه وم خپل مې کور او خپل مې ښار و
خپلو ښکلیو ډېره مینه را کوله
زما ژوند هم د هغوی له مینې ځار و
د توپیر او ځان خوښۍ رنګونه نه وو
زمور عشق د هر رقیب د سترګو خار و
نه چا مینه خرڅوله او نه پت خپل
نه د ځان د خرڅولو کوم بازار و
د وطن د مور پرونی په عزت و
هم ویاړلی د بابا د سر دستار و
خواریکښ تل د وطن مینه لرله
له دې اند پرته له هر څه نه بېزار و.

۲۰۱۶/۰۲/۲۱ - کوپنهاګن

ته مې مینه ته مې ژوند...!

ته مې مینـــه ته مې ژوند، ته مې هر څه يې
زه به نه يم خدای دی نکړي چې ته نه يې
چې مو ګډ ويني رقيب باندې اور بـل شي
ببرته ستون شي عزرائيل هم چې راسره يې
راشې خيـال کې تېـر يـادونـه راتـه وايې
هم مې خيال يې هم راوي هم مې کيسه يې
د ځـوانۍ مستې لمحې مې درنـه ځـار وې
په پـوخ عمر مې د ويـار هسکـه شملـه يې
د وطن خاورې! رانـجـه يې خواريکښ ته
چې پـه زړه کې يې ســاتـلی همېـشـه يې

۲۰۱۶/۰۴/۱۰ - مالمو - سويډن

پردي ملهم

رنګ د ميـــنې اچـــومـــه په قـــلم کې
د الـــفت غزلې وايم هـــر قـــدم کې
په نـمـجـنـه ځمکـه تخم را ټـوکېږي
د يار عشق ځکـه کـــرم د سترګو نم کې
نيمه شـپه کې يې د خيال ښـاپېرۍ راشي
خوب مې وتښتي له سترګو هغـــه دم کې
د جـانـان د تـن ټـپـونـه نـاسـور شـوي
اغېـز نـشـتـه د پـرديـو پـه مـلـهـم کې
خـواريکښ بـه سر بـلـهـار کړم لـه دلبره
په ټول ژوند به يې ساتم د زړه حرم کې.

۲۰۱۶/۰۴/۲۷ - کوپنهاګن

ویرژلې کړنګا

له مېخانې چې مســـتي تللې ده اوس
مـــلا د خم غـــاړه نيـــولې ده اوس
په هغـــه رند چې مېخـــانـــه وه ښکلې
دېـــو د هغـــه په مـــخ تـــرلې ده اوس
نه بنـــډارونـــه شتـــه نـــه يار پاتې دی
د پېمـــانې کړنـــګا ويـــرژلې ده اوس
لـــه ړنګېـــدلو يې ژغورل پـــه کـــار دي
شېخ په پنځوسو خرڅه کړې ده اوس
خواريکـــښ قـــدر د رنـــدانـــو کوي
هغـــو چې مينـــه ازمـــويلې ده اوس.

۲۰۱۶ /۰۵/۱۶ - کوپنهاګن

ښکلا

ښـــکلا نده که په سر نوې پګړۍ کړې
ښـایسته به شې که نوې ککرۍ کـړې
که دې ورکه کړه کینه خپلو مغـزو نـه
د هر چا لـــه مینې ډکه به ځولۍ کړې
عزت نـشـتـــه په تاجونو او شملو کې
که دستار په سر او کار د نامردۍ کړې
محبت که دې زړګي ته لار پیدا کړه
خـامخـا بـه لـه زړه ورکې تربګنۍ کړې
خواریکښ دې ګڼي تاج د ټولو ښـــکلو
که دې مـیـنـه بې ریا او رښتیانۍ کړې.

۰۳/۰۵/۲۰۱۶ - کوپنهاګن

د اوښکو منګی

هغې چې کلــه به نکــریځې په لاســو کښښودې
زمـا په زړه بـه يې منګولې په ورو ورو کښښودې
د نجـونـو ډلـه کې لـه ورايه پېـژنـدلی شوه مـا
لکه د زرکې سرې پاڼې يې په نـــخرو کښښـودې
د سرکانـــو ګـــودر هغه وخت سرې لمبې کولې
د ښـکليو ميرې چې به لـــپې په اوبو کښښـودې
نن ترهېدلو نجونو کور ته وړل د اوښــکو منګي
د کرهالۍ وينو نکـــــريځې چې ځپو کښښـــودې
خواريکښ ځکه سور سالو په ګودر نشي ليدی
چې يرغلګـر نـاولې پـښې په ګـودرو کښښودې.

۲۳/۰۵/۲۰۱۶- کوپنهاګن

سترګې

سترګې ښکلې ښکارېـدلې پرې مئین شـــوم
چې مې تل خیال کې راتللې پرې مئین شوم
د ژوند لاره کې یو بل سره مخامخ شـــوو
چې خواږه یې راکتـــــلې پرې مئین شـــوم
سترګو، سترګو ته کتو کې غـــشي وار کړل
چا مې سترګې ښکار کولې پرې مئین شوم
همېشـــه مې زړه پـــه خپلـــه رایـــه تلـــلو
نن د ســـترګو یې منلې پرې مئین شـــوم
ما په ســـوي بیابان کې نرګـــــس ولید
زما لارې یې څـــــارلې پرې مئین شـــوم
ســترګې وګوري خو زړه په رنځ اخته کړي
مینه زړه کې مې ســـاتلې پرې مئین شـــوم
خواریکښې په هوسۍ ســـترګو زړه بایللی
خو په سختـــه رامېدلې پرې مئین شوم.

۲۰۱۶ /۰۲/ ۲۹ - کوپنهاګن

آزاد باور

یو دلبر ستایم کعبــه او بــتخــانــه کې
راسره وي پـه جومـات او میخـانـه کې
چې باور مې آزاد شـوی دی له شـکـــه
د مــعشوق ښکلا مــې ویــنم پیمانه کې
پــښتــنــه ده په درواغو نه پوهـبــږي
ګوره! ژبــه یــې بندبــږي بــهانــه کې
چا صــنم له موســمونو سره بدل کړ
زما زړه کـې دی یو ټولـــــه زمانـه کې
خواریکښ چې ترې ځواني خپله ځار کړې
سر به هم ورکړي جـانان ته نـذرانـه کې.

۰۲/۰۶/۲۰۱۶ - کوپنهاګن

نامرد

لکــه بنک چې په خواريــو چينــار نــشي
هيڅ نـامـرد به هم په مينـه دلـدار نـشي
مخـامخ وي ځـار قـربان، تر شا بـد وايي
دا دوه مخی دی هيڅ وخت د چا يار نشي.
چې په کړو پې د کهول پت زيانمن کېږي
هسې زيږد دې په نصيب د هيڅ پلار نشي
د رڼـا پــه پــلمــه اور بــلــول غــواړي
په تــورزړو بــه هيڅــکــله سهار نشي
مــا چې ســر بــه نــذارنــه کې ورکــولــو
بل وطن بــه مې بيــا هــسې ديــار نشي
خواريکښ له نامردانـــو سخت بېزار دی
له بــل چــا به په دې کچــه ببــزار نشي.

۰۷/۰۶/۲۰۱۶ - کوپنهاګن

سپين ويښته

سپينږيرتوب که په عزت کې زياتېده کا
خو د ښکلي‌و له نظره غورځېده کا
د ويښتو سپين سور اغېز لري د واورې*
ځواني جونې راته اوس ساړه کاته کا
په کتو کې يې د عشق تودوخه نشته
بازاري يار که هر څه ځان آراسته کا
د يار عشق مې په زړګي کې هسې- پربوت
له مرګ وروسته به زما له زړه واته کا
هر ماښام د خواريکښ د غېږ ښکلا وه
نن يې ياد تش ياد تګ راتګ تر لمرخاته کا
د ځواني عمر په بېرته نه راګرځي
ليوني به د ناشوني خيال ساته کا.

۲۰۱۶ /۰۷/ ۲۲ - کوپنهاګن

* د عبدالقادر بېدل د لاندې بېت نه په اغېز
سفید ی‌های برف چون تأثیر خنک دارد
ازین رو سرد می‌بینند جوانان روی پیران را

د انتظار لمحه

نـه پـه زور کېږي نـه د ســوال کار دی
میــنــه د زړونــو د وصــال کــار دی
له ســترګو، حال زمــــا د زړه لـــــولي
دا يې د میـــــنې د کمـال کـــــار دی
وعـده يې کـړې ځـکـــــــه لار څـارم
که انتـــــظـــــار لمحه د کال کار دی
خــوا لــه چې را شي ربنې مې نیـــــــسي
دا د جادو کـــــه د جمال کـــــار دی؟
د خواریکـــــښ برېتـــــو کې ســپین ډکي
د پردېس ژوند د ســخت مهال کار دی.

۲۰۱۶/۰۶/۰۷ - مالمو - سویډن

رامېدل

يــوې سرکـــښې مې زړه وړی ځــوروي يې
حسن مســتــــه يې پروا ده زمـــولـــوي يې
نـــه يې پـــالي نـــه يې ببـــرته راتـــه راکړ
وايي اوزار مې دی د لـوبـــــو لـوبـوي يې
وس مې نه رسي چاره را سره نـــشـــتـــه
ښـه يې ګورم لېـــونۍ ده ژوبـــلـــوي يې
که هر څو بـــه زړه زمـــا نـــافرماني کړه
رواداره هـــم يې نـــه يـــم مـــاتـــوي يې
چې ښـــکلا به يې ليده پسې ځغاســته به
د هر ښـــکلي چې لاس بر شـــو ځغلوي يې
رامـېـدل د خـواريـکښ د زړګي ګـران دي
خو که ســپيـــــنه خولګۍ ورکړه راموي يې.

۲۰۱۶/۰۶/۱۲ - مالمو - سويډن

ځان‌خوښي

نـه د لمر نـه پي د ګل انـځـور خوښـيږي
د بدرنګ د جنګ جدل انځور خوښـــيږي
کـښـنـاســتـه ولاړيـده ورســره مـکـړه
کـه د چـا يـوازې خـپـل انځور خوښيږي
د هـغـو مـوخـه هـوس دی مـيـنـه نـده
چې تر زړه پي د وربـــــل انځورخوښـــيږي
د تهمت په خيـــــرن رنګ چې توروي پي
نـــو پي هغـه وخت د بل انځور خوښيږي
کليـوالـه که رانـجـه دنـداسـه وکـړي
ورسره مې د چـارګـل انځور خوښـــيږي
خواريکښ ته چې وطن جانان جانان دی
نـو پي ځـکـه د کـابـل انـځـور خوښيږي

۲۲/۰۶/۲۰۱۶ - کوپنهاګن

د ځان قدر

که څه هم فکـــر لـــه یـــاره نا وزګار دی
کله کله ځان ته هم لـــــږ پام په کار دی
د جـانـان غم را سره او خپـل مې هېر دی
لکه زه هـــسې کوم بل لـــه ځان بېزار دی؟
د پېمخـــــو خورا زیات مې اشـــنایان دي
چې د زړه ښـــکلا لري هغه مې یـــــار دی
شنـه پیـالـه لـه میـو ډکـه کـړمـه کـینم
بیـا ستـا غـشي او زما د زړګی ښـکار دی
بـابېـزه بـه دې هـر نـاز وي کـه زه نـه وم
خواریکښ دی، یاره! ستا چې ناز وردار دی.

۰۴/۰۷/۲۰۱۶ - کوپنهاګن

د یار غم

بې لـه ښـــکلو مې سرچـا تـه نـه ټیټېږي
بې لـه ملـو مې هـیڅ تـنـده نـه مـاتـېږي
د یـارغم لـه مـانـه خپـل غمونـه هېر کړل
ټـپ د زړه مې پـه هـمـدې غـم درملـېږي
کـلـه وڅـکـم د سرو شـــونـډو سروکې
کلـه زړه مې د هجران پـه اور ســـوزېږي
کله پروت یم د جانان ورېښـــمینه غېږ کې
کلــه یــار شي ځــلــوبې لــه ورا ځــلـېــږي
هسې ډوب شو خواریکښ د عشق درياب کې
مــئیــنــان وي په دا رنــګــه چې ډوبېــږي.

۰۳/۰۷/۲۰۱۶ - کوپنهاګن

همدم

د مینې لـه بـازاره یوازې غم را رسـېدلی
زه پې یم خوشـالـــه مګر کم را رسـېدلی
د یار غم مې همدم دی همېشـــه راسره مل
چـــا ته سیم و زر مـــاته همدم را رسېدلی
شاه و ګدا دواړه د فلک له وېش ناخوښ دي
زه شـکرګـــذار یم چې صـنم را رسـېدلی
سرمې نذرانه و محبت کې لـــه جـــانانه
ما ته لـــه هغـــه جـــانان ستم را رسېدلی
آرمان په دې دنیا د چا پوره شي د چا نه
ماته د آرمان ســالار مې هم را رسـېدلی.

۰۴/۰۷/۲۰۱۶ - کوپنهاګن

رسوا راز

غـلـچـکي يې را کـتـل د خـلـکـو مـخ کې
راز د ميني پې رســوا شــو پـه يو اخ کې
ځيني و غورځي کـــــوهي ته پې خبـــــره
ما ځان خپلـــــه کړ ګوزار څاه د زنخ کې
کوم رقيـب چې مې تر شـــا وهلې بـاتې
بر يې نـــه شـــو را کـــتـــلی مخـــامخ کې
د فرېب لـــه تارو جـــوړه شيخ قـــبـــا کړه
سـل ګنـــاه پې دي رېـــشـلي په هر نخ کې
خـواريـکښ سر د کـوګې بـيـه کې ورکـړ
صـــنم اوس هم لا چنې وهي پـه نرخ کې.

۲۰/۰۸/۲۰۱۶ - کوپنهاګن

باج

نـــه د تـــخـــت پـــروا لرمـــه نه د تاج
لـــه ازلـــه يم پېـــدا يـــاغي مـــزاج
نـه د مـال لالـچ لـرمـه دی نـه د نـوم
بس د ميـــنې مـــحبـــت يمه محتاج
کـه ســوبمن لـه ماتو باج اخلي په زور
زه په ميـنـــه لـــه سرکښـــو اخلم بـــاج
مال و سر مې شـــه قربان له خپل جانان
پـت پې ســـاتم د رقيـب لـه هر تـاراج
عاشــقان ميـنـــه کې هر څـــه روا بـــولي
دوه رنګي نـــده پـــه ميـنـــه کې رواج.

۱۸/۰۸/۲۰۱۶ - کوپنهاګن

تګ راتګ

د زړه حریم تـه را دننـه شي خـو بیـا ووئي
که پې هر څو ایســارومـــــه خو اشـــنا ووئي
انداز د میڼې د صـــنم مې عجیبه غوندې دی
په مانښـــامـــــونـــــو کې رائي او په ســبا ووئي
دلته خو مینه د ژوند جز دی، پابندي پې نشـته
دلـــبـــر ګـــلانـــو ســـره راشي برالا ووئي
د وطن مینـــنـــه ابې غاړو ته بیګـــار ښکارېږي
چې د فیشـــن په پار پې کاندي بې پروا ووئي
مور چې بـــاور د ولـــسونو د چوپړ پرې وکړو
یا شي لاسپوڼی د پـــردیـــو یا مـــافیـــا ووئي
د یار مې دا عادت په ټولو عادتو کې خوښ دی
خوا له مې راشي په موســکا او په خندا ووئي
د خواریکښ د زړګي زخم ناسور شوی دی اوس
خدایه وطن به پې څه وخت لـه دې وبا ووئي.

۲۶/۰۸/۲۰۱۶ - کوپنهاګن

انځور

ورته ګـــورم راتـــه ګـــوري، يو انځور دی
ښـــکلوم پې خو نه ښـــوري، يو انځور دی
ما د ســـتـــرګـــو په منځ کې ځای ورکړی
نه ځي ســـترګو نه بل لوري، يو انځور دی
د عـــشق تـــار، يم په تصوير پـــورې تړلی
هر ســـاعت په زړه را اوري، يو انځور دی
د ژوندون ترخـــه شېـــبه مې راخوږه کړي
چې پې نيســـم په زړه پورې، يو انځور دی
خواريکښ ترې ابېځې د مينې زده کړل
د اســـتـــاد حق پې را پورې، يو انځور دی.

۰۲/۰۲/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

د عشق راز

څراغ ســتـــرګې پټـــولې ماخوســتن کې
چې صنم جـــامـــه څيـــرلـــه په بدن کې
لـه دلبر سره چې نـاســـت يمـه خلوت کې
جـــنـــتی هـــره لمحـــه مې وي ديدن کې
افـــغـــاني حسـن يې داسې بې مثـــال دی
نه يې سـيال شـته په شـيراز او نه خوتن کې
ګلابـونـــه ترې حيـا کـوي مخ پټ کـړي
چې شـهی کلـــه قـــدم ږدي په ګلبـــن کې
د عشق راز مې په غزل کې هـــسې نغـــښتی
لکـــه ګل چې خوشـبويي لـــري په تن کې
څـــه پروا د تاج او تـــخت را ســـره نه وي
خواريکښ چې يم يارانـــــو سره وطن کې.

۲۰۱۶ /۱۱/ ۲۰ - کونړ - اسداباد

نورپرست زړه

ښکلي چې وويـــنمـــه مـــخ تـــرې اړولی نشم
دا نـــورپـــرست زړګی، بې لمـــر تسلـــولی نشم
چې کومه خوا ځي، نو د خیال نیلی مې ځغلي پسې
لېـــونی زړه بیـــا په، زنـــځـــیر ایـــسارولی نشم
که د چا نـــه خوښیږي، مخ ته دې پلـــو ونیسي
زه خو په جېب کې، خپلې ســـترګې ګرځولی نشـــم
ته را ته وخـــانده کـــوپړۍ به د غماز ماته کړم
جانانه ســـتا چم ته راتګ پې هیڅ زغملی نشـــم
رقیب زمـــا په زړه چـــرې د ببلـــتانه ښخې کړې
زه د افـــغـــان په تـــټـــر، دا چـــرې منـــلی نشم
مور خو پـــه خپلـــه پښـــتنـــه غیر کې پنـــاه ورکړه
د دې پـــردیـــو نـــاروا نـــخـــرې لیـــدلی نشم.

۲۱/۰۴/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

ګوزاره

د ګیتاروالا دې نه یم، سبتار سره ګوزاره کړم
د پردیو تاج دې ورک شي، دستار سره ګوزاره کړم
د نړۍ شیطانان ګرځي، د ملالې په ګودر کې
ګودرونه به سنګر شي، انتظار سره ګوزاره کړم
جانان هره ورځ دا وایي : نن بېګاه ته به درځمه
ټوله شپه پې لار څارمه، له یار سره ګوزاره کړم
له نړۍ چاپېر ګرځېږم، د وطن سود مې پې نشي
ستړی راشم تر کابل، وطندار سره ګوزاره کړم
ما پې زلفې نازولې، ټک پې سم په زړګي راکړ
د دلبر په خاطر یاره، له ښامار سره ګوزاره کړم.

۲۰۱۷/۰۱/۰۴ - کوپنهاګن

غزل توري

تـــه مې ماتـــوه زړکۍ، زه يې ټولـــوم ټوټې
دا مـاټې ټـوټې د زړه، تـوري د غـزل مې دي
تا په جفا و زموله، زه په عشــق تســل ورکوم
دا مې د ژونـدون لار، تکلوري د غزل مې دي
ســتا وصـال سراب سراب، ځکه جل وهلی يم
دا د سرابـــو ځـــلا، ستـــوري د غـــزل مې دي
نـه اوړم لـه لارې نـه، څـه هم که اغـزنـه وي
لارې د صنم لور تـــه، لـــوري د غزل مې دي
ګرځي خواريکښ پردښس، نلري د سر ســيوري
ستا د زلفو ګڼ ځنګل، سيوري د غزل مې دي.

۱۲/۰۲/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

د مینې بدل

تلـــــوســـــــه یې را سره چې د دیدار ده
نــن بــلــنــه رالېږلې هــغــه یــار ده
د بـــــازار متـــــاع خو نده چې یې پېرې
مینــه یــو زړګي نــه بــل زړګي تــه لار ده
د وصال شپـــه یې لـــه قـــدره کمه نه وه
له خندا مې چې خولـــه ډکه نن ســهار ده
ګل په لاس بیا د ګلمخ دلبر په لور ځم
لار مې څــاري همېــشــه مې انتظــار ده
ما د مینې بـــدل دواړه دنیـــا ورکـــړې
دا ســودا د لیـــونې که د هـــوښیار ده؟
خواریکښ که مینـــه نه لرلـــه مـــړ دی
مینــه ســاه زمــا د ژوند او د روزګــار ده.

۲۷/۰۲/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

لکه ایمان مې یې!

غوښـت مې ور ته ووایم، جانـــان مې یې
مینـه مې یې، ژونـد مې یې، آرمـان مې یې
درد د بېلـتـانـه دې خـوروي چې مـا
دې درد لـــه طبیب مې یې، درمان مې یې
خوږ مې په زړه لـــګې د وطن غـــوندې
زړه کې دې ســاتم لکـــه ایمان مې یې
مـا لـه مـاتـو ژمـنـو یې ګیلـه وکـړه
خـوږ یې راتـه وکـتـل ویـل ځـان مې یې
څنګ تـــه چې یې ورغلـــمه وې ویل
راشـــه خواریکښـــه! د زړه توان مې یې.

۰۶/۰۳/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

بې وفا

لارې دې نه څاري نور
له ما دې نه غواړي نور
چې کړېده در پسې
در پسې نه ژاړي نور
تا تېرایسته په وعدو
ژمنې دې نه شماري نور
اوس صبر شوی له تا
ياري دې نه پالي نور
پت د یاری چې نه وي
نو به په څه پايي نور.

کوپنهاګن - ۳۰/۰۵/ ۲۰۱۷

ګونګې مېخانې

مېخـانـې ګونـګـې دي جامـونـه غلې
څپـې شـور نـکوي سينـدونـه غلې
چې د ګلبڼ اختيار شـېطان سره شـو
بـنـوال بـېـواکـه شـو ګـلـونـه غلې
د چـيـنـارو سرونـو اور اخيستی
شول د تـوتيـانـو اوازونـه غـلې
بـد ګاونډي مو بڼ ته اور را پوکـي
بنوال ځـان ړونـد کړي اوغورزونـه غلي
د بې وسۍ مې درتـه څـه ووايـم
سـتونی مې وچ شـو فريـادونـه غلي
کـه سـاقي راکړل انګـاري جـامونـه
د خـواريـکښ بـه شي دردونـه غـلي.

۲۰/۰۳/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

اسیر صنم

تـــلم ورپـــې تلـــم پـــــه سختو لارو کې
مـا ویـل لمر راوړم پـه ســـختو لارو کې
اوس چې مې صـــنم تیـارو اســـیر ونیو
شـــمې بـه ور وړم پـه ســـختو لارو کې
غواړمـــه د عشق تـــودوښـــه و ویشم
لمر بـــه راولم پـــه ســخـــتـــو لارو کې
مخ مې لـــه جانان نـــه بلـــخوا نـــاړوه
څومره کـــــه لوښدم په ســـختو لارو کې
تلم زه خواریکښ چې د وصـــال په نیت
نـــه ستـــړی کښدم په ســـختـــو لارو کې.

کوپنهاګن - ۲۵/۰۳/ ۲۰۱۷

د محبت پېټی

د محبت د خروارونـــــو پیټي وړلی شـــم
خو د مثقـال کرکې د وړلـــــو توان نلرم
مینه کوم، په مینـــه پـــایم پې بـــاور لـــرم
پرته له عشقه، بل معـــبـــود او جانان نلرم
وطن مې ساه ده، ولس تن، وفا د ژوند لاره
حُب الـوطن کـه رانـه کم شو ایمان نلـرم
نـــاځوان سرونـــه د ټپېرو ارزښت هم نلري
زه د یـــارانـــو په نـــوملـړ کې نـــاځـــوان نلرم.

۲۷/۰۲/ ۲۰۱۷ - کوپنهاګن

د کونړ سیند

ترخـه مې ډېر څښـــلي څو ګوتـه خواږه راکړه
مـاتـه پـه لـپـو د کـونـړ د سیـنـد اوبـه راکړه
زه کلیوال یمه د ښـــار په عشـــوو نـــه پوهېږم
ماته د هوکړې ځواب ســـم پخپله خوله راکړه
بېګاه مې لار څـارلـه، ټولـه شپه خـــو رانـــغلې!
بېخوبي خبـــر دی خو تاوان مې د مات زړه راکړه
چې نوم دې اخلمه احســـاس د تودې غېږ کوم
وصـال را ولـوروه بیـا غـېږ تـه راتـلـه راکـړه
څې دې خیال کې خواریکښ سره همښ مل دي
راسـا ولـس ته لـه تـوپـان پـورېـواتـه راکـړه.

۲۱/۰۴/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

څپه

څپه جوش کې د ســـاحل په لوري راشي
چې پې سر په ســاحل ولګي هوســـــا شي
که غوســه وي د ســاحل هســتي لاهو کړي
که الفت لري ســاحل ښکل کړي په شا شي
ما د عشــق په مدرســـــه کې مینه زده کړه
کرکـــه نده چې به زده لـــه هر مُـــلا شي
زه چې بـيـا هـم لـه تـوپـان سره مـزل کـړم
په ګوهر پـــسې لـــټون کړم که پیدا شي
د يـارانــو ديـدن هــر کـلــه اخــتر وي
خدای دې نکړي خواریکښ چې بې آشنا شي.

۲۲/۰۴/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

څه یمه؟

خوښ یمه په ځان چې خپله زه یمه
نه له چا نه بر، نه له چا ښه یمه
ما د خود خواهۍ څلي مات کړي دي
زه له ځان غوښتونکو سره نه یمه
مینه مې مذهب دی پرې باور لرم
مینه که و نلرم نو څه یمه؟
یار په مستو سرو سترګو را وکتل
ځکه خو بې خوده او نشه یمه
ما بایللي دي د عشق په قمار کې
دا چې اوس بې نومه او بې شته یمه
ژوند د خواریکښ ته نور او مالګه یې
ته چې را سره یې بیا پوره یمه.

۰۲/۰۵/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

کاڼي

غرونه خو کاڼي وو، اوس شـول دلته سـيندونه کاڼي
ځيـنـو ساتـلي دي سينـو کې، دلـتـه زړونه کاڼي
عقل او پوهـه پې مغـزو ته، لاره نـشي مـوندی
ډبـرو تـنـو باندې بـار شوي، وچ سرونه کاڼي
د جـانـان کلي تـه روان يم، چې ديدن پې وکړم
خو سـپي آزاد ګرځي، دي بند په زنځيرونـه کاڼي
د مېخـانې لـه پوخ سـاقي سره، مې جام پورتـه کړ
جام پې لـه ميو نـه خـالي وو، کنـډولونه کاڼي
که خواريکښه ددې کانړو صيقل، سخت هم ښکاري
همت پکار دی هـسې نـه، چې شي لاسـونه کاڼي.

۰۵/۰۶/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

پټ احساس

پټ احســـاس را پاروي لکه ســـنـــــدرې
چې د يـار لـه خـولګې اورمـه خـبـــــرې
د دلبر سرو شـــونډو زړه له ما نه غلا کړ
ما يې هم له شـــونډو غلا کړلې شـــکرې*
چې د يـار لـه نرۍ ملا مې لاس چـاپېر وي
د رقيـب دې را پسې ـــ وي بيـا لښـــکرې
دا غاښـــونه د صـــنم خولګې کې ښـــکاري
کـــه پـــرتې دي په لالـــه کې مـــرغلـــرې
هغه شـــپه ما خواريکښ ته وي د قـــــدر
نـــازوم چې تـــر ســـهار سپينې کوترې.

۰۵/۰۶/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

* د جامي د دې نيم بيت په مخ: «لبت دل دزد و من از وی شکر دزد»

وفا

زمـا د ســوي زړه ايرو کې، چې وفـا ولیـده
هغـه مهـال يې مـا پـه ســترګو کې ژړا ولیـده
ویل يې تا لکه پتنګ په اور ځان خپله ســبزه
د ځان وژونکي پښــهمانۍ کې ګټه چا ولیده؟
ماتو وعدو يې زړه رامات کړ څه پروا يې نه وه
د بې وفـا يـار مې رقیـب سره ســلا ولیـده
اختر تېر شــوی و، نکریزو يې بازار نـه درلود
نن مې نـاینـه پـه بـازار کې وارخطـا ولیـده
مینه سیاست نـدې، په دروغو چلېدلی نـشي
دا بلهـاري ده، بې بلهـاره چـا لېلا ولیـده؟
چې خواریکښ يې، د لمرمخي یار دیدن له ورته
اوس يې پـه هغـه اشــنـا لاره کې بلا ولیـده.

۱۰/۰۶/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

ځان پېژندنه

کله ځان ته هم د بل له ستړګو ګوره
نیمګړتیاوې به دې ورکې شي له کوره
هوښیار کله خپلې کړنې خپلې ستایې
لاپوکان وي چې لوګې کوي بې اوره
راز د مینې دی خوندي ساته په زړه کې
شي د عشق خبرې تل پټې بې شوره
مینه کېږي د دوه زړو په پیوندونو
نه په سوال شي او نه شوې ده په زوره
له ژوندون مې تمه وشلېده چې پوه شوم
خواریکښه! چې لیدی یې نشې نوره.

۱۵/۰۶/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

اقتدا

د لېـــوني زړګي مې هـــر مـــهال رضـــا کړېده
د عشق امام پسې مې بیا ځـــل اقـــتـــدا کړېده
د عـــمـــر پـــولې یې پخپل حسن را ړنګې کـــړلې
که نه په ســپینه ږیره چـا داسې بـلوا کـړېده؟
د ســـترګو لاندې را کتل تســـل مې نه پې کېده
مـا په نیمـه جامـونـو کلـه اکـتـفـا کړېده
د تـاک لـه رګـه مې اوبـه چې د حیات څښلې
له هـر یـو جـام سـره ساقي را تـه خندا کـړېده
غېږ ته چې راغله د تـقوا تـوبه مې مـاتـه شوله
خـود مـاتېـده بـه تـر قیـامتـه چا تـقـوا کړېده
زاهد د جام کړنګا را ویښ کړ حقیقت یې ولید
قـبـا یې څیرې کـړه مینا تـه یې نـڅـا کـړېده
چې د خوبانو په حرم کې یې شـیخ نه پرېښـوده
لکـه ګیـدړ یې په تروه انـګـور فـتـوا کړېده
په خواریکښ چې د جانان غمونه زور شي کله
د تـاک د لـور پـه یـوه کـوڅې یې تـسلا کـړېده.

۱۶/۰۶/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

انکار

نه ګـورم هیـنـداړې ته خـپـه به شم
رنګ مې بېلـتـانه را خراب کړی دی
تل به مې لـه ســاه سره یادېدلـه چې
هــغې اوس لــه مــا مخ اړولی دی
خبر کـه یې انـکار وکـړ او رانـغـلـه
مـا خو یې انځور زړه کې ســاتلی دی
څـوک راټـکـوي د زړګي ور مې بـیـا
یـار خـو دی دننـه څـوک راغـلی دی؟
نن بیـا خواریکښ تـه دلبر یـاد شــولو
ځـکـه یې غـزل ورتـه لیـکـلی دی.

۲۰۱۷ /۱۲/۰۷ - کوپنهاګن

زما

خورا ښکلي مې لیدلي په دنیا دي
چا چې ماته زړه راکړی دی زما دي
دهغه دلبر به ناز په سترګو وړمه
چې په مینه کې ږښتین او بې ریا دي
هغه خاورې به په سترګو ښکلومه
د پل نښې پرې د مور که د ابا دي
د شبخانو په ظاهر چې خطا نشئ
دوی خپل سل عیبه پوښلي په قبا دي
په مُلا چې مې خبرې بدې لګي
ما وی زما ګناه زما او ستا ستا دي.

۰۸/۰۷/۲۰۱۷ - کو پنهاګن

درده!

درده! ېې دردي دې را نـه هـېره کـړه
ېـــــره له مـــــرګي دې را نه هېره کړه
مينې دې آشـــنـا دومره ببخوده کړم
ســـخته پردېـــسي دې را نـــه هېره کړه
تا په سپيـــنه ږيـــره بيـــا مين کړمـــه
تـه يې چې ځـواني دې رانـه هېره کـړه
وويـل بـلـبـل د مـړاوي ګـل غـور کې
اوس غـزلـخـواني دې رانـه هـېره کـړه
دومره دې خپه کړم په جفا لـه ځـان
ټول عـمر خـوښي دې رانـه هېره کړه
ورکړې خواريکښ تـه بـد د ښـــو بـدل
يـاره! چې نـېکي دې ر انـه هـېره کـړه.

۱۰/۰۷/۲۰۱۷ - کو پنهاګن

پېژندل

زه د جانان ستړګو کې ځان پېژنم
که ځان مې وپېژند جانان پېژنم
که د دلبر له نظر ولوېدمه
نو نه بیا ځمکه نه آسمان پېژنم
دې ښار کې هر چا په مخ رنګ وهلی
څنګ به رنګونو کې یاران پېژنم؟
که ډېر مغلق او هم مرموز دی انسان
خو تل له کړنو انسانان پېژنم
چې لاس پې ښکل بالښت په خوله ورکېدي
دا سې نامرده قاتلان پېژنم
چې يې وهلې نړېوالې ناريې
اوس د قامونو دلالان پېژنم
ما په نظر به د جانان ورکتل
د یار جامو کې غمازان پېژنم
خواریکښ اور د بېلتانه کې سوزم
نه مې اور مړ کړ نه درمان پېژنم.

۱۷/۰۷/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

د هنداړې زړه سوی

زړه نن د هنداړې پر مـــا ســوی دی
رنـګ ېې وطـنې را خـراب کـړی دی
نـــه ېې ورانېـــده پـــل زمـــا کلي تـــه
هغې اوس لـــــه ما مـــــخ اړولی دی
څوک مې ټکوي د زړګي ور نن بيـــــا
يار خو دی دنـــنـــه، څوک راغلی دی؟
هـغـو تـه چې ورمې کـړې د زړه ويـنې
هغـــــو مې زړګی را ته زمـــــولـــــلی دی
وې کتل هنداړې تـــــه سر ټيټ ېې کړ
شـيخ نن له خپل ځانـــــه شرمېدلی دی
خـانـدې خـواريکښ ېې پـه خـبرو چې
وار وار ېې د دوی عـمـل لـيـدلی دی.

۲۰/۰۷/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

درد و درمان

په زړۍ سخت خو پر ما ګران دی جانان
چې هم مې درد او هم درمان دی جانان
خوب کې پالـنګ تـه راشي غـاړه راکـړي
په ویـښه وړانـدې له اسمـان دی جانـان
پر هــغــه لار مې کړه لښمــه ورتــه فرش
پر کــومــه لار چې را روان دی جـانـــان
زړه مې ډالۍ ورکـــړ قبـــول پې نـــکـــړ
ځومره مغرور مئین په ځان دی جانان
د خواریکښ ارمـــان، جانـــان وطن دی
پاک او سوتره لـکـه ایمـان دی جانـان.

۲۰۱۷ /۰۴/۲۳ - کو پنهاګن

د مینې کر

مـــا د عـــشـق دانې کړلې په بېدیـــا دي
رقیبـان لا سر لـه اوســـه وار خطـا دي
که د عشـــق رازونه اورې ماته غوږ شـــه
د زاهـــد خبـــرې ډکې لـــــه ریـــا دي
نن ګودر کې چې د ســـترګو جنګ روان و
شهې ډېـر پـه غـشـو ایشتي بـیـا رسا دي
خواریکښ د آهو ســـترګو ښـــار کې ګرځي
د کونړ غـــرځنـــی ټـــولـــو کې والا دي.

۲۲/۰۷/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

تسل

چې د ژوند شېبې ترخې پر ما تېرېږي
بې ترخو مې خمار ځکـــــه نه ماتېږي
چې سپرلی و ساقي خـــوم را لورولـــو
خو په ژمي بې یو جام نـه را لوربږي
له رندانو به ښار ډک و شـور ماشـور و
مېخـــانې اوس په کـــنډرو حسـابېږي
که ساقي د شونډو جام نه یو ګوټ راکړي
ولـــولې مې د ځـــوانۍ بیـــا را پـــارېـــږي
خواریکښ چې په خـــوم نـــه خړوبېدلو
اوس ساقي ته په کـــتـــو بې تسل کېږي.

۲۲/۰۷/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

میکده

میکـــده کې د رنـــدانـــو بیـــا خندا ده
لـــه ســـاقي سره مینـــا هم په نـــڅـــا ده
زه هم ځکه د ســـاقي تر څنګه راغلم
چې د ښار د شیخ وینا تـــولـــه ریا ده
ما د عشق د میخانې له خاورو جوړ کړ
پدې جام کې اوبه څښل مې تـــســـلا ده
د رقیب له خومه ګوټ د زهرو جام دی
د صنم له لاس هر ګوټ د درد شفا ده
خواریکښ چې هر یو جام په مینه اخلم
ما لیدلې پـه هر جام کې ستـا ښـکلا ده.

۲۷/۰۷/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

لکه خالونه توري

لکه شبنم چې سهار ښکاري د ګلاب په مـــخ
دا شـنـه خالـونـه زمرد دی د مـهتـاب په مـخ
ادم چې کلـه، د درخو د بنګړو شرنـګ واوري
شـهبـاز يې ولـوبـړي لـه لاسـه د رباب پـه مخ
چې ورته تـوري هم خـالـونـه د صنم ښـکاري
طالب جان ځکه ګوتې شـمـاري د کتاب په مخ
د ما ليکلو مـاتو ژمـنـو شمېر دې تت ښکاري
نن را نه اوښکې تـــويې شوي د حساب په مخ
د عشـق په تـلـه يې تـلـمه، ستـا د يـاد غـزل
هـــر بېت يې ځکه اغېز کاندي د شـباب په مخ
د سيـنـد په غـاړه يې په ځيـر کـتـل څپـو ته نـن
خواريکښ خپل برخليک ليدلو د حباب په مخ.

۲۹/۰۷/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

پرکال

بې له میو یې مستي راکړه پرکال[1] شوم
د یو چا له خورِ نظره پدې حال شوم
نه مې وپېژنده نه یې پته راکړه
څه معما شوله اخته په څه جنجال شوم
لکه سوله د وطن شوه رانه ورکه
تل په ورکه پسې ګرځم په پرتال[2] شوم
ومې نه لیدله سره له ډېرو هڅو
له سترګیا نه هسې لوند لکه پرخیال[3] شوم
که دې عشق د هسک له بامه راګوزار کړم
ما چې ستا لمن نیوله په پرچال[4] شوم
خواریکښ چې له وصاله تمه پرې کړه
د صنم په ماتو ژمنو سخت بې حال شوم.

۱۰/۰۸/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

---

[1] پرکال: ببخود
[2] پرتال :لټون، لټونه
[3] پرخیال : د ناروغۍ خولې کول
[4] پرچال : بلې، دکلا د دېوال د تیرو چجه

د وفا تله

که هر څو فلک د ژوند پوړې په تنګ کړم
نامرد نـه یم چې بـه ځان د بل په رنګ کړم
مــخ مې بې اخــتــیــاره ښکلیو پسې اوړي
د ډیوې په لیدو ځان احســاس پتنګ کړم
د وفــا په تــلــه ځــان چې تــل تــلــمــه
غواړم یار سره په مینه ځان همســنګ کړم
خوشبویې کړم د پاریس د عــطــرو هبــره
چې خوشبو کله احساس ستا د لونګ کړم
خواریکښې چې د دلبر وصال تــه ځــمــه
غلیمان به سل له مخې نــه په څنګ کړم.

۱۷/۰۸/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

بندي هوسۍ

پـــه رڼـا پـسې روان يم لـه کلـونـو
غـوارم وژغورمـه فکر لـه وهمـونـو
چې په زړه دې وي په خوله هماغه وايه
اوس خو زړونه لوستل کېږي له مخـونو
چې هوسۍ پکې بنـدي آزاد لېوان وي
اور دې ولګي په هسې دښتـــو غرونـــو
د ريـا او کرکې ځاې نـشتـه په عشق کې
په وراسته سپېڅلي پيوند نشي د زړونو
د پيمخـــو ښار ته لاړم تش لاس راغلم
هلـتـه ډېر مخـونـه پټ وو پـه رنګونـو
د ګنـــاه لـــه ډاره راغلمـــه جومـــات ته
مُـــلا خلک ډارول لـــه دوزخـــونـــو.

۰۷/۰۹/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

نیمه خوښي

عاشـقان چې کړي د عشق په باب خبرې
وخت ته نه ګوري کړي بې حساب خبرې
چا چې مینه کړې نه وي څه به پوه شي
چې په سترګـو کې هم شته کتـاب خبرې
درخـانـی بې د هـر تـار پـه رمـز اګاه وه
ادم کـړې ورتـه پـخپل ربـاب خـبـرې
له خـوبـانـو سره کښـه خـورې واوره
تریخ مُـلا کړي د ترخـه عذاب خبرې
د ټهر عېـش یادول هم نیـمـه خوښي ده
زاړه تـل کـړي د شبـاب شبـاب خبـرې
خواریکـښ له خپل صنم سره خلـوت کې
هیڅوخت نکړي په شتاب شتاب خبرې.

۱۳/۰۹/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

وصال

سپورمۍ بدر ده ماښام دی
را سره ساقي ګلفام دی
زه ور ګورم دا را ګوري
په کټو کې يې پېغام دی
وايي: مات کړه خومار مات کړه!
هر نظر مې يو ډک جام دی
لا مې تنده ماته نشي
لا يې خښمه وچ مې کام دی
خړوب نشم په جامونو
وايي: ژوند مې ستا په نام دی
زړه تسل د خواریکښ شي
چې وصال پې نن انجام دی

۲۷/۰۹/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

یاد

که یاد یې را نـــــشي الهام نـــــــه راځي
په خولـــــه خندا هغه ماښـــام نه راځي
ګلـــــتوري ګـــــورم چې غـــــزل ولیکم
خو د لـــفـــظـــونو انسجام نـــه راځي
چې د ســـپورمۍ رڼا وعده بـــــه مو وه
هغه سپورمۍ مو اوس تر بـــام نـــه راځي
په دیدنـــونـــو خو اکـــثـــر بـــنـــدیـــز وي
پر یاد بندیـــــز مې هیڅ په پام نـــــه راځي
خواریکښ لمر پسې ــ له غرو پناه شـــو
لمر تـــنـــدر ونیـــوه یـــو ګام نـــه راځي.

۲۵/۰۹/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

زلفې

په ګـــودر کې مې لیدلې د چا زلـــفې
په غـــزل کې مې ســتـــایلې د چا زلـــفې
خـــبـــر نـــه وم چې بـــه زه په کې بندېـــږم
چې په مخ به را لـــوېـــدلې د چـــا زلفې
لکـــه مزی د بـــرېـــښـــنـــا ټکان یې راکړ
چې پـــه لاس کې مې نـــیـــولې د چـــا زلـــفې
ما تري خپل ځیرې ګرېوان له یو تار وغوښت
خو لـــــه ســـتـــــنې ښـــوئېدلې د چا زلفې
خواریکښ یې ځکـــــه ســـیوري کې آرام و
پـــه ورو ورو یې نـــازولې د چـــا زلـــفې.

۰۳/۱۰/۲۰۱۷ -کوپنهاګن

پام!

شیخـان بـه کلـه د شرابـو په مـزه پـوهېـږي؟
چې يې څکلي نـه وي هغـه بـه نو څـه پوهېږي؟
ښه به يې وړاندې وروسته ګورې بيا به زړه ورکوې
پام! چې هر څوک يې د ساتلو په چل نـــه پوهېږي
تـا سره به کښې درتـه خاندي به، مئين به دې کړي
بيا ستا د مينې او د سر په ســـودا ښـــه پوهېږي
تل مې سـپېځلې مينـــه کړې عشـق کې نکړم دوکې
سياستوال نه ښـــم چې د خلکو په دوکـــه پوهېږي
د خواريکښ زړګي تـه هغو ښـــکليو لار مونـدلې
چې پـه دردونـو او پـردېـســه تـلوســه پوهېږي.

۱۰/۱۰/۲۰۱۵ - کوپنهاګن

رابطه

چې مې ګرېوان په کومه شپه د اوښکو کړښې لري
هغه سهار يې د رخسار ګلونه پرځې لري
جانان له سترګو که پناه شو، له زړه نشو بهر
ياد يې زما د زړه کېږدۍ کې همېش سپرځې لري[1]
تر هغه وخته به يې مينه تل ساتمه زړه کې
تر څو چې قبر مې په خپله سينه ترخې لري
بادار يې ايبله پښې غاليو باندې هم نه ګرځي
د مزدور لاس اوږدې تنې کې لکه کورخې[2] لري
چې مې پياله کې ډکې ګرځي ياد کې هغه راشي
د خواريکښ د زړه اختيار چې لا له مخې لري.

۲۰۱۷/۱۰/۱۰ - کوپنهاګن

[1] سپرځې: لويه ستن ده چې کېږدۍ وريانديې ګينده کېږي
[2] کورخې: فاسوليا، يو ډول پلي دي چې د کتغ په ډول پخېږي

پېرزو را وکړه

ساقي نـــن پېرزو را وکـــړه پـــه ټـــول وس
دومره مې راکـه چې څو دې وي لاسرس
د بېلتون خـــټ لـــه تـــنـــه کـــړم ګـــوزار
د وصال جـامـه کړم جـوړه لـه اطـلـس
دومره ډوب شـــمه په عشـــق کې د جانان
نور ښـــايستـــه په نـــظر راشي لکه خـــس
د ژوند هيله مې اوږده شي ستـــا تر څنګ
بې له تا مې شي د ژوند وروستی نـــفـــس
چې د تاک لـــه لور کوګې واخلم نـــو بيا
ښـــاپېرۍ د قـــاف مې راشي په تيررس
خواريکښ د نـــقـــابـــونـــو شـــا تـــه هـــم
توپير ښـــه کاندي د کس او د ناکـــس.

۰۸/۰۹/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

سراب

دا لـــه څښلمه چې رندان خراب خراب دي
مېـــخـــانـــه کې تر درشل شراب شراب دي
کـــه زاړه دي کـــه پاخـــه او که ځوانان دي
ټول مستۍ کې د شباب شباب شباب دي
څوک ستي شو چـــا تـــازه زړګی بـــايللی
د مينـــو زړونـــه ټـــول کـــباب کـــباب دي
په خولګۍ د تاک د لور که غم غلط کړم
شيخان ما ته په کـــتـــو عتاب عتاب دي
ادم خـان چې په زخمک د زړه حـال وايي
د درخـــو د چـــم وړمې ربـاب ربـاب دي
خواريکښ ورپـــــسې نـــورې هـــڅې نکړي
د پردښس هيلې همـــه سراب سراب دي.

۲۷ /۱۰/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

مینه

مینـــه مې کړېـــده ربښتینـــه مینـــه
پالـــلې مـــا د زړه پـــه وینـــه مینـــه
که چا زما د ژوند کتاب ولوســـتـــه
پـه لار چې ځې وایې بـه مـینـه مـینـه
د سر پـــه بیـــه یې ارزېږي دیـــدن
د پت شـمله زمـــا نـــازبینـــه مینـــه
مـاتـه یې مینـه کې تـیـارې رڼـا شـــوې
لـــرمـــه زه لـــه سپوږمۍ سپینه مینـــه
چې خـواریـکښ پې مـال و سر ورکـوي
ارزښت لـري هـغـه شهـریـنـه مینـه.

۱۵/۱۱/ ۲۰۱۷ - کوپنهاګن

لمدې سکروټې

ما له لمدو سکروټو اور واخیسته، جام راوړه
بیا د ځوانۍ ولولو زور واخیسته، جام راوړه
چې ابۍ غاړې یې له ډاره په مالت نه تلل
ما د هغې د یارۍ تور واخیســـته، جام راوړه
لونګ مې یار لپاره ربیل چې مې لاس غوڅ کړ
زما له لاسه جانان لور واخیسته، جام راوړه
نن یې په لـــپه کې راتوی کړې، منګې نه اوبـــه
ځکه یې ما په سر، پبغور واخیسته، جام راوړه
چې خواریکښ ته یې وعده، د وصال بیا ورکړه
رقیب مې کډه په بل لور واخیسته، جام راوړه.

۱۶/۱۱/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

د خرابات راز

د هـــوښـــيـــار او لېونې دا يـــو آواز دی
پـــاکـــه مينه محـــبت د ژونـــد اغاز دی
ميخانه کې د ژوند خوند او رنګ ســوا شي
د ســـاقي د کـــرشمو عـــجيب انداز دی
مـــا جومـــات کې لټولو ومې نـــه مـــونـــد
مېکـــــده کې مې هر رند د زړه همراز دی
«يوازې مســـت د خرابات په راز پوهېږي
هوښيار څه خبر د دې کوڅې په راز دی»[1]
خواريکښ سره چې جـــام بې ريـــا اخلي
ما منـــلـــی بې پـــه هـــره کـــچـــه نـــاز دی

۲۶/۱۲/۲۰۱۷ - کابل - خپرخانه

[1] دا بيت د فخرالدين عراقي له شعر را ژباړل شوی

تورې شپې

وخت کله تم کېـــږي تورې شـپې په تېرېدو کې دي
مخ د رقیب تور شـو اوس يې پښې. په لړزېدو کې دي
غـصب کـړلـه شیخ په میکـده کې د سـاقي دنـده
خُمـار مې نـه مـاتېـږي میخـانې په شړېدو کې دي
دلـتـه لـونګلـړ کې د لـونـګ په ځای نسر[1] پیې
درېـــغـــه لـــونګین او یـــارانې خـــرابېـــدو کې دي
مـا د جـانـان زړه ته د عشـق مـزې غـځـولي وو
یـــار بې وفـــا شوی هغـــه مـــزي په شلېدو کې دي
واخیسته خولګۍ د تاک له لور نه خواریکښ چې نن
زړه يې شـو خـوشالـه خُـمـارونـه مـاتېدو کې دي.

۳۱/۱۲/۲۰۱۷ - کابل - خیرخانه

[1] نَسر: سېلاب راوړې خځله او د لرګیو کوشنۍ ټوټې

حُب الوطن

تـا نـه ځـارېـدمـه سـپېلـنی بـه وم
تـا بـانـدې مـئین وم لهونی بـه وم
سـتا په تروه ټنډه به مې تریخ شـو ژوند
ستـا لـه خـورِ نظره خورِ ګـنی بـه وم
میـنې دې د ژوند پـه راز خبـرکـړمـه
کـه نـه، بې خبره سـادګـی بـه وم
هر نـفس کې میـنـه د وطن اخلم
بې حُب الـوطنـه، نـه سړی بـه وم
تا کـه سـپینـه خولـه را لورولې وی
ستـا د عـشق بـنده همېشنی بـه وم.

۰۱/۰۱/۲۰۱۸ - ګلوبل ښارګوټی - کابل

ځان بسیا

یـار لـرمـه د پـردیـو حـاجـت نشته
سرو لعلونو سره د میو حاجت نشـــته
زما ښـکار له سـتا یو خورِ نظر کافي دی
د ټـوپک او د مرمیو حاجت نـشـتـه
د نـظـر غشـو پـه زړه یم ټـپـي کړی
د مرهم او د پـټیـو حاجت نـشتـــه
سـتا دمینې په اور زړه زمـــا کباب شـو
د بَل اور او د سپرغیـو حاجت نـشتـه
زه تر عمره د خپـل عهـد بنـدیوان یم
د اړتـون او اتکـړیـو حاجت نـشتـه
خواریکښ چې دې د زلفو په تار بند شو
نو د بیاستو[1] او رسیو حاجت نشته.

۲۶/۰۱/۲۰۱۸ – اسدآباد – کونړ

[1] بیاستو (جمع): بیاسته(مفرد) له وژغنو جوړه شوې رسۍ

خورِ نظر

د زړه بـایلـل تش پـه جمـال نـه کېږي
مینـه پـه زور او یـا پـه ســوال نـه کېږي
لـه ســترګو حـال مې د زړګي ولولـــــه
د زړه خبـــرې هر مهـــال نه کېـــږي
مینـــــه کې رسي تر جنـــــونـــــه سړی
تســـل پې هیڅ پـه اســتـدلال نـه کېږي
مینـه بلهـار غواړي، ربښـــتینی بلهـار
عشـــق پـه درواغو او ټیټـال نـه کېږي
خـواریـکښ تـرې د یـو خـورِ نـظـر دی
چـــــاره پې ځکه پې وصـــال نه کېږي.

۰۵/۰۲/۲۰۱۸ - کابل

د عشق ټوکر

که پاکه چا د خپل وجدان آیینه کړه
له کینو او تربګنیو یې توبه کړه
یې له مینې به یې زړه کې بل څه نه وي
که د عشق له ټوکر جوړه چا جامه کړه
د جانان انځور تل سترګو کې ساتمه
راته ښکلې یې د ژوند هره لمحه کړه
پردېسی کې په هغو یادونو پایم
چې به ما له خپل صنم سره خواله کړه
خواریکښ و تنهایي او د یار یاد و
په دې ډول یې سبا پردېسه شپه کړه.

۰۹/۰۲/۲۰۱۸-ګلوبل ښارګوټی - کابل

د عشق ژبه

زه په خولـــــه کې د عشـــق ژبه ګرځومه
د بدۍ ژبـــــه مې پرېښې۔ ده دښـنو تـــــه
پـه درواغـو او فـريـب يې چـلـوي تـل
ســـياســـتوال ژبـــــه تېره کاندي دوکو ته
د نـــفرت د خـــپرولـــو نيت يې وکـــړ
مُـلا وتـړلـه مـلا نـويـو فـتـنـو ته
شـوله پېغله ګل يې وټـــومبـــه وربل کې
کې يې مات ورکـــړ پـــســـــرلو تـــه
لا تـــر اوســـه د ســـاقي آشنـــايي پـــالم
ځکـــه لار مې بـــنـــده کړې ده توبـــو ته.

۲۰۱۸ - کوپنهاګن

خبره داسې نه وه

د هېڅ آیین او هېڅ کتـــــاب خبره داسې نـه وه
شي د یو عیش د بـل عـذاب خبره داسې نـه وه
ادم درخـــــو سره پې د میـــــنې راز و نیـــــاز کاوه
خو د زخمـک او د ربـاب خبـــــره داسې نـه وه
مـــا درنـــه وپوښتـــل تا و نـــکړه د زړه خـــبره
خو ســـتا د ســـترګو د ځواب خبره داسې نـه وه
تا د خوښۍ لپاره څښـل او ما بـــه ستا له غـــمه
خو د شـــرابـــو او کبـــاب، خبـــره داسې نـــه وه
نه تا ښادي ولیده او نـــه لـــه ما نـــه غم هېر شو
هـــسې شـــوو دواړه نـــن خراب، خبره داسې نه وه
خولګۍ پې راکړه ویل پې بس دې نن له شلو واوښتې
مینه کې نکړي څوک حســـاب، خبره داسې نه وه
ملا شـېطان نه په بریک دانس کې شـاګردي کړېده
چې خم و چم ځي تـر محـراب، خبـره داسې نـه وه
د بې وفـا ســاقي لـه لاســه مې یـو جـام څښـلی
خواریکښ نن چې یم بېتـاب خبره داسې نـه وه.

۲۵/۰۲/۲۰۱۸ - کوپنهاګن

یادونه:

د فانوس پتنګانو د ډلې د سملاسي مشاعرې د دې بیت په مخ

زما په زړه کې ستا په باب خبره داسې نه وه
پـه حاشیه کې د کتاب خـــبره داسې نه وه

راسره يې

ځمه، ځمـه، ځمـه، ته په خيـال کې را سره يې
څښمه، څښمه،څښمه د زړه تال کې راسره يې
څارم څارم لارې ، اختر راشـــي بې تا تبـــر شې
ځانله ځانلـــه زانګـــمه، خو ټال کـــې را سره يې
درلـــــبـــرمه جرګـه به، د زخمک په رويبارې
ترنک ترنګ د رباب شې، سُر و تال کې راسره يې
ژاړم ژاړم ژاړم لـه بـبلـتـونـه، وصال نـشتـه
راشي تـــــبر يادونه دې، په حال کې را سره يې.

۰۴/۰۴/۲۰۱۸- کوپنهاګن

مُلا او ټپه

زړه يې خيرن و، مُلا ځای و د ســـجدې مينځلی
پاچا وطـن پلـوري او پت يې لـه شملې مينځلی
ورځ ګناهونو کې ډوب او شپه په سجدو تېره کړي
د بيا ګـــناه په تکل، نيـــت يې لـــه توبې مينځلی
نــن يې په جــهــر د مــمبــر پر ســر ټــپــه وويلــه
ملا سړی شـــو که يې زړه دی لـــــه کينې مينځلی
پر لاس يې نښـــه کړه چې هېره يې وعده نشي خو
فراموشکار جانان مې، لاس هم له وعدې مينځلی
چې د سرباز په مور يې، زېری وکړ زوي دې راځي
له خوشـــالۍ يې نن، درشـــل د دروازې مينځلی.

۲۰۲۰/۱۱/۱۷- کوپنهاګن

تنده

بې لـه ملو مې هیڅ تنـده نـه مـاتېږي
بې له شـکلـــومې سرچـــا ته نه ټیټېږي
مـا د یـار لـه غمـه خپـل غمونـه هېرکړل
د یـار غم راسره ســیوری دی ګرځېږي
کلــه ډک جــامــونــه څښمــه د انــارو
کله خولـــه مې د هجران په اور سوځېږي
د وصـال شـپه په خوښۍ کې ژر سـهر شي
په ښلتون د یــار کې شپــه نــه سبا کېږي
هغــه وخت زمــا پر سر مېچــنې ګــرځي
چې مئین لالی مې څنګ نـه جـدا کېږي.

۱۴/۱۱/۲۰۲۰-کوپنهاګن

نڅا

مست هوسونه دې خندا کې ناڅي
د کنډولونو په کړنګا کې ناڅي
شیخ مېکده کې پرون زړه نازړه ؤ
خو نن يې جام په لاس بېدیا کې ناڅي
ببګاه سپوږمۍ ته مو په ګډه کتل
نن دې یادونه په مینا کې ناڅي
په ځنکدن کې راته وایه ټپه
چې دې خوږ غږ راسره سا کې ناڅي
لکه د ګل د سهارونو خوشبو
د خواریکښ مینه وفا کې ناڅي.

۱۶/۰۴/۲۰۱۸- کوپنهاګن

سپرلی

ما وی یار سره به ځم د ګل تر څنګ
جنګوو به ډک جامونه کړنګا کړنګ
ما لا جام ډک کړی نه و سپرلی لاړ
خزان راغی د ګل پاڼې نه شو رنګ
یا به سر ږدم د شهرینې په څنګل
یا وهم لکه فرهاد پې په کلنګ
یا د یار انګاري شونډې ښکلوم
یا پرې ځان هسې سېزم لکه پتنګ
بختورو ته نصیب د یار وصال شي
د بدبخت په برخه نشي یو اترنګ
په ګودر به د لونګو خوشبویي وه
اوس د پېغلو په ټټر نشته لونګ
ما وی نیسم به د بل سپرلي تابیا
خو مو حال و له ماضي سره په جنګ.

۱۶/۰۴/۲۰۱۸ - ګوپنهاګن

ازموینه

د دیدن لپاره ناست وم، ستا درشل کې
تا لـه خوا نـه به شړلم، زه بـه نـه تـلم
مـاشومـانـو ستـا د چـم، پاګـل بـللـم
او په کانـو یې ویشتـلـم، زه بـه نـه تـلم
تا ویل ځه چې نور، په کلي کې رسوا شوو
تا لـــه زنې به نیولم، زه به نـــه تـــلم
څه عجـیـبـه، لـیونۍ وه زمـا مـیـنـه
که هر څو دې ځورلم، زه به نـــه تلم
چې د مینې امتحان کې کامیاب شـــوم
تـــا په غېږ کې بیـــا نیولم، زه به نه تلم.

۲۰۱۸ /۰۴/۱۷ - کوپنهاګن

له توبو، توبه

له ســاقي سره مې شــپه کړه ما د خپل خمار کیســه کړه
خوله مې وچه وه له تندې دې را ډکـــه پیمانـــه کړه
له توبو نه مې توبه کړه

ژوند مې تېر ټول په توبو شو په بیــابــان او سرابــو شــو
په توبـو کې وچـه خولـه وم خوصنم مې خولـــه لمده کړه
له توبو نه مې توبه کړه

جـنـګـوه مې ورسره جـام شـــومه مســـت لکه خیام
مـا د یـار او یـار زمـا بـه ټوله شــپه کې تماشـــه کړه
له توبو نه مې توبه کړه

مـــا یې زلـــفې نـــازولې دې مې ســتـــرګـــو ته کتلې
ما خولګې به ترې غوښتلـــه ویل یې واخله خوله خوږه کړه
له توبو نه مې توبه کړه

لا مو تنـدې مـاتې نـه وې لا مو خوالې خلاصې نـه وې
چې ملا د سهار نـــاره کـــړه مـــا ویل لـــږه اوسېلـــه* کـــړه
له توبو نه مې توبه کړه.

۲۴/۰۴/۲۰۱۸- کوپنهاګن

* اوسېله:حوصله

د جانان وایه!

ماته که هر څومره څه وایې د جانان وایه
راته پردې خبـــرې مـــه کوه د ځـــان وایه
مینـه مې کړې ده کـوم پې، پې بـاور لـرم
که عاشـــق نه ومه نو، ماته بې ایمان وایه
په هر آیین او دین کې شته د محبت سکالو
مـاتـه د میـنې ایـتـونـه لـه قـران وایـه
چې د نفرت د کروندو زهربوټي ټول وچ شي
ماته ګلبڼ کې د ربښتینې عشق داسـتان وایه
که د جنت وعده دې ورکړه خپله مور وژنې
دې دوزخیانو ته کیسې د حـور غلمان وایه.

۲۴/۰۴/۲۰۱۸ - کوپنهاګن

بې یاره ژوند

ډېره راتـه ســختـــــه ده بې یـاره ژونـدون نکېږي
ځکـــــه پـــردېـــسې کې بې خـــماره ژوندون نکېږي
شېخــه راتــه مــه وایــه پــه ښکلیو نــظــر مــه کوه
څـومـره بـه روژه یـم بې افـطـاره ژونـدون نـکـېږي
مـــاته د کونـــړ دېرې حجرې چې کلـــه یادې شي
بـیـا مې بې منګې او بې ســـېـتـاره ژونـدون نـکـېږي
کلي کې مئیـــن ومـــه ښـــاري صنم هـــم زړه راکـــړ
ســـخته شـــوله مینه اوس بې ښـــاره ژوندون نکېږي
ناست چې خواریکښ د تاک له لور سره خلوت کې وي
بیا نو مُـــلا جانـــه بې دلـــداره ژونـــدون نـــکـېږي.

۲۰۱۸ /۰۵/۲۱- کو پنهاګن

د کعبې اجر

مـا د عشـق په امـر بـند کـړ د تـوبې ور
نـن شپـه بیا چې تـکـوم د محـبـوبې ور
حـاجیـان لاړ شي تر مکې کړي دُعـــاګانې
ما ته ستـا درشل ښکارېـږي د کـعـبې ور
د کـــعبې اجـــر په کـــور کې ور رسـېـــږي
که بېوزلـــو ته چا پرانیست د حـــجرې ور
ښـاپېریـو پـسې نـه ځم د قـاف غـر ته
د یـــار چم کې لـــټوم پې د کـــوڅې ور
چې دیدن د خپل صـنم لـــه پې ورځمه
ما تـــه یو دی د کـعبې او بـتـــخـانې ور
چې د مینې په ځـای کرکـه پـه کې ښـیي
راځئ وتـــــړئ د داسې مـــــدرسې ور
د پردېـــس ترڅې لمحې ورتـه خوږې کړي
خواریکـــــښ ته شي تســـل د مېخانې ور.

۰۷/۰۶/۲۰۱۸- کوپنهاګن

ماته توبه

مـا لـه اوږده خمـاره وروسـتـه بيـا توبـه مـاتـه کړه
په سرکـو شونـډو مې مـاښـام خپلـه روژه مـاتـه کړه
د عشـق شـراب سـاقي د سـتـرګـو کټـورو کې راکـړه
دومره ببخود شـــوم چې په لاس کې مې پياله ماته کړه
يـاد د يار کښـناست اعتکاف کې الـهام هم نـه راځي
د شـعـر روژه مې ځکـه نـن په يـوه ټـپـه ماتـه کـړه
د ديـدنـونـو جـل وهـلـی ببـلـتـون سوی ومـه
د وصـــال تـــنـــده مې جانان په تش وعده ماته کړه
خواريکښ ډبر ترخه نن ځښل چې ستا جفا هېره کړي
جفا دې زور شوه د تـرخو يې هم نـشـــه ماتـه کړه.

۰۸/۰۶/ ۲۰۱۸- کوپنهاګن

د خواږه انتظار

په ترخو شـــپو کې انتظـار د یو خواږه وبـاســـم
پـه یو دیـدن پې د هجران واړه تراخـه وبـاســـم
چې د زړګي د درزا ریتم پې وا نـــــه ورم کلـــــه
د څوکیدار غوندې بیا شـــپه تر لمرخاته وباســـم
کړې وعـدې پې کړلې مـاتې او رانـــــغی تر نن
ځکه خو اوس نو پې وفـــا دلـــبر لـــه زړه وباسم
چې بـه همښ د یـار د مینې پـه لمبو ســـوزېـده
سـوی زړګی مې نور د عشـق له تنـــاره وبـــاسـم
که مینه اور دی خواریکښـــه خو ښېلتون هم دوزخ
له دې دوزخه به ځان څنګ په څه پلمه وباسم.؟

۲۳/۰۶/۲۰۱۸- کوپنهاګن

د رواج تیارې

مـــوده وشـــوه و مې نـــه لید د لیلا مخ
درواج تیـارو کې پـټ دې د اشـــنـا مـخ
پـه دلبر مې بـاور دومـره و پـوخ شـــوی
چې بـه ماتـه شـــکاره نـه کړي د جفا مخ
بې نصـــیب چې له دیدنه د جانان شـــوم
بـــیـــا مې هیڅ لیدلی نه دی د شـکلا مخ
د لـــوبـــدیـــز د شکلیو مینـــه بـــازاري ده
شـــپه دې غیږ کې ســـهار اړوي له تا مخ
راشـه نـــن بـــه بیا د مینې یاد تـــازه کړو
شـــه په زغرده را څرګند کړه د وفـــا مخ
هغـــه وخت بـــه مې د مینې ثـــمر ویـــنم
چې دې شـکل کړم سره لـــعلونه او زیبا مخ
ســپورمۍ ځکه د وریځ شـاته پـــناه کېږي
چې لـــه زلفو را بـهـــر شو نن شپه ستـا مخ
خواریکښ نور د بېلتون لـه دوزخ ژغوره!
په خړ ګرد پې د وطن شـــکلی کړه بیا مخ.

۱۵/۱۰/۲۰۱۸ - کوپنهاګن

د عشق کرامات

چې خبر شـومه د عشـق له کرامـــاتـــه
سـتا په مینه مې کړه ټوله دنیا شـــا تـــه
د دلـبـر وصال تـه هـغـه مئیـن رسي
چې يې لاره بـنـــده کـــړي وي ریـــا ته
چې په نوم د غنیمت چور او تـالان کړي
لویه خدایه کړي د دوی خونـــه میـــراته
هر غـــاصـب سره حسـاب په دنیا وکړئ
منـتـظر يې مه پـربـردئ تـر عـرصاته
مـلا بـیـا جـومـات کې څـه نـاروا کـړي؟
چې ســامبولی تښـتېده نن لـــه جوماته
چـا چې پـټ کړ حقیقـت د ږیرې لانـدې
د هغـه ږیره کړئ کله خولـــه يې ماته.

۱۸/۱۰/۲۰۱۸- کوپنهاګن

خواږه کتل

زړه به مې ټکور شـــو، چې به تا راته تاوده کتل
وسـومه سـتې شـوم، چې دې نن راته سـاړه کتل
ما به دې په ســترګو کې، د مینې کتاب ولوســته
ټولــو کتل مونږه ته، خو مورِ به چا ته نــه کتل
پت د میکــدې چې چا، د سر په بیــه وساتــه
اوس ورته د ښــار رندان، کوي ځکه درانه کتل
چا چې د وطن لـــــپـــــاره سر نذارنه کړی دی
نن ورته په قدر د دې ملک، هر پښــتانه کتل
مــا یې په ملالو سترګو، هغه وخت زړه بــایلوده
چې ما ته یې په مینـــــه، رقیب ته یې ترخه کتل
رنګ د مستو سترګو دې، له مانه هېرېدو کې دی
ولوروه بیــا پــه خواریکښ، هغــه خواږه کتـل.

۰۹/۱۰/۲۰۱۸- کوپنهاګن

خواږه

خولـــــه خوږه ګیلې خوږې، پټ پټ د یار کاته خواږه
یــار تــه تلــه راتلــه خواږه، یــار سره کښــاســتــه خواږه
تلم چې به دیدن لـــــه یې، لږه بـــــه مې رویبـــــار ورته
هــوکــړه د صنــم خوږه، بــام ته یې را خــاتــه خواږه
تریخ وي د پردی انـــګړ، ترخـــې د پردښـــی لـــمجې
خپل وطن کشـــمیر نه ښـــه، د خپل کاله خواړه خواږه
نـــــلري آرام پردی پالنګ، تـــــر نـــــیمې شـــپې وي تل
خوږ د خپل تلتک خوب او خپل کټ کې ځملاسته خواږه
خـــمـــار یم نـــا قـــرار یـــم، جـــل وهـــلی د مـــودو یـــم
جام خوږ او مینـــــا خـــــوږه، د تاک د لور هر څه خواږه
ټوپک بدرنګ، مخ د جګړه مار بدرنګ جګړه ترخـــــه
قـــلـــم ښکلی، مـــعـــلم ښکلې، سوله واړه ښه خـــواږه.

۲۳/۰۶/۲۰۱۸- کوپنهاګن

غنم رنګ

زه مئیــن یمــه او میــنــه مې روزګــار دی
بې لــه عشــقــه رانــه پاتې هر یــو کــار دی
بــادشاهان په زور او زرو خوشـــالېــږي
ما ته خورِ نــظــر د خپل یار افتخــار دی
د راتګ وعده یې ســســتـــــه غوندې کړې
زړه مې ځکــه په ګوګــل کــې ناقــرار دی
د دنیا خوښي د هغه چا نصــیـــــب وي
چې روان تـل بې ریا د عشـــق په لار دی
خواریکښ کــه د پیمخو انتخــاب کړي
ورته غوره غـــــنم رنګ د خپل دیار دی.

۲۶/۱۰/۲۰۱۸ - کوپنهاګن

د مینې کر

مینــه وکــره د ژونــد پــه کــرونــده کې
نــو بــه مینــه په لاس درشي ثــمره کې
لــه هــغه کــس سره مــل په لاره مــه ځــه
چې دوکې او کــینې ګــرځــوي تــوبــره کې
نــن انــســان تــه بــدمــرغــۍ هــغو راوړې
چې یې زهر دي پــټ کړي پــه خوړه کې
مــا دېــوان د نــړۍ ولیدل په ســتــرګــو
چې ښــکېلاک یې ؤ پوښــلی مفکوره کې
خواریکښ چې مینــه درکړه مینــه ورکړه!
چې دې ســاتي تل پخپلــــه انګاره کې.

۰۲/۰۷/۲۰۱۸ - کوپنهاګن

که ژوند تللی په شا...!

اخ کـه ژونـد تـللی پـه شـا
تـېر وخـتـونـه راتـلی بـیـا
تـا پـه غـلا غـلا را کـی
مـا دې هـم لـیـدلی غـلا
زړه مې ایسـتـه لـه ګـوګـل
درکـاوه مې بـرالا
مـا سـور ګل درتـه نـیـوه
سـتا خولـه ډکه لـه خـنـدا
زمـا لاس کې وی ډک جـام
بې پـروا وی لـه دنـیـا
نـه پـابـنـد وی د هـیـخ دود
نـه مې ډار وی لـه فـتـوا
ښـکـلـولی مې ښـکـاره
غـېږ کې ټـیـنـګ نـیـولی تـا
وی پـوره بـه مـو ارمـان
هـم زمـا او هـم بـه سـتـا
خـواریـکښ بـه وی خـوشـال
غـابښ چـیـچـلی بـه مـُلا.

۰۲/۱۰/۲۰۱۸ - کوپنهاګن

د مینې څپې

زما د سترګو سمنـــدر کې ستـــا د مینې څپې
لکه ســپرلي کې د راســـا یاغي واورینې څپې
که تـــر منـــزل دی ګرداونـــه توپانـــونه پـــاتې
دعشـــق مـــانـــو مو تېروي لـــه اخـــرینې څپې
تېک غواصـانو له بېړۍ دانګل مر جان لـــپاره
رښـــتین پارو وهي د لمر ښـــار تر زرینې څپې
په بـــلهارۍ به د صنم درشل ته لار پاکـــه کړم
لا په مســتۍ کې دي زما د عشـق رښـتینې څپې
خواریکښ مینه کې دریځ د ابراهیم خوښـــوي
د خپل صنم وصال ته ځي وي که اورینې څپې.

۲۰/۰۷/۲۰۱۸- کوپنهاګن

مچکه

د رقیـــب مـــات کې یې مـــچکـــه راکـــړه
نـــن پـــه شپه سات[1] کې یې مـــچکـــه راکړه
چې پـــرونۍ ژمـــنـــه یې مـــاتـــه کړلـــه
په وعده مات کې یې مـــــچکـــــه راکړه
شکلا یې حـــد تـــه د نـــصـــاب رسېـــده
نو په زکات کې یې مـــچـــکـــه راکـــړه
حج کې عرېې نـــه مې خولـــه وغوښـــته
بوښتلم میقات[2] کې یې مـــــچکـــــه راکړه
د ګـــنـــاهـــونـــو کـــفـــارې لـــپـــاره
څو ځـل خیرات کې یې مچکـــــه راکړه.

۲۱/۰۸/۲۰۱۸- کوپنهاګن

[1] سات: ساعت
[2] میقات: د حاجیانو د احرام تړلو ځای

د يار څنګ

نــه پــه شرابــو او نــه بــنــګ کې شــته
هغه مســتي چې د يار څنګ کې شــته
چې يې نـــرګس د سترګـــو سـيال نه دي
داسې مـــلالې پـــه چارمـــنګ کې شـــته
چې ســـتا د تن د خوشـــبو سُـــود پې شي
دا جـادويي خوشـــبوی لونګ کې شـــته
څومـره پيکـه دی يې جـانـانـه ژونـد
رنګ د دوزخ په پردښ رنګ کې شـــته
د شـــيـــراز تُـــرکـــو ورتـــه کـــوړه ايـــښې
هسې. نخرې يار غـــنمرنګ کې شـــتـــه.

۲۰۱۸ /۰۷/ ۲۵ - کوپنهاګن

د صنم سترګې

د صنم سترګو کې شل خومـــه مستي ده
په خــندا کې يې د ميــنې خــوشبــويې ده
هــر سرکښ يې پــه يــودوه خبرو رام شي
په پستــه خولــه کې يې څه جادوګري ده
هيــخ ريا او شک مې نشــتــه مېينتوب کې
د يــار عشــق کې مې منــلې بــلــهــاري ده
د ړانــده بــاور ورستې کــړې کــړئ ماتې
لـــه اوهـــامـــو آزادۍ کې آزادي ده
خواريکښ دې په يو خوږ نظر ښکار کړې
نــظر مــه بــنــدوه دا مې تــبــاهي ده.

۲۰۱۸ /۱۱/ ۰۳- کوپنهاګن

روږدی

خوب کې رائي خو په ویښتوب نـــه رائي
هـغـه پـه مـیـنـه کې نـاسـوب نـه رائي
د مـیـنې درد ســره هــسې روږدی شــوم
چې اوس بې درده رالـــه خـــوب نه رائي
ببلـــتون پـــه زړه داسې ګـــوزار راکـــړی
دنـــنـه مـات بـهـر پـرسـوب نـه رائي
رویبـــار پوښـــتي چې لیـــونی لا نه دی؟
لا پې څپـــه د لیونـــتـــوب نـــه رائي؟
زه خواریکـــښ بـــه خامخـــا دردېـــږم
چې د وصـــال پې رالـه ســـوب[1] نه رائي.

۰۷/۱۰/۲۰۱۸ - کوپنهاګن

[1] سوب: چاره، علاج

جانان ته

بې تانـه مې په ژونـد کې، کلـه تاب کېږي جانانه
په یاد دې ټوله شپه کې، کله خواب کېږي جانانه
بـاران د شـایـسـتونـو پې، پـه تـا دی وورولی
په نم د انـــنګـــو کې دې، ګلاب کېږي جانـــانـــه
د ســـپین مخ په رڼا کې دې د مینې غزل لیکم
حسد درسره نـــن چې د مهتـــاب کېـږي جانانه
ســهار دې وعده کړې وه، بېګاه دې کړه بیا ماته
اخر خو بـــه زمور تر منځ، حساب کېږي جانانه
د حســـن په زکات کې دې، خولګۍ په مینه راکه
په ورکړه د زکات خو هم، ثـواب کېږي جانـانـه
پرون مې کوګۍ درکړه نن پې بیـــــا په تمه راغلې
نو تا سره به څنګ حســـاب کتاب کېږي جانانه
که واک د غوراوي مې په پیمخو کې نصـیب شي
نـو ســتـا د غنمرنګ بـه انـتـخاب کېـږي جانانه
د میـــنې بیـــابـــان کې جل وهـــلی د وصـــال یم
ګومان مې ســتـا په ژمنـو د سراب کېږي جانانه
نـارې د یه قـربـان نـشتـه، دېرو د پـښـتـنو کې
نه ټنګ د منګي شتـــه، نه د رباب کېږي جانانه
د نـن په میخـانـو کې هیڅ نشـه د مستۍ نـشتـه
نه مست شوم په شرابو، نه بنګاب کېږي جانانه
مُـــلا په مېخانـــه کې، د ساقي مقـــام نـــیولی
په زړه د خواریکښ کې التهـاب کېږي جـانـانـه.

۱۷/۱۱/۲۰۱۸ - کوپنهاګن

عشق

شتـه مې نشتـه اعتبـار مې دی لـه عشـقه
هم عمل او هم ګفتـــار مې دی لـــه عشقه
مـئین زړه مې مـالامـال لـه محـبـت دی
«زه عاشق یم سروکار مې دی لـه عشقه»[1]
د ولـس ځیـرې ګرېـوان بـه پرې ګـنـډمـه
څو په لاس کې ستن او تار مې دی له عشقه
په ورو ورو پرې قدمـــونه ږده خوږ نـــشې!
په بـنـو فرش درته ښـار مې دی لـه عشقه
خواریکښ ته لـــه شاهي تاج غوره ښکاري
د خـامتـا سـاده د ستار مې دی لـه عشقه.

۲۶/۱۰/۲۰۱۸- کوپنهاګن

[1] دا نیم بیت د رحمان بابا نه پور شوی:

زه عاشق یم سر و کار مې دی له عشقه
نه خلیل نـه داودزی یم نـه مومند یـم

ښکلي وختونه

زړه نــه نــاخــبره مې وه راتــلــه
شـوه چې بيا خبـــره همېـــشـــه راتله
مينـه پخيـدلـه ژونـد مو خونـد درلود
ښـــکلي وو وختونـه چې بـه تلـه راتلـه
مـا وی چېرتـه هېر مې نـه کړې وې ويـل
دا خبـــره څنګه ستـــا په خولـــه راتله؟
اور په وطن بل شـــو او بيـــا را نغلـــه
تل چې بـــه زمـــا په تلـــوســـه راتلـــه
خوب کـــې هره شپه هلتـــه ګلان وړمـــه
چېـرتـه چې بـه هر مهـال هغـه راتله.

۲۰۱۹/ -۰۲/۱- کوپنهاګن

مئین

نـه پـوهـيږم چې لـه کلـه پـرې مـئين يـم
راتـه ښـکاری لـه ازلـــــه پرې مئين يم
ښـاري ميـــنې موســمي وي تمامېـــږي
کليوال يم تـل تر تلـــــه پرې مئين يم
د وطن د ښـکليو ســيـال مې پيـدا نکړ
لـــه کونـــړه تـــر کابـــلـــه پـــرې مئين يم
د شـــمـال او د ســهيـل ببلې ښـــکلاوې
لـه پـاميـــــره تر زابلـــــه پرې مئين يم
د شـــمال ښـــکلې که لعل د بدخشـــان ده
د جنـــــوب ده انـارکلـــــه پرې مئين يم
د جـانـان وطن لـه کـانې بوټې ځـار شـــم
يو وار نـــه په هـــزار ځلـــه پرې مئين يم
لا مې تنـده پـه وصـــال يې مـاتـه نـه ده
وار خطـا يم ډېر لـه جلـه پرې مئين يم.

۰۲/۰۲/۲۰۱۹- کوپنهاګن

خوښه

که د سرو میــو سره ځلا وي د ساقي په شــونډو
ورځم که لږ ست و سلا وي د ساقي په شونډو
تل د ســاقي دا دوه اندازه مې خورا خــوښېږي
قلقل مینا چې کړي موسکا وي د ساقي په شونډو
کلــه چې جــام راکوي سترګو ته راګوري خواږه
زه چې ببخود شمه خندا وي د ساقي په شــونډو
په دومره شرق جامونـه ووهو چې دارې وکړي
بیا د رنړو څــاخــکو رڼا وي د ساقي په شــونډو
له کلـــه دې ښــار کې په میو چې بندېز ولګید
د جام له کړنګ سره رپا وي د ســاقي په شــونډو.

۱۳/۰۳/۲۰۱۹- کوپنهاګن

زړه

زړه مې درکړ اوس را ولوروه ســـتا زړه
محـــبـــت شي خپلـــولی نـــا اشـــنـــا زړه
په خـــواږه نـــظر چې تـــا بـــه راکـــتـــلې
رانـه وړه بـه دې ګوګل نـه خـامخـا زړه
هغه سـتا مسـته خندا د عشـق چنګک وه
لکه کب چنګک کې ونښـــتـــــــه زما زړه
د دوزخ لـــــه اوره ځکـــــه نـــــه ډاربـــږم
مـاتـه کړې مې توبـه ده، نـه د چـا زړه
هسې ـــ وایي چې له زړه نه زړه ته لار وي
مـــا زړه ورکـــړ هغـــه ګرځي بې پروا زړه.

۲۱/۰۳/۲۰۱۹-کوپنهاګن

پیکه مینې

میـــنې پیکـــه شوې د وفـــا پکې رنګ پاتې ندی
په لـــونګین کې هغـــه بـــوی د لـــونګ پاتې ندی
نجونې په تورو لوټو کې ســـپین لاســـونه ګرځي
مـــلا بـــاروتو کې سبـــزلي اتـــرنګ پـــاتې نـــدی
چې به کچکول سره د یار په مینـه مست نشېده
اوس د مستۍ په هغه جوش کې ملنګ پاتې ندی
په یوه پیـــالـــه به یې تمامـــه ورځ ببهوش و سړی
د بنګ اوبو کې د نـــشې هغـــه منګ* پاتې ندی
هغه خړســـترکې چې مقام لپاره قـــــام خرڅوي
شـــمله اوږده لري خو سر کې یې ننګ پاتې ندی
چا خواریکښ ته چې منلی و قلنګ د خولګـــــۍ
وایې زړه صـــبر کړه چې نور دې قلنګ پاتې ندی.

۰۱/۰۲/۲۰۱۹- کوپنهاګن

د وصال یاد

په خوږه خوله تل خواږه راځي په خوله
واړه ښـــه دي چې دې څه راځي په خوله
کـــه دُعـــا نـــکـــړې خبـــرې راتـــه کـــوه
ســـتا د خولې لفظونه ښـــه راځي په خوله
د وصـــال یـــاد یې تـــازه شي پـــه یو ګوټ
لـــه راســـا نـــه چې اوبـــه راځي په خوله
هر څـــاڅکي کې اویا خومـه مســـتي ده
ســـتا له جامه چې شـــوملـه راځي په خوله
وعلیک خو دې ځواب زما د ســـلام وي
خـــو سلام دې ولې نـــه راځي پـــه خـــوله
خواریکښ دې لـــه انکاره بېـــزار شـــوی
چې دې بولمه ســـتا «نه» راځي په خوله.

۱۱/۰۴/۲۰۱۹- کوپنهاګن

ګودرونه او چینارونه

زړه د عشـــق له کار و باره پاتې مه شـــه
یوه لمحه مې ژوند بې یاره پاتې مه شـــه
لکه زه چې تا د عشـــق په اور ســـتي کړم
هسې ستا زړه بې انګاره پاتې مـــه شـه
لا په ډډ بې شـــــتـــه د مینې یادګارونه
ګـــودرونـــه بې چیـــنـــاره پاتې مـــه شه
خـدایـه! خپلـه مرور یـار را پخلا کړې
دا خبـــره تر رویـــباره پاتې مـــه شـــه
چې زمـا وطـن تـه ګـور ګـوري رقـیـبـه!
دواړه ســـترګې دې بې خاره پاتې مه شـــه.

۰۴/۰۵/۲۰۱۹- کوپنهاګن

زما دلبر

د عشق له ښایستونو نه مې جوړ کړ خپل دلبر
زرین د وفا تاج مې ور ته کېښوده په سر
مینه عاطفه مې ورته واچوله زړه کې
ګرمي د محبت يې راوتله له تېټر
څښتن ورته په ویش د نعمتونو کې ورکړي
ښکلا او اداګانې په کنډه دي برابر
سپینې نرمې لیچې او مشکینې ګېډې زلفې
بالښت زما د سر وي هره شپه کې تر سحر
ځمه سرکانو[1] ته سپیلني ورله راوړمه
چې مات کړمه د ښکلې کونړۍ شهۍ نظر.

۲۶/۰۴/۲۰۱۹- کوپنهاګن

[1] سرکانو: دکونړ ولایت اړوند ولسوالي ده چې په ډاګونو کې سپیلني ډېر پیدا کیږي

بند وَر

کـــه هر څـــو يې ټکومـــه د زړګي ور
يـــار زمـــا په مخ تـــړلی دی ببخي ور
موده وشـــوه چې په خوب کې مې رانغله
چې مې خيـال هم کلـه ورشي نو تړي ور
اوس خو هغې شـهی مينـــه هبـــره کړې
په خندا چې پرانيســتلـــو ســملاسي ور
د دوزخ لـــه اور بـــه ولې زه ډارېـــږم
چې د زړونـو منـځ کې ځـم تـر جنـتي ور
خواريکښ دې دام د زلفو کې بند شـــوی
يوځل راشه او کړه خلاص ددې قيدي ور.

۲۰۱۹/ ۰۵/۲۳ - کوپنهاګن

تیګې نه ګبین راته

تل کـــــه په تمکین راته خو ښـــه راته
خوا تـه بـه نیـازبین راتـه خو ښـــه راتـه
نـــــن چې پې خـــــورې خبـــــرې وکړلې
تیګې نـه ګبین راتـه خو خو ښـــه راتـه
تــن مې اروپـا کې خـیـال وطـن کې و
مختـه کور ختین راتـه خو ښـــه راتـه
تل بـــه مـــاښامـــونـــو کې دلبـــر راتـــه
نن چې ماســـپښـــین راته خو ښـــه راته
یـار چې بـه رقیـب تـه تـل تراخـه ویـل
ماتـــــه بـــــه شـهرین راته خو ښـه راته.

۲۱/۰۵/۲۰۱۹ - کوپنهاګن

نظر

زه پـه لار يـم خـو بې لارې مې نـظر دی
په هر ښـکلي پـسې ګوري انځـورګر دی
بې ریا او تمې میـــنـــه بې عـــادت دی
د لمر مخې جانـــان بې مزده نـــوکر دی
بې له عشـقه ژوند ناشـونی راته ښـکاري
لـــه ازلـــه مې لـــه میـــنې سره سر دی
خواریکښ بس د پیمخو زړونـه ســـاتي
پـرواګیر نـه د ټـولـواک نـه زوره ور دی
بـــاور مـــه کوه کـــه وایی نـــه ډارېـــږم
د لمســـیو او د نیـا لاس یې پرې بر دی.

۱۰/۰۶/۲۰۱۹- کوپنهاګن

کانړو کې اوبه

ما چـــې اشـارې سـترګـــو کـــې ولیدې
ما یـــې دام دانـــې سـترګو کـــې ولیدي
خیر که چوپه خوله وه همېشـــه شـــهی
مـــا یې افـــسانـــې سترګـــو کـــې ولیدې
نن یې نه غوښـــتل چې ترینه لاړ شـــمه
ما چې یـــې ګیلـــې سـترګو کـــې ولیدې
هغه چې رقیب ته لکـــه تـــنـــدر وي
ما یـــې عاطفې سـترګـــو کـــې ولیدې
چا ویل چې کـــانـــې اوبـــه نلري؟
ما نن د هغې ســترګـــو کـــې ولیدې
نن یـــې خواریکښ په یو نظر ســېـــزه
مایې سرې لمبـــې سـترګو کـــې ولیدې.

۲۱/۰۵/۲۰۱۹ - کوپنهاګن

نابلدي

ښکلي خو ډېر دي، زه له تا نه بغېر نه يم بلد
لامبو مې زده ده خو ، راسا نه بغېر نه يم بلد
مينه مې کړې ده ، مين يم او کومه مينه
په محبت کې ، له وفا نه بغېر نه يم بلد
د تندي خاله له ټيکې سره سيالي کوې ته
د زنې خاله ستا ښکلا نه بغېر نه يم بلد
مُلا د دين هټۍ پرانيستې تجارت پې کوي
زه عبادت کې له دُعا نه بغېر نه يم بلد
امير سونا او د تودو اوبو مساژ کې ناست وي
زه په لوتکۍ له استنجا نه بغېر نه يم بلد
غليم زما وينې ځبېښي او خرمستۍ پې کوي
زه چې افغان يم له ژړا نه بغېر نه يم بلد
ستا د وصال ژمنې وارې ځلوبې ښکارېږي
خواريکښ ځکه له ځغستا نه بغېر نه يم بلد.

۱۳/۰۸/۲۰۱۹- کوپنهاګن

سخته توبه

راکـــړه پخپل لاس صـــنم پیالـــــه راته
نـــن ډبـــره خـــورړه مـــالـــومبـــده راته
بیا یـــې لـــه وعدې بـــوي د وفـــا راته
سترګـــو کې یـــې مینـــه ځلـــبـــده راته
ګنـــډې مـــو د زړونـــو سره پرانـــیستـــې
وې منـــلـــه څو کـــوګـــې نـــاغـــه راته
ما لـــــه سرو شرابـــــو لاس اخیســـتی خو
سخته ده لـــه سرو شـــوندو توبـــه راته
یار ته چـــــې ورځمه د وصـــال په پار
هر اغـــزنـــه لار ښکاري پومبـــه راته
لمر ته مـــې تدبـــیـــر د راوستـــو وکړ
شـوه سـپیـــنه رڼـــا د اور لمبـــه راته
کلی او ګودر مـــــې لـــــه زړه نـه وځي
ښـکـاري خپـل وطن لکـه کعبـه راتـه
خضـــــــره! کـه راکی د میو جـام راکړه
هیـــخ مـــه راکـــوه د ژوند اوبه راته
اوس کـه برخلیـک تـا نـه جلا کړی یم
خیـــال کـــې مې راځـــې هره شبـــه راته.

۰۳/۰۹/۲۰۱۹- کوپنهاګن

لمحې

سر يې سم
راسره ايښې
په بالښت،
نازوم يې،
د مشکينو زلفو
سکښت،
ساه چې اخلي
زه يې اورم
ترنم د هر نفس
محسوسوم يې،
په ټټر
د زړه هوس
چې ګيله يې
په شوندو
را شي،
ژبه يې زما
خوله کې
ګويا شي
په نم د عطرو

د نازک تن
لمبې کړي غلې
زما
د سوي بدن
خو...
دا مهال
زمور د کلي
له جومات نه
له کوره مرور مُلا
په لوډسپیکر کې
غاړه تازه کړي
او په لور غږ
د پښلمي
ثواب بیانوي
نو...
داسې لمحو کې
پښلمي ته
کوم ایجرا
پاڅېږي...؟
ما ځان سره ویل:
زه یې په نهره نیسم

یا کفاره ورکوم.

۱۵/۰۷/۲۰۱۵ - کوپنهاگن

د شاعر بوختيا

چا يو شاعر ته ويل:
نه ښکاري!
په څه اخته يې؟
ورته شاعر وويل:
له ګلو پاڼې ټولوم
ځان ته جانان جوړوم
ستوري خالونه،
سپوږمۍ ټيک کړم
ترې اسمان جوړوم
بيا يې وصال پسې ځورېږم
لاس مې نه ور رسي
په خيال کې ډوب شم او
د مينې يو داستان جوړوم.
۱۰/۰۶/۲۰۱۶- کوپنهاګن

نیمګړې

لا مې نشه نیمګړې
د ژوند کیسه نیمګړې
څو جامه نور هم راکه
کړه را پوره، نیمګړې

- - -

نن په وعده راغله
په نیمه شپه راغله
سره مو خواله وکړه
په پاتې شپه نیمګړې

- - -

دې را کوله مینه
لا پخېدله مینه
په زړه مو ډېر څه پاتې
هیله لا شته نیمګړې.

۲۲/۰۶/۲۰۱۷ - کوپنهاګن

عبادت

مـــا ته ټولـــه زما مينـــه عبـــادت دی
او کـرلی مې ټـول عـمـر مـحـبـت دی
تـه د کـرکې کـر کـوې او نـفـرت ریـبې
شیخه ستا خو عبادت یو تش عادت دی
ته جنت چې په وژلو ســنګســار غواړی
خـو په دغـه لار جنـت نـشتـه ذلت دی
زه جــومــات تــه د ریــا لپــاره نــه ځم
ما ورکړی خپلو خلکو ته ارزښـــت دی
خواریکښ په زړه کې هغه عشـــق پاللی
چې حســد یې بدل کړی په الـــفت دی.

۲۰۱۹/ ۰۷/ ۳۰ - کوپنهاګن

انتخاب

زه د رنګونـــو سوداګر نـــه يمه ننګ خوښوم
د بازاري عـــطرو لېوال نـــه يم لونګ خوښوم
چې يې لـه غږ سره لېنګې د غليم ولړزېـــــږي
د افغان توره او ددغه توري شرنګ خوښـــوم
چې يې هر توري کې، پېغام د محبت نغښتی وي
هغه شـاعر، هغه قلم او هم يې رنګ خوښـوم
ما د لوېديز ســپينې بربنډې په ســاحل وليدې
که د پيمخو انتخاب وي، غنمرنګ خوښـــوم.

۲۰۱۹/ ۰۸/ ۰۲- کوپنهاګن

بندېز

زړګی را مات کړي بیا پترې له رائي، نه دې رائي
هسې د مـات زړه تمـاشې لـه رائي، نه دې رائي
چارچوبې نه ده چې هر څوک دې بې اودسه راشي
شیخ بې اودس کـه مېکدې لـه رائي، نه دې رائي
دلـتـه رنـدان په زړو سپېځلي پاک پرېـولي رائي
په زړه خیـرن کـه مېخـانې لـه رائي، نه دې رائي
په وچکالۍ کې ګلبـــن پرېـــږدي او پښې سپکې کړي
بیا سمسور بن ته چې مېلې له رائي، نه دې رائي
چې په محفل کې ســـترګې ټیټې کړي او مخ واړوي
پټ او پناه چې بیا حجرې لـــه رائي، نه دې رائي
خـــواریکښ ډېـــر په ځـــنکـــدن کې پسې وکـــتـــلې
رانـــغې، بیـــا کـــه هدیرې لـــه رائي، نه دې رائي.

۱۳/۰۱/۲۰۲۰ - کوپنهاګن

د مينې جنازه

مړه شوه
له ډيره درده
تنهايي نه مړه شوه،
اول يې خپل دردونه
پټ ساتل
له رسوايي ډاريده،
چې بيماري يې
کله سخته شوه،
د عشق کيسه يې
د هغې مخ ته کيښوه،
هغې و نشوه لوستی
او د لوستو هڅه يې
هم ونکړه،
زما د مينې زاره
وچاودېده
ساه يې ورکړه،

زما تر مخ پې

جنازه پرته ده.

***

ډیر پې دردان

را ته تسل راکوي

هغه هم راغله

را نه و پې پوښتل

څنګه مړه شوه؟

لکه استاد چې

په ځواب پوه وي

شاګرد پوښتي،

خو

ما څه و نه ویل

او جناره مې

پر اوږو بار کړه،

اوس مې د مینې

جنازه لیږدوم ...

۱۳/۰۱/۲۰۲۰- کوپنهاګن

ساه اخلمه

د میـرات مـړې زندهګۍ لـپاره سـاه اخـلـمه
په اسارت کې بنده ګۍ لـپاره سـاه اخـلـمه
په بیابان کې لیـونې ځـغسـتل او دا یې ویل
لـه ښـاره تـښتم آبـادۍ لـپاره سـاه اخـلـمه
د ۷۰ حـورو د هـوس لـپاره څـوک نـه وژنم
بس تل د خپلې یوې شـهۍ لپاره سـاه اخلمه
د عیش و نوش هیڅ وړی نه یم له هوس تېر یمه
د یوې کوچنۍ غوندې خوښۍ لپاره سـاه اخلمه
په یو زړګي کې یـو دلـبـر ځـاښده و یې نیوه
د یـو صنم د خـوشـالۍ لـپاره سـاه اخـلمه
لـه بـازاري پیمخو ډک دي د یوروپ ښـارونـه
زه د پاک زړې کـونړۍ لـپاره سـاه اخـلمه.

۱۳/۱۲/۲۰۲۰- کوپنهاګن

ماته اسره

ما کـــه توبـــه خو تا وعده مـــاته کړه
د بـــاورونـــو دې نـــشـــه مـاته کړه
ستـــا د وصال لـــه امېدونـــو ډکـــه
زمـــا د هیلـــو دې پیـــالـــه ماته کړه
ستـــا د دیدن روژه نیـــولی نـــشـم
ځکـه مې نن پـه سره غرمـه مـاتـه کړه
د محـــبـــت لړۍ خـــو خـــتمه نه شوه
خیر کـه مې تـا د ژونـد اسره مـاتـه کړه
مـا مې مـات شـــوی زړګی بیـا راټول کړ
خو تـــا یې بیـــا هـــره ټـــوټـــه مـــاته کړه
د رقـیـب سر بـه دې پښـــو کې کـېـدم
کـــه مې دا ســـتا د زړه صخره ماته کړه
خواریکښ خپلـــه مینـــه نـــه هېـــروي
خیر کـــه یې تـــا د زغم کاسـه ماته کړه.

۰۸/۰۷/۲۰۱۹ - کوپنهاګن

مینه او وفا

مینه مانۍ کې نـــــه، کوډلـــــو کې ده
ښـویو[1] کې نشـتـــه په شـډلـــو کې ده
وریښـمین پوښـان پې ســینګارونه کوي
د خـــامتـــا پوښـو زړونو تلـــو کې ده
په زور او زرو چـــا تـــر لاســه نکړه
دا پر یو بل د زړه بـایلـــلـــو کې ده
په اروپا کې لـــکـــه ګل د اینځـــر
بـس د خـوبـونـو پـه لـیـدلـو کې ده
لـه دې خـبرې نـه، ډارېـږمـه چې
مـیـنـه وفـــا پـه ورکـېـدلـو کې ده
مـا د لـوېـدیز خواړو کې و نـه مونـده
کومه مزه چـــې مو ګډلو کـــې ده.

۲۰۲۰/ ۰۱/۱۷- کوپنهاګن

[1] - ښوی: لشم، لشمک

د نظر غشي

کـــــلـــــه مې له زړه ســـتا خاطره وځي
ځکـه اوســـبلي مې تـل لـه خولـه وځي
ګلې نـــورو غـــشو پـــسې. مـــه ګرځـــه
ســتا د نـــظر غـــشي- مې لـــه زړه وځي
ســتا راتلو ته ځکـــه همیش لار څـــارم
تـه چې کـور تـه راشي غـم پـه وره وځي
داسې اور د ظـــلم مې وطـــن ســوزي
ګـــواکې چې لمبې لـــه تـــنـــاره وځي
چـا چې خواریکښ تـه مینـــــه ورکړلـه
هغـــه مې لـــه زړه هیڅکلـــه نه وځي.

۰۳/۰۲/۲۰۲۰- کوپنهاګن

جګړه او مینه

جګړې ته اړ شـومه خو مینه په رضـــا کومه
کــه جګړه نــه وي محبت بــه خامخــا کومه
جګړو کې کرکــه را ټوکېږي دوښـــمنۍ زېږوي
په محـــبـــت کې بــه ستـــاینه د ښــکلا کومه
تر څو مې وس وي تل به کر د محبت کومه
خــړوبــول د کــرونــدو پې پــه وفــا کــومه
په زړه خیرن شیخ به زمور مینــه گنــاه بلــله
غمــاز به ورک شي بیا بــه مینـــه برملا کومه
مینه مې مالگه د ژوندون ده پیکه ژوند نه کوم
خونـــدور ژوند د نمکي یار پـــه سلا کـــومه.

۰۳/۲۰۲۰ / ۱۶-کوپنهاگن

نادان زړګی

لکـه توتي لـه مـاليدو سـره، شکـرې غـواړي
نادان زړګی مې په موســکا د يار خبرې غواړي
چې د لـنـډۍ په تـرنم يې پـارول بـه زړونـه
له هغـه مستۍ نـه چمبې سره سندرې غواړي
چې يې د قـــاف لـــه ښاپيرېو نه ښکلا زياته وه
بيـا د راسـا په گـودرو هغـه دلـبـرې غـواړي
ما په ښاري جانـان گورګورې د کونـړ وخوړې
اوس خو د ژمي په موسم رانه گورګورې غواړي
بېـوفـا يار لکـه چارواکي کار بې بـډو نکـړي
پخپل راتګ زمـا د اوښکـو مرغلـرې غـواړي.

۲۲/۱۰/۲۰۲۰-کوپنهاګن

توبه توبه

قـــهر که مغـــموم شـولو؟ توبه توبه
اغـــزن لکه زقـــوم شـولو توبه توبه
مـاتـه يې وعـده کړه د غمـاز پـه خولـه
څنګه يار مســموم شـــولو توبه توبه
نــن يې څــو پســـتې خــبرې وکــړلې
کـانې زړه يې موم شـــولو توبـه توبـه
ټيـټ سر وي ولاړ د يرغلګر مخ تـه
غوســه بيا په مظلوم شـــولو توبه توبه
ولې يې له تېرو نه پند وانـــخيســت
هر قدم يې شــوم[1] شــولـــو توبه توبه.

۲۰۲۰ /۰۳/ ۰۱- کوپنهاګن

[1] بدبختي زېږونکی

دنیا

لا مې د مور غېږه توده ده زړه مې نـه ترې کېږي
دوعا يې هر وخت راسره ده زړه مې نه ترې کېږي
مـا زړه ورکـړی دی په مینـه دې هم مینـه راکړه
میرمن زما د پت شـملـــه ده زړه مې نه ترې کېږي
هم مې د لـونـو هم زامـنو په الـفت خـړوب یم
له دوی سره دنیا خوږه ده زړه مې نه ترې کېږي
لمسي رامـــنډې کړي راغـــارې شي بـــابـــا ووايي
د ستر ځښتن ښکلې تحفه ده زړه مې نه ترې کېږي
خوښندې او ورونه مې ونشول لیدی مه راځه اوس
د دوی لیدل مې تلوســـه ده زړه مې نه ترې کېږي
چې له یارانـــو سره ناست یمه بې میـــو مست یم
بیا جنـــتي هره لمحـــه ده زړه مې نه ترې کېـــږي
خوار شې مرګیه! لا مې چـارې دي نیمګړې پاتې
لا د قـلم نـوکـه لـمده ده زړه مې نه ترې کېږي.

۱۹ /۰۳/۲۰۲۰ - کوپنهاګن

د مينې کر

راشـــه پـه دې خـاوره مـيـنـه وکـرو
زه او تـــه بـــه ياره ميـــنـــه وکرو
بـن او کـرونـده مـو جـګړو وســولـه
اوس بـــه پـــه شـــوديارە مينه وکرو
ورکـه دوښـــمني، جګړه بـه بنـده کړو
بيـــا بـــه څـــو څـــو واره مينه وکرو
ميـــنـــه کې جفا لکـــه د ګل اغزي
مـــور بـــه بې لـــه خـــاره مينه وکرو
مينه عبادت دی پـــه بـــل چـــا نـــشي.
راشـــــه بې رويـــبـــاره مينه وکرو
نوی کـال بـه پيـل پـه محبـت کـانـدو
اوس بـــــه ســـم د واره مينـه وکرو.

۰۱/۰۱/۲۰۲۱- کوپنهاګن

اوخار گل

لـه نرگســو سره مـل يې د رخســار گل
ښــکارېـــــده په مهرويانو کې نگار گل
دلتــه بـن کې رنـگـارنـک گلـونــه ډېر دي
پکې نشـــــتـــــه ښـکلی مخ لکه د يار گل
د وطن متــاع لــه هر څه نه بــهــتــر ده
د نارنج لـــه گلـــه نشتـــه بل اوخـــار گل
گلان مړاوي شي د ژمي پـه مـوســـم کې
همېشــه وي تل ســمسـوره نـــنگرهار گل
کـــه دلـــبـــر مې اراده د راتگ وکـــړه
هر قدم ته به يې ږدم په ټولـــــه لار گل.

۰۵/۰۲/۲۰۲۱- کوپنهاگن

راټپه شه

یاره! راټپه شـــه چې ســـندرو ته مې زړه شـــوی
ښې را باندې لګې ســـتا خبرو ته مې زړه شـــوی
تل د یارانې خبرې ســـتا لـــــه خولګې خوند کوي
ټول درته غوږ غوږ یمه شـــکرو ته مې زړه شـــوی
تـــه چې پـــه خنـــدا شې مرغلرې ګـــل کې ووینم
وخانـــده چې ســـیـــل د مرغـــلـــرو ته مې زړه شوی
زه بـــه درته ګـــورم ته مې ولـــه پـــه ښکاري نـــظـــر
هسې ـــ د نظر جګړې بې زغرو ته مې زړه شـــوی
سم د ټټارۍ کوخه کې ژوند دی، دا د ښار ژوندون
ځم د کونـــړ غرونـــو ته نـــښتـــرو ته مې زړه شوی
زه به درته ځانګې راځنډمه ته یې خوره په خوند
شـونډو په رنګ تورو د ګورګورو ته مې زړه شـوی.

۰۲/۰۲/۲۰۲۱- کوپنهاګن

ماټې به توپې کړم ...

مـاټې بـه تـوپې کـړم، خـو چې تـه راشې
ډکې بـه پـيـالې کـړم، خـو چې تـه راشې
جام په جام بـــه، هره لمحه مستـــه کړم
مســـتې بـه نشې ــ کړم، خو چې تـه راشې
ټولـــــه شـــپه دې ياد سره مشـــغول يمه
تـازه بـه خـاطرې کړم، خو چې تـه راشې
ژونـــد د پردېـــسې دی، لـــه دوزخ بـــدتر
دا شـــې به خورې کړم، خو چې ته راشې
ســتـــا تانـــده ځواني بـــه د کابل په ياد
نقش پـه ســـينې کړم، خو چې تـه راشې
ما ته دې د مينې ســـتا وروســـتی غږ بـــه
مطلع د قصـــيدې کړم، خو چې تـه راشې
سر مې هيڅ زوروا‌ک ته کله ټيټ نکـــــړ
عشق ته به سجدې کړم، خو چې ته راشې.

۰۲/۰۵/۲۰۲۱ - کوپنهاګن

ځواني‌مرګې هیلې

ډک جام راولوروه، ژوند بل جام ته نه رسېږي
دا ځوانیمرګې هیلې، هیڅ انـــجام ته نه رسـېږي
چې سـپورمۍ سر وهي ماښـام، لار به دې څارمه نن
په دې حالاتـــو کې، ژوند بـــل ماښام ته نه رسېږي
د وطن ښکلیـــو ته مې ډک کړ، لـــه ګلـــپاڼو څـــادر
څادر مې اور واخیسـت یوه هم ګلفام ته نه رسـېږي
یا به مې خپله خودخواهي وي، یا د یار کم مهري
چې یار ته «س» لیکم قـــلم ســـلام ته نه رسېږي
د جانان خیال کې دومره غرق دی خواریکښ خوارکی
وتی ترې نـــه شي، خیال یې هم اتمام ته نه رسېږي.

۲۹/۰۷/۲۰۲۱- کوپنهاګن

عبادات

زه چې خپلـــــه مینه ســـتایم مناجات دي
بې ریا مینـــو کې، نـــغـــښتي کرامات دي
که دین مینه، مینه دین وي، نو شک نشته
چې لـــه عشقه پرته هر مذهب چټیات دي
چې د زړه په لاس راوړل حـــج اکـــبـــر دی
نـــو گـــنـــه چې پاکې میـــنې عـــبـــادات دي
بلهاري او صـــداقت پایښـــت د عشـــق وي
دغه دواړه د رښـــتین مئین صـــفات دي
د غـــلیم نـــرمې خـــبـــرې زهـــرجـــنې
د شـــهې لـــــه خولې کنځلې قند نبات دي
چې دلبر سره خلوت وي د تـــاک لور وي
لـــه دې پرته هر څه پښې دي او زیات دي.

۲۴/۰۸/۲۰۲۱-کوپنهاگن

پړاوونه

له ډبـــر خمـــاره د مستۍ پـــړاو ته ورسېدم
ایلـــه بیلـــه د ببـــخـــودۍ پـــړاو ته ورسېدم
په نادانۍ کې آسـوده وم او هوښـیار له هر چا
په پـــوهبـــدو د نـــاپـــوهۍ پـــړاو ته ورسېدم
د عـــشق مرشد مې د وفـــا په طریقه ونیوه
لـه مریـدۍ نېغ د پیرۍ پړاو تـه ورســـېدم
د محبت او د وفـــا لاره مې نـــده پـــرېـــښې
که په دې لار د بربادۍ پړاو ته ورســـېدم
دا ستا له مینې مې تر اوسه مالامال دی زړګی
که څه هم اوس خو د پیرۍ پړاو ته ورسېدم.

۲۰۲۱ /۰۸/۱۵- کوپنهاګن

ټپو لېونې کړې یم

نـــــن د چا کـــــتـــــو لیونی کړی یم
بـیـا د زړه دردو لـیـونی کـړی یـم
هغې کلیـــــوالې ســـنـدربـــــولې زه
ســـم دم پـه ټپـــــو لیونی کړی یم
غـږ د چـمـبـه مـارو د چـمـبـو راځي
نـجـونـو پـه چـمـبـو لـیـونی کـړی یـم
یار له لـــــونګین سره راغـــــاړیـــــوت
ځکـه خـو خـوشـــبـو لـیـونی کړی یم
لا مې د سرو شـــونـډو مزه خولـه کې ده
سرو شـــونـډو پســـتو لیونی کړی یم.

۱۳/۰۶/۲۰۲۱- کوپنهاګن

میخانه

شور د مینې وي ماښـــام په میخـــانه کې
کړنګ د جام غږ د ګلفام په میخانه کې
تـــقـــدس یې د رنـــدانـــو په بنـــډار دی
ځای هیڅ نشـــتـــه د بدنام په میخانه کې
د جـنت د شرابـونـــو خیال کې ډوب شو
شېخ چې و څښلـــو یو جام په میخانه کې
د ریـــا او ریـــب په مـــخ یې ور تـــړلی
د شیطـان نـشـته دی دام په میخانه کې
دلـــتـــه رند د رښتیانې مینې سمبول دی
دی مجنون د عشـق امـام په میخانه کې.

۱۸/۱۰/۲۰۲۱ - کوپنهاګن

ژوند پې جامه نه تېرېږي

يو جام راولـــــوروه، ژوند پې جامـــــه نه تېرېږي
خـــواږه راوګـــوره، پې ستا لـــه پامـــه نه تېرېږي
د ماښـامـــونـــو په راتګ دې روږدی شـوی يمه
نن خو مې ورځ هم پې تا، تر ماښـــامه نه تېرېږي
سپوږمۍ چې کړنګ وهي، مزل کوي له غرو پناه شي
چې ستـــا تر بام راشي، نـــو پې سلامـــه نه تېرېږي
ما په ځوانۍ کې، د خوبانـــو زړونه ډېـــر ساتلي
ځـــکـــه مې اوس وختونه، پې ګلـفامـــه نه تېرېږي
خواريکښ ګونګـــه روژه ونيـــسي چې نـــه وايي څه
خـــو د ظـــالـــم په وړانـــدې پې کلامـــه نه تېرېږي.

۲۹/۰۷/۲۰۲۱- کوپنهاګن

د سمندر پري

شـــاوې باوې راغلـــــه ږنګه بنګه شـــوه
مـاوی ګونـدې غږږه کې را ږنګـه شـــوه
تيـــو يې لـــه ريتم سره ټـــوپـــونه کړل
ســـــاز شـو او نڅـــا رڼا کمرنګـــه شـوه
جام په جام يې دومره مســـتي زياته شـــوه
ما وې چې راپرې ځانګـــه له بنګـــه شوه
ژبـــه ترټړې خـــو مينـــه نـــاکـــه شـــوه
ځومره چې خوږه هومره ګلرنګـه شـــوه
ســـترګې يې نرګس او شـــونډې سره ګلان
يـــاده د وطـــن مې غـــنـــمـــرنګـــه شوه
زبـــرمـــه د توبـــو مې خـــلاصه شـــوې وه
څه هم حوصلـــه که مې څـــه تنګه شوه
ســـترګې يې اخـــتيـــاره ور اوښـــتې وې
ښـــه شـــوه ګناه تږه مې له څنګه شـــوه.

۲۶/۰۹/۲۰۲۱- کوپنهاګن

د زړه آرام

ساقي لـــه جام سره سلام راکړه د سرو شونډو
سخـــاوت وکړه لږ انعام راکړه د سرو شوندو
بلـها مـوده وشوه، لـه یاده دې ایستـلی یمه
ما در په یادکړه، یو پیغام راکړه د سرو شونډو
ستـــا د خوږو خبرو هر لـــفظ د زړه آرام وو
لږ مې هوسـا کړه او کلام راکړه د سرو شـونډو
دا اوږدمهالې مینه نیمه لار کې مـــــه پریږده
راته د مینې نور اســهام راکړه د سرو شــونډو
بیلتون ځپلې خواریکښ په کمـه نـدی قـانع
راته خواږه یې ټول تمام راکړه د سرو شـونډو.

۲۰۲۱ / ۱۰/۲۳- کوپنهاګن

ځواني دې ړنګه مه شه!

لکه چینار ځواني دې ړنګـــــه مه شـــه
د زړه هـــــنداره دې بـــدرنګـــه مه شـه
چې د يـــــارانـــــو ديـــــدن کېـــــږي پکې
مازيګري دې هيڅ بې بنګـــــه مه شـــه
د درخـانې د مـيـنې راز پې چـېـــــــړي
د ادم خـان رباب بې ټنګـــــه مه شـــه
ګودر په نجونـــــو ښـايسـته ښـکارېږي
وسـتـــــل د ژڼـــــو مو بې ننګـــــه مه شـه
زړه بـه مې ټـول درتـه لـمـن کې کـېـدم
خو بې خندا مې تېر لـــــه څنګه مه شـــه.

۰۶/۱۱/۲۰۲۱- کوپنهاګن

د عشق درمل

شـــوندې را عســـل ته مې زړه شـــوی دی
ځببښـــم يې درمل ته مې زړه شـــوی دی
ډېر لـــه پردیـــس ژوند ستومانـــه شوي يم
خوب ســـتا د ځنګل ته مې زړه شـــوی دی
ستـــا د انـــنـــګـــــو لـــه تـــاوه وســـومـــه
ســـيوري د وربـل تـه مې زړه شـــوی دی
څو جامه مې وشښـل خمار مات نـــــشـــو
ډک راکړه، يو بـل تـه مې زړه شـــوی دی
ځمـه چې يې درد پخپـل تن حس کړمـه
خپـــــل ټپي کابـــــل ته مې زړه شـــوی دی
سکالـــــو د جـــانـــــان او د وطن چې وي
لیـــــکـــــم پې غزل ته مې زړه شـــوی دی.

۱۱/۱۲/۲۰۲۱- کوپنهاګن

انستيزي[1]

چې د عشـق په ېې ریا رنـــگـــونو رنګ یم
د لـــولۍ دنیا لـــه هـــر هـــوس په څنګ یم
پت پالـــــل په محبت کې مې دســـتور دی
له مجنون سره په مینه کې همســـنګ یم
د نـــظـــر غـــشـــو ته اوبـــه د بنګـــو ورکړي
په یـــوه ګوزار ېې زه نـــشـــــه په بنګ یم
ستـــا د زلـــفـــو د وړمـــو انـــســـتیـــزي وه
چې ببهوښـــــه دې پـــه غېږه کې درڼنګ یم
د ټټـــر خوشبو دې هـــسې احســـاس راکړ
لکـــــه ګـــــډ چې په باغچه کې د لونګ یم
چې د سر په بلـــــهارۍ هم جانـــــان غواړم
خواریکښ خو تل د عشق په هغه منګ یم.

۲۰۲۱/ ۲۲/۱۲ - کوپنهاګن

[1] طبی ببهوښي

د عشق رانجه

نه کینـــه لـــرم نه کرکـــه شـم لیدلی
ما د عشـق رانجـــه وهلي دي په سـترګو
د تعصـب لـــه هر خیرن رنګ نه بېزار یم
تور او ســپین راته ښـاغلي دي په ســترګو
هغـه لاس چې د یتیم اوښـــکې کړي پاکې
له پاک زړه نه مې ښکل کړي دي په سترګو
د پېمـــخـــو د ادا پـــه رمـــز آګاه یـــم
ما پې ټول نـــازونـــه وړي دي په سـترګو
د شـــهید لالي وروســتۍ نښې ـ پې وروړې
ځوانې کوندې پې مُښـــلي دي په ســـترګو
نن کمکي یتیم د پلار انځور چې ښـــکل کړ
خواریکښ هم ډبـــر ژړلي دي په سترګـــو.

۱۷/۰۷/۲۰۲۱ - کوپنهاګن

د زړه ښکلا

له خیرنــو زړونــو پــاک بــه کلی ښار کړم
سل شیخان به لـه یوه مستـه نه ځار کړم
چې ونه وایي مســـتان له خدای منکر دي
میخـــانـــه به د کعبې منځ کې اعمار کړم
ما خالــونه د صنم شــمیرل پــه گــوتــو
په تســپو یې اوس د ماتو ژمنو شــمار کړم
چې په مینه کې له مال و ســر تــېر نــشي
د هـــــوس په تېرو څنگ به اعتبار کړم؟
ډارن نـه یم چې لـه مینې بـه لاس واخلم
هیڅ پروا نه د دورو نه د ســنگســار کړم
له ریـــا او ریـــاکـــارو لـــرم کـــرکـــه
غواړم ببلـــــه خپلـــــه لار له ریاکار کړم
خواریکښ د ســینگـارونو لیوال نـه یم
چې د زړه ښــکلا لري هغـــــه به یار کړم.

۱۰/۱۲/۲۰۲۱- کوپنهاگن

خپل نه شو

زړه مې ورتـــــه ورکړ خو لا خپل نه شـــو
څنګ تـه د پردي ځي زما مـل نـه شـــو
مـا يې تهمتـــــونه په ځان واخيســـتل
شـو لـــو د رقيب زمـــا تـــسل نه شـــو
بـن چې مـو د دښـو اختـيـار کې ورکړ نـو
تنکي نيـالګي را ريبي يو پې ګـل نـه شـــو
کـــوم پمن پې ول د زلـــفـــو پرانيسته؟
زلـــفې يې ګـــنجې شـولې کاکل نه شـــو
ورور خواريکښ وســـاتـه د زړه تـل کې
پوه هيڅ په ارزښـــت د زړه د تل نه شـــو.

۱۳/۰۴/۲۰۱۷- کوپنهاګن

ټپونه

دا زمـا پـه زړه ټـپـونـه ټـول د عـشـق دي
په هر ټپ مې را زرغون غاټول د عشق دي
د زړه داغ مې د لالـــه د داغ په څېـــر دي
دواړه داغـه بـرابـر په تـول د عـشـق دي
ســـره ګـــلان مې درلېـــږلي نـــنـــواټي
دا ګلان زمـــا او ستا سمبول د عشق دي
صداقت او وفـــا مينـــه کانـــدي ښکلې
دغه دواړه ډېر اړين پســول د عشــق دي.

۲۰۲۰ /۰۴/۱۶- کوپنهاګن

انسانیت

که انســـان يې د ببوزلو زړونه واخلـــــه
بکور[1] مـــــه ګرځوه سره لالونه واخله
محبت او ســـياســـت نه سره جوړيږي
که مئين يې له ســياســت لاســونه واخله
خواريکښـــه! که دې زړه په کوچې بايلود
شنه غمي مه غواړه شنه خالـــونه واخله.

۱۶/۰۴/۲۰۲۰- کوپنهاګن

[1] بکور: هغه ډبره چې بلې ډبرې سره له جنګولو يې د اور سپرغې تولیدیږي.

مینه مې کړې...

مینه مې کړې څـــه ګنـــاه خـــو نه ده
پـه چـا مې کـړې زور تـادا[1] خـو نـه ده
پر ممبـــــر ولې د خولې ځـک بـادوې
کړې ده ما شیخـــه څـــه تا خـــو نه ده
هر څوک د عشـــق په لارو تلـــلی نشي.
پر انګار تګ دی څـــه نځـــا خـــو نه ده
چې ژمنـــــه وکړي او عمل پې نکـــــړي
زړه ماتـــول دی څـــه وفـــا خـــو نه ده
شـــکلې بلهـا دي د مجنون شـــا و خوا
خـو یوه پې هم پـه زړه لیلا خو نـه ده
چې مختـــــه راشي مخ کړي پټ په پلو
دا ځـــــورول، نـــاز او ادا خـــو نـــه ده.

۰۹/۰۱/۲۰۲۰- کوپنهاګن

[1] تادا: تعدی، ستم کول، زورزیاتی کول

نه راځي

بېرته دځوانۍ هغه شپې نه راځي
زړه کې د مستۍ تلوسې نه راځي
مست لکه راسا ډکه له شوره وې
ولې د خندا دې څپې نه راځي؟
تا په هر قدم کې به لونګ پاشل
اوس هغه د زلفو وړمې نه راځي
ستا له ډېره کبره چې ناهیلی کړ
ځکه ستا ملنګ تر کوڅې نه راځي
هسې سرکښي دې عادت شوې ده
نور دې په خوله هم «نه» او«نې» نه راځي
اوس دې قرنطین نوې پلمه شوله
نورې دې په خیال کې پلمې نه راځي؟
هسې په خیالونو کې را وګرځي
ستا د وصالونو لمحې نه راځي
سر نه تېرېدل راته آسانه دي
مینې نه په خوله مې توپې نه راځي
دېو ده د جانان پر غاړه پښه ایښې
ځکه آزاد غږ یې له خولې نه راځي.

۱۹/۰۶/۲۰۲۰- کوپنهاګن

پوښتنه

له ما يې وپوښتل
مئين يې که نه؟
ومې ويل هو،
له چا يې نه پټوم
مئين يم
مئين
په بې ريا آشنا
او
په رښتينې وينا
هو، مئين يم
مئين
په محبت او وفا
مئين په هره ښکلا
او
د شهۍ په موسکا
د سترګو په وينا

مئین یم

په بیوزله بینوا

مئین یم

مئین

د یتیم په خندا

د غوټۍ په سپړېدا

مئین یم

د خزان

د پاڼړېژ په نڅا

مئین یم

مئین

د لمر په ځلا

د تاک لور سره

په خلوت کې

د سپوږمۍ په رڼا

د صنم په مشغولا

مئین یم.....

ربښتین مئین...

۱۰/۰۱/۲۰۲۲- کوپنهاګن

مئین یم

ښـــه په زغرده باندې وایم چې مئین یم
لار مې مینـه کار مې مینـه پـدې دین یم
هر انسـان ته د انسـان ارزښـت قـایل یم
له هر رنګه تعصب پاک یمه او سپین یم
د هر چا دین او باور پې خپـلــه خوښــه
زه پــه مینــه بـاوري یـمه رښـتیـن یم
تا ته لاسرسی ســخت، پې له تا ناشــونی
ژوند ځکه پیکه دی، زه ځکه غمین یم.

۲۰۲۲ /۰۱/ ۱۲- کوپنهاګن

ژوند

ژوند ښایسته دی خو جانان تر هغه ډېر
کشمیر ښکلی دی پغمان تر هغه ډېر
غم عذاب دي ښکاره نښې د دوزخ
دوزخ بد دی خو هجران تر هغه ډېر
نه د بل وژل ثواب لري نه خپل
جنت ښه دی خو انسان تر هغه ډېر
که دې ځان او کالي پاک ساتې خو ښه
ځان دې پاک کړه خو وجدان تر هغه ډېر
ځینې ځینې چې د واک په پار خپل وژني
واک که ښه دی خپل خپلوان تر هغه ډېر
خواریکښ د هر ملت نیکمرغي غواړم
بل که ښه دی خو افغان تر هغه ډېر
خدایه، ژغوره مې د نورو له احتیاج
بل به ښه وي خو خپل ځان تر هغه ډېر.

۱۳/۰۱/۲۰۲۲- کوپنهاګن

فنکاره

ژبـــه چې يې هـــر ځلـــه انـــکار کوي
ســترګې يې د زړه پـــــه امـــــر کار کوي
ښـــه پـــه ځيـــر را وګـــوري بيـــا ورپې
څـــه نخرې کـــتـــو کې د فـــنکار کوي
پورتـه کړي پيکې خپل، په پوکي باندې
دا ادا يې نېـــغـــه زړه تـــه لار کـــوي
دا کـــه نـــه، نـــه، وايې پـــروا نـــکـــوي
هـــر نـــظـــر يې بـــيـــلا بيـــل اقـــرار کـــوي
شونـــډو يې پـــه شونډو داسې داغ راکـــړ
دومـــره تـــاو خو خـــدايږو کـــه انګار کوي.

۱۴/۰۱/۲۰۲۲- کوپنهاګن

ماته توبه

ما له اوږده خماره وروســـته بیا توبه ماته کړه
په سرکو شـــوندو مې ماښـــام خپله روژه ماته کړه
د عشـــق شراب ســـاقي د ســـترګو کټورو کې راکړل
هسې ـ ببخود شـــوم چې د صـــبر مې کاســـه ماته کړه
یاد د یار کیناســـت اعتکاف کې الهام هم نه راځي
د شعـــر مینـــه خـــو مې نـــن په یوه ټـــپـــه ماته کړه
د دیـــدنـــونـــو جـــل وهـــلی بیـــلـــتـــون ســـوی ومـــه
د وصـــال تـــــنده مې د یار په تـــــش وعده ماته کړه
مـــا ســـتـــا لپـــاره پـــه زړګې کې ؤ محـــل جوړ کړی
تـــا په جـــفـــا ددې محل هـــره شیشـــه ماته کړه
خواریکښ ډېر ترخه نن څښل چې دې جفا هېره کړي
جفا دې زور شوه د ترخو پې هم نـــشـــه ماته کړه.

۰۸/۰۶/۲۰۱۸- کوپنهاګن

کتاب خبرې

ســـتا په ســـترګو کې کتاب کتاب خبرې
هره یوه مطلع د عشـــق د یوې ســـندرې
په غـــماز چې مې خـــبـــرې بـــدې لګي
کارغه څـــه خبر لـــه خونده د شکـــرې
پکې شـــتـــه کیسې د بـــنـــدو ښاپـــریو
دې ـــــو بېتابه شي چې وینې شـــوخ نظرې
خوږ نـــظر دې مبشر ستـــا د وصال دی
شـــوې پیدا مې زړه کې هیلې ســـمندرې
پـــرښـــتې د معرفت بند شوې تیـــارو کې
نور د لمر لـــه ښـــاره نـــه رائې کـــوترې
د شاهین په سیمه راج شو د کـــونګانـــو
کوچېدلـــو ته اړ شوي اوس تـــنـــځرې
کـه پیلوزې د کمـال او جمـال نـه وي
بې رنـــا بـــه محلـــونـــه شي کـــنـــډرې.

۲۰۲۲ /۰۹/-۱۰ کوپنهاګن

د محبت نشتون

بنجاره توکي دې وېسه بند دي دلـــته سينګارونه
ښار ديـوانـو بـرمتـه کړ، ويـشي کرکې نـفرتـونه
د بنګړو شرنګا حرام ده، دی خطر د شيخ ايمان ته
بنګړيوالې بنګړي مات کړه، راوړه دلـته حجـابونه
دلـــته تود نفرت بازار دی، مينه سراسر تاوان دی
څو دې وس رسي راوړه يې، ډک له کرکې جوالونه
دلـته داسې ليوان ګرځي، چې په وينـو نـه مړيږي
تور يې زړونه تېز غاښونه، سره په وينو شوندګونه
دلـته هر عمل روا دی، خـــو په ږيره او قـبـا کې
د انـــسـان وژل حلال دي، ورسره وايي تکبيرونه
د فـتنې تخمـونه پاشي، د شيطان همدا پيشه ده
ده جګـړه د بـاورونو، بـاروت راوړه او بـمـونـه
که انسان له لوړې مري هم، باچا وايي دا په جهر
د روزې کار زمور ندی، خدای ته وکړئ فريادونه.

۰۵/۱۰/۲۰۲۲- کوپنهاګن

که مینه نه وي...

چې آدم خـان زړه ورکوه، وه دُرخو[1] کې مینـه
داستان د مینې شي که وي کله، دوه زړو کې مینه
رښتـینې مینـه خـامخـا، زړونـو ته لار پرانیـزي
د ژوندون لاره کړي روښـانه تورو شـپو کې مینه
له زړه بـه وځي کـه بـدلـه په هـوس شي مینه
آخر به لـــولي خلک، یـــوازې کتابـــو کې مینه
مینـــه وفـــا ده او ساتل دي د معـــشوق د زړګي
هم پت پالـــل دي وي اکـــثره پښتـــنو کې مینه
که مینه نه وي نو د ژوند به هم کیفیت نه وي
مینـه معیـار د سړیتوب دی وي سړو کې مینـه.

۰۱/۰۱/۲۰۲۳- کوپنهاګن

[1] درخو: درخانۍ

دُعا

ربـــــه! د ښـــتيـــــا لاره را وښـــايه
مـــــاتـــــه د وفـــــا لاره را وښـــــــايه
مـــــا لـــــه شـــيطاني هوســـو وســـاته
عشـــق کې بې ريـا لاره را وښـــايـه
مينـــــه پـه خيرنـــــو زړونو نـه کيږي
مـــاته ښـــه صـفـــا لاره راوښـايـــه
زه د شـتـــمنيـــو مجنـــون نـــه يمه
مـــا تـــه د ليـــلا لاره را وښـــــايه
شـــيخ لـه دې دنيا دوزخ جوړ کړی دی
مـــاتـــه د عـــقـــبـــا لاره را وښـايه
لاره خو لـــه مورِ نـــه مُلا ورکـــه کړه
مـــورِ تـــه يو ځل بـــيا لاره را وښـايه.

۲۰۲۳ /۰۱/۰۱ -کوپنهاګن

مینه عبادت دی

هر ژوندي لـــــه خامخا مرګ راروان دی
چـا لـیـدلی ابـدي ژونـد د انـســان دی؟
ډېر پدې ســفر دي تللي لـــــه مورِ مخکې
تــل روان مــو په همدغــه لار کاروان دی
نــو لــه زړه کرکــه بهر او مینــه ځای کړئ
دا جهان له عشــق پیدا په عشــق ودان دی
څـــوک چې مینـــه ناروا بولي هغه خـــو
یا جاهل او یا ســکه ورور د شـــیطان دی
خواریکښ غواړمه ژونـد په مینـه تېر کړم
مـا ته مینــه عــبـادت مـینــه ایمـان دی.

۰۵/۰۶/۲۰۲۳- کوپنهاګن

د افغان زېب

هغـه غږ رابـانـدې ډېر ډېر خوږ لګېږي
چې مې نـوم د يـار لـه نـوم سره يـادېږي
څنګ په څنګ زمونږ نومونه داسې ښـــکلي
لکه «ل» لـــــه«الف لام» سره ښـکارېږي
چې مې يـار تـه مخـامخ شـــم رنـا اخلم
لدې ښـــکلي مخ مې ژوند روښـــانه کېږي
د وطن پـه غېږ کې هسې هوســـا کېږم
لـکـه طـفـل د مـور غـېږ کې آرامـېږي
لکه زېب چې د افغان افغانســـتان دی
هومره يـار لـــــه خواريکښ سره زېبېږي.

۲۰۲۳/۰۷/۰۵- کوپنهاګن

دم اوبه

يـار لـه مې د زړه د نرمېـدو، اوبـه دم کړې دي
ځـان لـه مې د مينې زيـاتېـدو اوبـه دم کړې دي
درده سره روږدی يم، بې درده بيـدېـدی نشـــم
مـا پـه هـمـدردانـو، د دردو اوبـه دم کـړې دي
اور د مور لمن تـه، وار وار خپلو بچو واچـوه
بـيـا يې د "وژلـو" پـه پـردو اوبـه دم کـړې دي
واوښـــته خمار مې حد له تندې نه تر جل رسي
ځکـه مې د ســـلـو ميکـدو اوبـه دم کړې دي
غم د بيلتانه دې خواريکښ ته دومره تريخ دی چې
نـن يې زغـم لـپـاره د تـرخـو اوبـه دم کـړې دي.

۲۰۲۳/۰۷/۰۶-کوپنهاګن

حد

مســـتې پـه خـنـدا کې ببـخي حـد کـړی
نـن يې پـه شـــکلا کې ببـخي حـد کـړی
څـنـگـه يې پـښکی پـه پـوکي پـورتـه کـړ؟
دا خـو يې ادا کې بـبـخي حـد کـړی
غـاښ پـه شـــونډه کښکاړي او ومـوســکي
بيـا يې پـه موســکا کې بيخي حـد کړی
ورور تـه يې دســتمال راوړ خور پاڅېده
نـن يې پـه نڅـــــا کې ببـخي حـد کـړی
درز چـمـبې لـه ورکي او بـيـا تـاوه شي
دې نـجـلۍ ورا کې بـبـخي حـد کـړی
کړس يې د قهقـه چې لـه مهـالـت راځي
بيـا يې هـم خـنـدا کې ببـخي حـد کـړی.

۱۸/۰۷/۲۰۲۳-کوپنهاګن

د شونډو څکه

هـــــسې سـاکښ دی زنـــده ګي نـــلري
د مـــيـــنې داغ چې پـــــــه زړګي نلري
ســـاقی لـه جـام سره موســکېږه راتـه
د تريـــو تـــنـــدي شراب مسـتي نلري
ورپسې ځکـــه کـــه لـــه شـونډو راکړې
ســـاری بـــه دا نـــشـــه بـــېـــخي نلري
د ربښتـيـــن يـار تـرخـه خـبره د پـنـد
درمل دی خير کـــه شـيـــريـــني نلري
پـــه مـخامخ ټـيـــټـال پې مـه تېروئـه
غـــوړه مـال هـيـځکلـه دوسـتي نلري.

۲۰/۰۱/۲۰۲۴ -کوپنهاګن

که مینه بغاوت وي...

هو، کـه مینـه بغـاوت وي زه د دار یم
چې له سر و ماله تېر د عشـــق په لار یم
ســـتا لـه پـامـه چې غورځېږمـه ورکېږم
ســـتا په یو نظر هوســـا یمه سرشـــار یم
بختور دي چې ســـتا زړه تـه لري لاره
تـا پسې ـــ لیوني شـــوي یم بیمـار یم
بې لـه تـا هـره لـمـحـه مې دوزخي وي
ســـتا ترڅنګ د جنتیانو سرســـالار یم
د تګ مه وایه چې ســـاه مې درسره ځي
که ته نه وې زه په مړو کې شـــمار یم.

۱۲/۱۰/۲۰۲۳ -کوپنهاګن

توپير؟

که يار تر څنګه، جام په لاس کې نه وي
نو د سپرلي او خزان څه توپير وي؟
صنم ته ګورم، لمر په ځمکه وينم
وايه! د ځمکې ،آسمان څه توپير وي؟
چې يار دې وژني د غليم په فتوا
بيا د دوښمن او جانان څه توپير وي؟
چې يې عمل د اسلام نوم بدوي
نو د کافر، مسلمان څه توپير وي؟
که د وطن مينه[1] ونه لري څوک
بيا د ده او بې ايمان څه توپير وي؟.

۱۵/۰۱/۲۰۲۴ -کوپنهاګن

[1] حب‌الوطن من‌الايمان

سلیقه

زنـــه مې گـــردۍ خوښه، زلـــفې مې اوږدې خوښې
ســترګې د شــهلا نرګس، شــوندې مې تودې خوښې
مینه که په زړه کې وي، هیڅ انســـان بدرنګ ندی
کلکه مې وعده خوښـــه، خبرې مې پســـتې خوښې
را چې رنګـه بنګـه شي، پو کړي پـه پوکې پیکی
دا د کـــرشـــمو نوښـــت، دغه مې نخرې خوښې
رنګارنګ ګلان بن کـــــې، زیاته کړي ښـــکلا د باغ
ښـه اېسي۔ تاجکه مـــــې، دي مې پښـتنې خوښې
څه چې وي د یار له لاس، خوند د محبت لري
ته چې یې شیروار شاربې، ځکه مې شوملې خوښې.

۰۵/۰۲/۲۰۲۴-کوپنهاګن

د ژوند تصور

تصـــور د ژونـد ېې مينې راتـه ګران دی
ښـــايســـته په محبت ژوند د انســـان دی
ښـــايســـتونو کې تصـــوير د دلبر ښـــکاري
د عارف له ســـترګو هر ښـــکلی جانان دی
و عـاشـــق تـه د رنګونـو تـوپير نـه وي
جوړ په مينه خارســـتان نه ګلســـتان دی
تـر څـو پـايـم هـر نـفـس کې راسره دی
عشـــق ېې ګډ زما پـه وينـه کې روان دی
چې ليـدی ېې ظـاهر بينې ســـترګې نـه شي
حقيقـت د زړګي ســـترګو تـه عيـان دی
لـه هر چا تمه کول ځـان تېرايســـتل دي
د جانان په شتون کې هر مشکل آسان دی.

۱۱/۰۷/۲۰۲۴-کوپنهاګن

گوزاره

زنده‌ګي ښـــکلې وه، په مينه ګوزاره کېده
د يار له ما، زما له يار د عشـــق اسره کېده
زړونه رڼه لکه زمزم، له چټلې پاک وو
په پاکه مينه کې زمونږه تل ابره[1] کېده
هغې په غشـــو د نظر ما به په ګل ويشـــته
کله نـاکله مو ترمنځ خوږه جګړه کېده
ناشکري نه وه خو د ژوند کول اسان نه و
کله برخليک کله روزګار نه مو ګيله کېده
له هغه ځای مې تل څارله د شـــهۍ لاره
له کومه ځايه د سـپورۍ چې نظاره کېده.

۱۸/۰۷/۲۰۲۴-کوپنهاګن

[1] ابره: ګټه، سود، فايده

خُمار

د تن هـــــر رګ کې مې خـــــمار ګرځي
راسره څنـګ کې چې دلـــــــدار ګرځي
يـا يې رويبـــــــار او يـا مې يـار رادرومي
ډکې مې چـای کې نـــــاکـــــرار ګرځي
د کليمې غونـــــدې مې يـــــاده وي تل
هـمېش مې خـيـال کې چې نـګـار ګرځي
د کابـــل جـــان په حال دردېـــږم ځکـــه
چې په ګلـــــبڼ کې يې اغـــــيـــــار ګرځي
هيڅ د نـسيـه جـنـت آرمـان نه کوم
ستـــا په پېـــرزو راســـره يـــار ګرځي.

۲۲/۰۶/۲۰۲۴-کوپنهاګن

غزلګې

زه عـــشـــق لـــه پېدا يم تـــه ازار لره کنه
ته ځه چارچوبې تـــــه زه ديدار لره کنه
تخم د الـــفت کرم دا مې فـــنکـــاري ده
مه جوړوه ستونـــزې ما فـــنکـــار لره کنه
ما بـــــه پې بورجل ته رنړا راوړه لـــــه لمره
شـيـــخ اغزي راوړل بـــه زما لار لره کنه
مه شـــمېره ټپونه د بدن مې ســـتا له لاس
تا ټـــپې کـــړم خـــوښې د اغيـــار لـــره کنه.

۰۸/۱۰/۲۰۲۲- کوپنهاګن

څلوريزې

پلار

چې قـوت مې د زړګي او تـاج د سر و
پرې ډاډمن وم تل تر شـــا مې لکه غر و
په ټول عمر يې د ژونـــد لار راښـــودلـــه
هم مې يـار و هم مې پلار او هم يـاور و.

څلوريزه

که مې يار سره خلوت کولی نـــــشـــم
لـــــــه يادو يې هم بـهـر وتـلی نـشم
که هر څو يې راته مينه شـــوه ناشـــونې
خو بيا هم يې له زړګي ايســـتلی نشـــم.

څلوريزه

چې نصيب مې د ميګونو شونډو جام شو
نو واټن مې لـه جنت سره يو ګام شـــو
چې رقيـب مې د حبيـب څېره کې راغی
خواريکښ ځکه غافل له انتـــقام شـو.

سړه مېخانه

روژه راغـــلـــه مېخانه سړه پـــړه شـــوه
درنـدانو د بـانـډار ډيوه هم مړه شـــوه
ساقي نن مې ښه خړوب لکه خيام کړه
چې مې تنده تر اختره هم اوږده شـــوه.

معجزه

دا د مینې معجزه نـه ده نو څـه ده؟
چې د یـار ســـترګو کې واړه جهـان ګورم
چې راسره یـــــي ژوند زما په مراد څرخي
چې خپه وي په تنګسه کې مې ځان ګورم.

یو اړخیز واټ

که ته مې نه یادوې ســـتا خوښـــه ده
زه دې له یاده هیڅ ایســـتلی نـــــشـــم
مـیـنـه مـزل پـه یـو اړخـیزه واټ دی
تر تـا پرې راغلم بېرتـه تللی نشـــم.

روژه

روژه راغلـه مېخـانې تـه نور تلی نشـــم
بانډارونو کـــــې رندان هم لیدی نشـــم
ســـاقي نن مې کړه خړوب دومره پـه میو
له مسـتۍ ، چـــــې تر اختر پاڅېدی نشـم.

یاران

په ټول ژونـد یې د زړګي کور کې ســـاتلي
خواریکښ چې کوم یـاران انتخـاب کړي
چې په کار یې بلـــــهاري زمـــــا د سر وه
ما ترې مال او سر هیڅ نه دي ســـپمولي.

توښه

د يار مينـــه مې توښـــه د قيـــامت ده
له صـــنم نـــــه مې هم هيله د الفت ده
زړه ورکومـــه مينـــه غواړم له جانـــانـــه
چې د هر ايين ښـــکلا پـه محبـت ده.

خبره

«ويـل شـــوې وينـا خولې تـه نـه راګرځي»
هـوښـــيـاران ړومبی کړي فکـر بـيـا خـبره
پس له فکره يې په خولـــه کـــې لړه تم کړه
ترخـــه ژبـــه ســـړی وژنې بې خنـــجـــره.

ميره خبره

کـه په لاس کې يې ټوپک او جبب کې زر وي
ورپـــــسې د غـوړه مـــــالـو بـه لښکر وي
لا لـــــه خولې بـــــه يې خبره وتې نـه وي
خـوځـولی ورتـه دوی د تـائـيـد سر وي.

د فلک ناروا

سړي چـاتـه نـه ټيټيږي پې لـه ښـــکلـو
هـيـڅ مې تـنـده نـه مـاتـيږي پې لـه مـلـو
پـــر مـــور هـــــسې نـــاروا فـــلک روا کړي
کـه يې وايـم چـا تـه نـه دي د مـنـلـو.

ننني هنداري

بدرنګ ناروغ وي خو، هنداره ورته روغ وايي
ټګـــي هنداري دي ، رښتيا ته چـــې دروغ وايي
کـه روغ پېمخې پې هم ، کلـه مخ تـه ودرېږي
بدرنګ پې ښـــيي له هر چا ، ورته ناروغ وايي.

لمسي

چې لمـــــسی مې غېږتـــــه راشي او حـــبيب شي
د دنـــيا خـــواږه مـــې واړه په نـــصيـــب شي
راته خـاندي په خوږه مينه مې مســـت کړي
لکـــه مـــست سړی پـــه بنګو يا حليب[1] شي.

ځوانيمرګې هيلې

ډک جام راولوروه ، ژوند بل جام ته نه رســـېږي
زمـــا نيمګړې هيلـــې، هيڅ انجام ته نه رسـېږي
چې سپورمۍ سر وهي ماښام، لار به دې خارمه نن
دم غنيمت ګـــنه، ژوند بل ماښام ته نه رسـېږي.

ژوند

چېرتـــــه چـــــې څو يـاران خواږه شـــته
تر څنګ يې څو جـــــامـــــه ترخه شـــته
ژونـد لـــــــه خـوږو او تـرخـو جـوړ دی
چې دواړه وي وايـه هر څـــــه شـتـــــه.

[1] د خرما شراب، تازه لوښل شوې شېدې

کلکسیون

درته بـه وایي د خـیـالـونـو شهـزاده مې تـه پې
چې تامئین کړي، بیا د نورو شکار ته یون جوړوي
ته به زړه ورکړې دا به خپل په یخ ګوګل کې ساتي
د دې مهال شکلې له زړونو کلکسیون جوړوي.

کاڼو کې اوبه

هغـــه وخـــت چـــې تـــا را پـــســـې وژړل
و مې لـیـدې کـاڼـو نـه اوبـه راتـلـــــــې
اوس هـم لا هـمـاغـه ځـای تـه ګـل وړمـه
چـیرتـه چې بـه هـر مـازیـګـر تـه راتـلې.

شهی

جـام پـه لاس وازې تنې راغلـه مـاښـــام
ړنګه بنګه په مســتۍ راغلـــــه ماښـــام
توره شـــپه زمور مالت کې رنا ورځ شـــوه
چې تر څنګه مـــې شهی راغلـــه ماښام.

د لاس خواړه

دا د لاس خواړه دې څنګه ډېر خواږه دي؟
چې په مینه مالګه شـــوي که نور څه دي؟
کـه د یار لـه لاســه جام کې اوبـه هم وي
په مستۍ کې لـــه شرابـــو نه هم ښه دي.

نفرتونه

سر کې يې نــفرتــونه او ږيرو کې ټــالونه دي
زانګي شيطانان په کې دوکې دي فرېبونه دي
وربېي تنکې ګلان، ويې سوزي تاوده شي پې
مخامخ دوزخ ته ځي خيال کې جنتونه دي.

د يار غم

خـدايه! ما د يـار لـه غمـه بې غم نکړې
ژوند مې واخله خو چې ما بې صنم نکړې
ډلې ډلې غمــازان تــرې صــدقــه شــه
د يار يو ويښته لــه زلفو نــه کم نکړې.

فردونه

۱

که چا په ټنډه شـوی لـــوسـتی د چا د زړه خبرې
ډېرو به نه کړلې هـــــیڅوخت پخپله خوله خبرې

۲

د چړو پـه څوکـــــو مســـت چې را روان دی
یـا مین دی یـا څوک ژونـد نـه پښـــهمـان دی

۳

د زړه حـرم کې مې ځـای ورکـړ حـرمـدار نشـــو
ټول ژونـد مې مینـه ورکولـه خو دلـــــدار نشـــو

۴

کړنې یې ښې وڅارئ ، وروسته ورتـــه غـــور ونیسئ
شـیخ الحدیث شـیخ فـــانې شـو ، اوس اپلټې وایې

۵

که د جنت وعده ور نکړې شـیخ اودس هم نکړي
د یو لمانځه بدل کـــې خوب د ۷۰ حـــورو ویـــني

۶

زړه زما ځیلي ماشوم دی، په هر وخت کې راته ژاړي
صبروم یې له جانانه ، خو دې بیا هم جانان غواړي

۷

پرون ما تـه نڅېدلـــــه، دا چې نن تـا سره نـاڅي
دا دنـیـا لـکـه د ډمې ، هـره ورځ چـا سره نـاڅي

٨

چې ګلفام ساقي د جام ست ورته وکړ
ملا واړه د ریا توبې کړې ماتې

٩

ادم زاد یم د ادم عادت لرمه
په ښکاره ګناه کومه منکر نه یم

١٠

په نظر چې کله راشي خوار دردمن
له لېمو مې اوښکې څاڅي په لمن

١١

څه مستي وه ستا د سترګو په پیالو کې
چې له یو ګوته ټول عمر لېونی شوم

١٢

زړه مې ورکړ ما ګڼل چې عشق اسان دی
خبر نه وم له توپان چې را روان دی

١٣

هسې یار لرم چې هجر کې مې سوزي
ځوروي مې او په زجر کې مې سوزي

١٤

لا دې انځور د تیر یادونو ګرځوم تر اوسه
لا دې په مینه کې خپل سر قربانوم تر اوسه

۱۵

ســـتا پـه يـو نظر د ســـترګو مې تســـل شې
دښـــکـلا لـه بـن دې يـو نـرګـس ډالۍ را

۱۶

د وطـن پـه يـاد يـــــې پـورتـه کـړئ يـارانـو
چې هـم ځـان دی هـم ايـمـان او هـم جـانـان

۱۷

يار له خواړونه ډډه وکړه ويل يې څښـــاک راکړه
لـه خواړو مخکې مې عـادت دی د انـارو زوښـــا

۱۸

هـــــسې بـــل ملامت بـــولي چې پـــه زيـــان شي
ځـــان لـــه خپلـــه لاســـه وژني افغـــانـــان

۱۹

د هـغـه خـبره مـيره ده، چې زر لـري او زور
که دا دوه درسره نه وي، غلی کېنه په خپل کور

۲۰

پـــردېـــــــسۍ مې پـــــټه مـــــينه را رسـوا کړه
کـــه نـــه زه او پـــه جـــانان پـــسې ژړل څـــوک

۲۱

يو زړه دی د مهال له پښـــو بچ به مې ســـاته
دا هم يو چـا پـه مينـه کې ټپي کړ او ځورېږي

۲۲

بیا ماښـــام شـــو بیا دې خیال را سره مېلمه دی
زه کـــــوربـــــه یم ســتا وصــال را سره مېلمه دی

۲۳

لاس د دوســتۍ راکړه او پتنه له زړه نه ورکه کړه
مینه که کــړی نــشې، خــو کینه له زړه نه ورکه کړه

۲٤

ستا له لومړۍ بوسې له تاو مې لا تودې دي شونډې
ګبین دشونډو دې ورپورې دي خوږې دي شونډې

۲۵

ځنډوې چـــې تل د نـــن وعـــدې ســـبـــا ته
څو چـــــې ســـتا ســـبا راځي ژوندی به نه یم

۲٦

د زړه د تسـل تاج مـــې نن بیمار به بسـتر پرېوت
زما ژوند دهغې شـــه له دوعا پې محروم نشـــم

۲۷

که د ښــکلیو دام کې بند شـــوې نو غږ باســـه
چوپه خولـــــه بـه د ښــکاري لـه یـاده ووځې

۲۸

دلــتــه وزن د خــبرې او جــبــب یــو دی
کــه جــبــبــونــه دې خــالي وي مــه ګــړېــږه

۲۹

د زړه درد بیانـــــومـــــه چې ثنا شي
ســـتا په یاد مې د زړګي خونه رنا شي

۳۰

زه به شـــمع شـــمه مخ کې به یې ســـوزم
کـه افـغـان مې لـه رنـا نـه ګـټـه واخـلي

۳۱

ځان مې شـــمـه کړ او مخ تـه یې ســـوزیږم
اشرار کونـک دی لـه رنـا سره دوښـــمني کا

۳۲

که په چـا بـدې لـګي مخ تـه دې پلـو ونیـسي
زه خو مې خپلې ستړګې جیب کې ګرزولی نشم

۳۳

که په چا بدې لګي غوږ کې دې پومبه و ټومبي
زما په ژبه له ربښـتـیـا نه بل څه نه جـوړیـږي

۳٤

زه د زړه له غمه ژاړم دی زما له غمه ژاړي
چې له چا یـــې صبرومه بیا هماغه رانه غواړي

۳۵

ما وی څښـــو به یـــــې ګلبن کـــــې زه او یار
مـا چې جـام څو ډکولو ســـپرلی تېر شـــو

٣٦

زه به مینه شـــم د عشـــق نغمه به سر کړم
ویـده زړونو تـه بـه شـــور و جنون ور کړم

٣٧

چې لـه خپـل ولس سره چـا غـداري کړې
غورځولی يې هغـه ټولواک لـه تخـت بيـا

٣٨

چې ګلفام ســـاقي د جام ســـت ورته وکړ
مـــلا واړه د ريـــا تـــوبې کـــړې مـــاتې

٣٩

دعمرو توبـــه بـــه بيا کړم يو ځل ماتـــه
کـه ګلفام ســـاقی د جام ســـت راته وکړ

٤٠

زمـور چې مـيـنـه لـه حـد ووتـلـه
اوازه هـم لـه سرحـد ووتـلـه

٤١

چې پرې خپـل دلبر خونـدي کړم لـه نظره
ســپېلنو پر ځـای بـه ځـان ورتـه لوګی کړم

٤٢

چې لـــه بد نـــظر خوندي کړمـــه جانان
سـپېلني نشـــته لوګـــی به کړم ترې ځان

٤٣
زه یو څاڅکی محبت یم ، د کینې په سمندر کې
د نفرت خلاف خپړیږم، په جومات، چرچ و مندر کې
٤٤
دلته د عشق شمال لګېږي، مینه سپرۍ ګلان
دلته کونړ کې هر زړګی دی، مالامال له مینې
٤٥
دلته چې څوک راغلي زړونه یې همدلته پرېښي
ما خو د زړونو ننداړتون نن په کونړ کې ولید
٤٦
په کوښښ او په تدبیر کله بلېږي
اور د مینې همېشه خپله لګېږي
٤٧
مینه له پولو او پنجرو تېرېږي
مئینان عشق کې له سرو تېرېږي
٤٨
نه په زورکېږي نه دسوال کاردی
مینه د زړونود وصال کاردی



https://rahparcham١.org/